د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د تفسیر او حدیث د ماسترۍ پروګرام

# په احادیثو کې د ښځو اړوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونې

د ماسترۍ رساله

محصله: نفیسه جلیلي
لارښود استاد: شکر الله (مخلص)

کال: ۱۴۰۲ هـ ش

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معنیت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د تفسیر او حدیث د ماسترۍ پروګرام

# په احادیثو کې د ښځو اړوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونې

## د ماسترۍ رساله

محصله: نفیسه جلیلي

لارښود استاذ : شکر الله ( مخلص)

کال : ۱۴۰۲ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

سلام پوهنتون

علمي معاونيت

د فوق ليسانس برنامو آمريت

د شرعيات اوقانون پوهنځی

# تـــصـــديـــق پـــــانـــــه

اغلي نفيسه د محمد نعيم لور د ID: SH-MST-s1400-824 نمبر لرونکی، د تفسير او حديث د اوومي دورې محصله د ماستری مرحلې رساله چې عنوان يې: په احاديثو کې د ښځو په اړوند د رسول الله صلی الله عليه وسلم لارښوونې، د پنجشنبې ورځ په ۲۴/ ۱۲/ ۱۴۰۲هـ ل نېټه يې په برياليتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۳ (نمرو په عدد) دري لوي (نمرو په حروفو) مستحق وګرځېده، له الله تعالی څخه ورته د لازياتي بريا غوښتونکي يو.

د حکم پلاوي غړي :

| شماره | داستاذ نوم | غړيتوب | لاسليک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور اصحاب الله اواب | دحکم پلاوي غړی | |
| ۲ | دکتور رحمت الله زاهد | د حکم پلاوي غړی | |
| ۳ | استاد شکرالله مخلص | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

د فوق ليسانس برنامو آمر.................................... علمي مرستيال ....................................

## ډالۍ

په ډېر وياړ سره خپله دغه ليکنه خپل محترم او ګران پلار جان ته ډالۍ کوم چې په هر ډګر کې يې راسره بې دريغه هڅه کړې او ماته يې د هر ډول ستونزو لار آسانه او حل کړې.

او خپلې ګرانې مور ته يې نذرانه کوم چې د غيرۍ له روزنتون څخه تر پوهنتون دورې يې زما هر اړخيز لاسنيوى کړې.

او خپل دواړه طرفه جليلي او شفيق کورنيو ته يې وړاندې کوم چې راسره يې له هر ډول مرستې دريغ ندى کړى، او د شرعي علومو په زده کړې کې يې تل زما ملاتړى کړې.

او د سلام پوهنتون ادارې او بالخصوص د ماسترۍ دورې استاذانو ته يې ډالۍ کوم چې مونږ سره يې په دغه کاروان کې ډېر زيارونه ويستلي دي.

**مننليک**

په لومړی سر کې د الله متعال شکر او حمد اداء کوم چې زه يې د شرعی علومو په زده کړه ونازولم.

او بیا يې دومره وياړ راوبښلو تر څو په دغه رساله کې دنبی (صلی الله علیه وسلم) ځینی لارښوونی تفصیلی وڅیړم او الله متعال څخه غواړم تر څو زما دغه لیکنه يې د رضا سبب او د اسلامی ټولنی لپاره د خدمت یو وسیله وګرځيږي.

په دوهم پړوا کې مننه کوم د سلام پوهنتون د محترمی اداری او استاذانو څخه چې شپه او ورځ د دی ټولنی د روزنی او پالنی لپاره هڅی کوی. او بیا مننه کوم له خپل مهربان او لارښود استاد شکرالله مخلص څخه چې په ډیر ورین تندی يې زما د څیړنی اشراف او لارښوونه منلی ده، او له خپلو علمي او منهجی لارښوونو څخه يې برخمنه کړم.

او همدارنګه د خپل مور او پلار او کورنۍ څخه مننه کوم چې تل يې علمی ډګر ته هڅولی او هر ډول ستونزی یی په دی لاره کې راسره زغملی، الله متعال دې د دوی په عمرونو کې برکت واچوي.

او په آخر کې یو ځل بیا مننه کوم د خپلو مشفقو استادانو او دوستانو څخه چې تل يې ما ته نیکی لارښوونی کړی، الله متعال دی ورته د دغه نیکو لارښوونو او مرستو بدله له خپل دربار څخه ورکړی.

په درنښت

نفیسه جلیلی

## خلاصه او نچوړ

لکه څرنگه چی په اسلام مبارك دین کې دښځو او سړیو حقوق برابر دي. نو په همدی لړی کې چې کومی لارښوونې او مسؤلیتونه نبی صلی الله علیه وسلم ښځو ته او یاپه سړیو باندی یې ښځو ته په گوته کړی ما په دې رساله کی بیان کړي چی همدا لارښوونی او هدایات می دحدیثو له صحیحو کتابونو څخه راخیستی دي او بیامی دهغې تفصیل ،احکام او فوائد له معتمدو شروحو څخه بیان کړی دي.

ترڅو هغه نیوکی چې داسلام په مبارك دین دښځو په هکله کیږي چې گوندی اسلام ښځو ته پاملرنه نده کړی دا انتقادات په صحیحو احادیثو سره رد او داثابته کړم چی اسلام یوائینی دین دی چی دښځو بشپړ حقوق او هغوی ته یی دژوند په هره برخه کی جلا لارښوونی درلودلی.

دموضوع داختیارولو وجه می هم همداوه ترڅو دنبی صلی الله علیه وسلم ټول هدایات او وصایا چې دښځو په اړه ول به یوځای راټول شی او داوسنیو شرایطو او احوالو په رڼا کی یی تفسیر او تحلیل وشی او بیا په پښتو ژبه ولیکل شی.

ددې لیکنی لپاره می له استقرائی توصیفی او تحلیلی اسلوب څخه په کار اخیستلو سره دغه موضوع په مقدمه تمهید او دریو فصلونو ویشلی ده . چی په مقدمه کی دموضوع پیژندنه، دانتخاب لاملونه ، اهمیت، اهداف، منهج او خطه ذکر کړی او په تمهید کی می دوصیت او لارښوونې معنی ،مفهوم سره درسول الله دوصیتونو اهمیت او اهداف ذکر کړی او په لومړی فصل کی می درسول الله هغه لارښوونې چې ښځو ته دخپل ځان په اړه وی ذکر کړی او په دوهم فصل کی هغه لارښوونې چې ښخو ته دخاوند په اړه وی بیان او په دریم کی می هغه لارښوونی چی سړیو ته دښځو په اړه شوی وی ذکر کړی او په پای کی خاتمه او نتایج بیان کړي دي .

زه په دې لیکنه کی  دې نتیجی ته ورسیدم چی اسلام مبارک دین دښځو او سړیو حقوق برابر کړی. او دژوند په هر پړاو کی چی څرنگه سړیو ته لاربښوونې شوی که هغه دعقایدو په ډگر کی وی که  اخلاقی  یا اجتماعی وي ښځو ته هم اسلام خپلی جلا لاربښوونې درلودلی . اوسره له دی اسلام د ښځو  دشرف او عزت ساتلو په باب سړیو باندی هم حقوق لازمی کړي دي.

## د موضوعاتو فهرست

**موضوع** **مخ**


سريزه ........................................ 1
د موضوع پيژندنه او ارزښت ........................................ 2
د انتخاب لاملونه ........................................ 4
د څېړنې مخينه ........................................ 4
د څېړنې پوښتنې ........................................ 4
دڅيړنې اهداف ........................................ 4
دڅيړنې منهج او تګلاره ........................................ 5
دڅيړنې پلان او خطه ........................................ 5
تمهيد ........................................ 8
لومړی مطلب: دوصيت او لارښوونې معنا او مفهوم ........................................ 8
په اصطلاح کې د وصيت بېلابېل تعريفونه شوي دي: ........................................ 9
دوهم مطلب: درسول الله صلی الله عليه وسلم د وصيتونو اهميت ........................................ 10
دريم مطلب: درسول الله دوصيتونو اهداف ........................................ 11
لومړی فصل ........................................ 15
ښځې ته د خپل ځان په اړه لارښوونې ........................................ 15
لومړی مبحث: ښځو ته ددوی د ځان په اړه امرونه کول ........................................ 15
لومړی مطلب: صدقه کول ........................................ 16
دوهم مطلب: په دين کی پوهاوی ........................................ 19
دريم مطلب: په تکليفونو او خپګانونو باندی صبر ........................................ 20
څلورم مطلب: دښځو عورت او حجاب ........................................ 24
دويم مبحث: ښځو ته د ځان په اړه نواهي کول ........................................ 29
لومړی مطلب: دنارينه وو په شان ځان جوړول ........................................ 30
دوهم مطلب: د مړي له کبله زينت پرېښودل ........................................ 33
دريم مطلب: ښځې لپاره دجنازې پسې تګ ........................................ 34

څلورم مطلب: دښځي لپاره يوازې سفر کول ........................................ 35
پنځم مطلب: ښکنځلې او پوچې خبرې کول ........................................ 37
شپږم مطلب: دښځي لپاره سر خريل ........................................ 38
اووم مطلب: د ښځي لپاره سر تورول ........................................ 40
اتم مطلب: له خپل کور څخه بهر جامې ويستل ........................................ 42
نهم مطلب: له کوره بهر خوشبوی لګول ........................................ 44
لسم مطلب: عورت پټول ........................................ 47
يوولسم مطلب: نامناسبه جامه اغوستل ........................................ 50
دولسم مطلب: له اجنبی نارينه سره اختلاط او مجلس........................................ 54
ديارلسم مطلب: له اجنبی نارينه سره خلوت ........................................ 57
څوارلسم مطلب: له خاوند څخه طلاق غوښتنه ........................................ 58
پنځلسم مطلب: په تقدير ناراضتيا او پر مړی ژړا او انګولا ........................................ 60
شپاړسم مطلب: د پردی ښځی عورت ته نه کتنه ........................................ 63
اوولسم مطلب: د پردۍ ښځې محاسن نه ستايل ........................................ 64
اتلسم مطلب: دالله په مخلوقاتو لعنت نه ويل ........................................ 64
دويم فصل ........................................ 67
ښځې ته دخپل خاوند په اړه لارښوونې ........................................ 67
لومړی مبحث: هغه امور چې ښځو ته پرې امر شوی دی........................................ 67
لومړی مطلب: دخاوند پالنه او اطاعت ........................................ 67
دويم مطلب: دخاوند د امانتونو ساتنه ........................................ 71
دريم مطلب: دخاوند له کوره صدقه کول ........................................ 72
څلورم مطلب: خاوند باندې صدقه کول ........................................ 75
دويم مبحث: نواهي ........................................ 78
لومړی مطلب: خاوند ته زيان او اذيت نه رسول ........................................ 78
دويم مطلب: دخاوند له اجازی پرته له کوره بهر نه وتل........................................ 79
دريم مطلب: د خاوند له مباشرت څخه ډډه نه کول ........................................ 87
څلورم مطلب: دخاوند له اجازی پرته نفلی روژه نيول ........................................ 88
دريم فصل ........................................ 91

**نارینه ته د ښځو په اړه لارښوونې ............................................ 91**
**لومړی مطلب: ښځی سره ښه چلند.............................................................. 91**
**دریم مطلب: دښځو ترمنځ دتعدد پرمهال عدالت ............................................ 97**
**څلورم مطلب: دښځو دعواطفو او احساساتو رعایت.......................................... 100**
**پنځم مطلب: دښځو سره نیکی.............................................................. 105**
**شپږم مطلب: دښځې نفقه او اړتیاوو پوره کول.............................................. 108**
**پایله................................................................................. 113**
**وراندیزونه ........................................................................... 114**
**د آیتونو لړلیک ....................................................................... 115**
**د احادیثو لړلیک....................................................................... 117**
**د اعلامو لړ لیک ...................................................................... 123**
**مصادر او مراجع ...................................................................... 124**

## سریزه

الحمد لله رب العالمین، و الصلاة و السلام علی سید الانبیاء و المرسلین، محمد و علی آله و أصحابه اجمعین.

قال الله تبارك وتعالى: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13] ژباړه: ای خلکو ! مونږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې نه پیدا کړئ او بیا مو تاسې قومونه او قبیلې وګرځولئ ترڅوچې تاسې یو تر بله سره وپیژنئ په حقیقت کښې د الله په نزد له تاسې نه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسې کښې ترټولو زیات پرهیزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهیدونکی او باخبره دی. و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: فَاسْتَوْصُوا بالنِّساءِ)(1)ژباړه: تاسې له ښځو سره ښه چلند کوئ.

اما بعد:

د الله جل جلاله استازی نبي کریم صلی الله علیه و سلم د الله جل جلاله له لوري د انسانانو د لارښوونې لپاره په ټولو استازو کې تر ټولو وروستی استازی رالیږلی دی،هغه د الله جل جلاله له حکم سره سم د اسلام د مبارك دین ټول احکام انسانانو ته بیان کړي دي، د هرچا حقوق یې ور وښودل د اسلام په مبارك دین کې د هر انسان حقوق ښکاره او څرګند دي، حتی چې د حیواناتو حقوق هم په کې بیان شوي دي لکه د ښځو حقوق، ماشومانو او والدینو حقوق، د مشرانو حقوق د استاد او معلم حقوق، حتی د کافر ګاونډي حقوق هم په کې په ګوته شوي دي، په ځانګړې توګه د ښځو د حقوقو په اړه په کتاب الله کې یو ځانګړی سورة د( النساء) سورت په نوم نازل شوی دی، د اسلام دین تر راتلو د مخه پر ښځو ډېر ظلمونه کیدل، ان تر دې چې ځینو ښځې له انسانیت څخه ویستلې وې او ځینې نورو یې ژوندۍ د خاورو لاندې کولې.

---

1- صحیح البخاري، بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِهِ، ج4/ ص 133، حدیث شمیره: 331, صحیح مسلم في الرضاع باب الوصیة بالنساء رقم 1468 ج۲/ ص ۱۰۹۱، دا حدیث مُتَّفَقٌ عَلَيهِ دی.

له بلې خوا په اوس وخت کې غربیانو او د هغوی هم فکره وګړو داسې قوانین وضع کړل، چې ښځه په کې د یوې (نانځکې) حیثیت لري، ځکه دوی د ښځې او سړي په ټولنیزو کارونو کې دا غلطي وکړه، چې ښځه یې له سړیو سره په یو قطار کې ودروله او کوم کارونه یې چې ورسره وکړل او کوي یې چې یو کامل عقل څښتن یې له ویلو ډډه کوي، په دې سره یې د هغې د عزت ژوند چې په کور کې یې درلود هغه یې ترې واخیست.

اسلامي شریعت کې چې څرنګه د هرچا لپاره حقوق ورکړل شوي دغسې د هر چا لپاره مسؤلیتونه هم په ګوته شوي دي دا چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ښځو لپاره څه لارښوونې درلودې په دې رساله کې به وڅېړل شي.

**د موضوع پیژندنه او ارزښت**

په اسلام کی ښځې د سړو سره برابر حقوق لری ځکه دواړه انسانان دي؛ نو په انساني حقوقو کی دواړه سره برابر دی په دی هکله الله تعالی فرمائي:{يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ } [النساء: 1].

ژباړه: ای خلکو له خپل هغه رب نه ووېرېږئ چې هغه تاسې له یو تن څخه پیدا کړئ.

په پورته ذکر شوي ایت کی الله تعالی د دی خبری اعلان کړی دی چی په ټولنیز ژوند کی ښځه سپکه او بې مقصده هستي نه ده، ځکه د کوم نفس نه چی نارینه پیدا شوی دی له همغه نفس څخه ښځه هم پیدا شوې ده لکه څرنګه چی نارینه د ټولنی یو مهم رکن دی همدارنګه ښځه هم ده، د انسانی ټولنې او معاشرې وجود بقاء اوتسلسل په دواړو پورې تړل شوی دی یو پر بل بهتري نه لري چې د یو وجود مهم او بل غیر مهم شي خو د دواړو استعدادونه صلاحیتونه او پیدایشي ځانګړتیاوې سره فرق کوي خو ددې فرق سره هم یو پر بل د انسانیت له حیثه بهتري نه لري بلکې هر یو باید د خپلو ځانګړتیاو او صلاحیتونو قدر دانی وکړی او کوم ذات چې دغه صلاحیتونه او ځانګړتیاوې ورکړي دي د هغه ذات شکر اداکړي او اطاعت یې وکړی او هریو د خپلو ځانګړتیاو او صلاحیتونو په برخه کې د ټولنی او معاشرې لپاره کار وکړي.

هر کله چی ښځه او نارینه ځانته پیدا یشي ځانګړتیاوې اوصلاحیتونه لري نو د ټولنیز ژوند په کومه برخه کې چې دواړه ځانګړتیاوې او استعدادونه فرق کوي په همغه برخه کې ئې حقوق او واجبات هم فرق کوي او په کومه برخه کې ئې چې ځانګړتیاوې او استعدادونه فرق نه کوي؛ نو حقوق او واجبات یې هم برابر دي.

د ښځې د حقوقو په موضوع کې تل افراط او تفریط شوی دی، د جاهلیت په زمانه کې دومره کمی ورسره کېده چې ښځې یې ژوندۍ خښولې، خو په اوسنۍ د جاهلیت دور کې دومره افراط ورسره کیږي چې عزت او آبرو یې له مینځه تللې، د یوې نانځکې حیثیت لري، د ګټې وټې یوه آله یې ګرزولې ده.

په اسلام کې د ښځو د حقوقو موضوع تر دومره حده پورې له فطري حقائقو څخه ډکه او د عدل او انصاف له حیثه د اندازې واضح او روښانه ده، چې په غیر مسلمو ټولنو کې د کومو خلکو چې دغه د ښځو حقوقو موضوع ته پام شوی او د هغه یې د پوهې په نېت تر مطالعې لاندې نیولې د هغوی لپاه د ایمان او ابدي سعادت په طرف دګام اوچتولو سبب شوی؛ خو په ډېرو اسلامي هیوادونو کې د دې خبرې برعکس هغه ځوانان، خویندې او ورونه، چې ځان ورته عصري ښکاري د اغیارو د زهرجنو تبلیغاتو ښکار شوي دي، څرنګه چې کفري نړۍ غواړي، چې د دوی په شان مسلمانان هم د فحشا په جال کې ګېر شي او ډول ډول بې شمېره او بې علاجه امراض په اسلامي ټولنو کې هم خپاره شي او بې شمېره هغه ماشومان چې نسب یې معلوم نه وي او د سرپرست د نه لرلو له امله د ډېرو بدو اعمالو عاملین ګرځي په ټولنه کې راپیدا شي؛ خو همدا د اسلام مبارك دین دی، چې اعلان یې وکړ، چې ښځه انسان دی او د هغې ژوند یې تامین کړ.

په دې اساس دا موضوع خورا ارزښتمنه ده چې ښځو ته د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونې وخېړل شي، ترڅو د افراط او تفریط مخه ونیول شي.

**د انتخاب لاملونه**

په اوسني عصر کې د ښځو حقوق د مطبوعاتو او سیاسي کشمکشو یو شعار ګرځېدلی دی، چې بېلابېلو طریقو سوء استفاده ترې کېږي؛ همدارنګه په ځینو امورو کې ښځې هم کوتاهي کوي چې د دنیا او اخرت له زیان سره مخ کیږي.

بله دا چې داسې یوې موضوع ته ضرورت دی وو چې په هغې کې یواځې د ښځینه قشر لپاره د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونې بیان شوي وي.

**د څېړنې مخینه**

په دې اړه اګر که په عربي او نورو ژبو کې ګڼې څېړنې شوي او ډېر کتابونه لیکل شوي لکه: (من وصایا الرسول للنساء) د محمود المصري لیکنه یا (من وصایا الرسول للنساء) د محمد خلیل لیکنه او داسې نورې. خو له هغو سره زما د څېړنې توپیر په دې کې دی چې زما څېړنه په ملي ژبې پښتو سره ده او زمونږ ډېری هېوادوال په عربي او نورو ژبو نه پوهیږي چې کولی شي له دې څخه په اسانه استفاده ترې وکړي.

**د څېړنې پوښتنې**

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د لاندې پوښتنو لپاره ځوابونه وموندل شي:

اصلي پوښتنه:

ایا په نبوي احادیثو کې د ښځو لپاره څه ځانګړې لارښوونې شته؟

فرعي پوښتنې:

۱- په نبوي احادیثو کې ښځو ته د خپل ځان په اړه کومې لارښوونې شوي؟

۲- په نبوي احادیثو کې ښځو ته د خپل خاوند په اړه کومې لارښوونې شوي؟

۳- په نبوي احادیثو کې نارینه و ته د خپلو ښځو په اړه کومې لارښوونې شوي؟

**دڅېړنې اهداف**

۱- ښځو ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ځانګړې لارښوونې څېړل.

۲- ښځو ته د خپل ځان او خاوند په اړه د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونې بیانول.

۳- نارینه و ته د دوی د ښځو په اړه د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونې بیانول.

**دڅېړنې منهج او تګلاره**

زما د څېړنې منهج کتابتوني او وصفي منهج دی، ما د خپلې دې لیکنې په لیکلو کې له باوري او معتمدو ماخذونو استفاده کړی، هره وینا مې خپل ویونکي ته منسوبه کړې ده، کوښښ مې کړی، چې د موضوع په اړه صحیح احادیث رانقل کړم، هڅه مې کړې چې احادیث له صحیحینو او په هغو کې د نه موجودیت له امله یې له نورو معتمدو مأخذونو رانقل کړم،د ایتونو ژباړه مې د تفهیم القران پښتو ژباړې څخه رانقل کړې، او د احادیثو شرحې مې له معتمدو شرحو کومې چې داحادیثو کتابونوړ په اړه لیکل شوي رانقل کړي دي.

لومړی د موضوع په اړه حدیث رانقل شوی، بیا مې ژباړه کړې، ورپیسې مې شرح او بیا چې په حدیث کې دښځو لپاره څه لارښوونې وي، هغه مې په ترتیب سره رانقل کړي دي.

**دڅېړنې پلان او خطه**

زما د څېړنې لنډه خطه او پلان په لاندې ډول دی:

دا بحث مشتمل په مقدمه، تمهید، درې فصلونه او خاتمه دي

چې مقدمه کې :

دموضوع پیژندنه او ارزښت

دانتخاب لاملونه

دڅېړنی پوښتنی اهمیت

دڅېړنی اهداف

دڅېړنی منهج او تګلاره

دڅېړنی پلان او خطه

په تمهید کی:

لومړی مطلب: دوصیت او لارښوونی معنا او مفهوم

دوهم مطلب: درسول الله دوصیتونو اهمیت

دریم مطلب: درسول الله دوصیتونو اهداف
لومړی فصل: ښځی ته دخپل ځان په اړه لارښوونې دي چې دوه مبحثونو ته شامل دي:
لومړی مبحث: اوامر چی شامل د پنځه مطالبو دي
لومړی مطلب: صدقه
دوهم مطلب: په دین کې پوهاوی
دریم مطلب: په مصیبتونو باندې صبر
څلورم مطلب: دښځو عورت او حجاب
دویم مبحث: نواهی چی شامل د ۱۹ مطالبو دي:
لومړی مطلب: دنارینه وو په شان ځان جوړول
دوهم مطلب: پر مړي باندې زینت پریښودل
دریم مطلب: ښځې لپاره د جنازې پسې تګ
څلورم مطلب: دښځې لپاره یوازې سفر کول
پنځم مطلب: ښکنځلې او پوچې خبرې نه کول
شپږم مطلب: د ښځې لپاره سر خریل
اووم مطلب: دښځې لپاره سر تورول
اتم مطلب: له خپل کور څخه بهر جامې ویستل
نهم مطلب: له کوره بهر خوشبوی لګول
لسم مطلب: عورت
یوولسم مطلب: نامناسبه جامه
دولسم مطلب: له اجنبې نارینه سره اختلاط او مجلس
دیارلسم مطلب: له اجنبی نارینه سره خلوت
څوارلسم مطلب: له خاوند څخه طلاق غوښتنه
پنځلسم مطلب: په تقدیر ناراضتیا او پر مړی ژړا او انګولا

شپاړسم مطلب: دپردې ښځې عورت ته نه کتنه

اوولسم مطلب: د پردې ښځې محاسن نه ستايل

اتلسم مطلب: د الله په مخلوقاتو لعنت نه ويل

دويم فصل: ښځی ته دخپل خاوند په اړه لارښوونې دي چې شامل د دوه مبحثونو دي:

لومړی مبحث: اوامر

لومړی مطلب: دخاوند پالنه

دويم مطلب: دخاوند دامانتونو ساتنه

دريم مطلب: دخاوند له کوره صدقه

څلورم مطلب: خاوند باندې صدقه

دويم مبحث: نواهی

لومړی مطلب: خاوند ته زيان او اذيت نه رسول

دويم مطلب: دخاوند له اجازی پرته له کوره بهر نه وتل

دريم مطلب: خاوند له مباشرت څخه ډډه نه کول

څلورم مطلب: دخاوند له اجازې پرته نفلی روژه نيول

دريم فصل: نارينه و ته دښځو په اړه لارښوونې چې شامل د شپږ مطالبو دي:

لومړی مطلب: ښځې سره ښه چلند

دويم مطلب: د ښځې سپکاوی نه کول

دريم مطلب: دښځو ترمنځ د تعدد پرمهال عدالت

څلورم مطلب: د ښځو د عواطفو او احساساتو رعايت

پنځم مطلب: دښځو سره نيکي

شپږم مطلب: دښځی نفقه او اړتياوو پوره کول

خاتمه : چې په کې مهم نتائج او وړانديزونه ذکر شوي دي.

**تمهيد**

په تمهيد کې به لومړی د وصيت مفهوم، د نبي صلی الله عليه وسلم د وصيت او لارښوونواهميت او د نبي صلی الله عليه وسلم د لارښوونو اهداف وڅېړو:

**لومړی مطلب: دوصيت او لارښوونې معنا او مفهوم**

د وصيت لفظ عربي کلمه ده چې له ( وصی) (يوصي) څخه اخيستل شوی دی، د لغت له مخې په ګڼو معناګانو سره راځي:

1- د (وصل) يوځای کېدو په معنی: عربان چې کله يو څه بل سره وصل کړي بيا وايي: (وصيت الشئ). مشهور وصيت ته هم ځکه ووصيت ويل کيږي چې په دې کې هم کس خپل مال د ژوند په حالت کې له مرګ وروسته وخت سره وصلوي.

2- د امر په معنی: لکه ويل کيږي: (اوصيته بالصلاة) يعنې: (امرتُ بها) په لمانځه مې ورته امر وکړ. په دې ايت کې هم دا معنی مراده ده الله جل جلاله فرمايي: {ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} [الأنعام: 153].

ژباړه: دا هغه څه دي چې الله جل جلاله پرې تاسې ته امر کوي، ښايي چې ووېرېږئ.

بل ځای فرمايي: {يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ} [النساء: 11].

ژباړه: الله جل جلاله تاسې امر کوي...

۳- د لارښوونې او هدايت په معنی: په دې معنی سره په ډېرو ځايونو کې راغلی دی کله چې يوڅوک د يو چا د لارښوونې او متوجه کولو لپاره ځينې نصائح او خبرې کوي دې ته وصيت ويل کيږي لکه ويل کېږي:( أوْصى بعضُهم بعضاً) هغوی يوبل ته نصيحتونه وکړل [1].

---

1 - محمد بن مکرم بن علی، أبو الفضل، ابن منظور الأنصاري الإفريقی(1414 هـ) لسان العرب، الناشر: دار صادر – بيروت. ج15/ ص ۳۹۴. أحمد بن محمد بن علي الفيومي ثم الحموي(ب.ت) المصباح المنير، الناشر: المكتبة العلمية – بيروت. ص ٦٦٢.

**په اصطلاح کې د وصیت بېلابېل تعریفونه شوي دي:**

**د فقهاو تعریف:** وصیت فقهاو داسې تعریف کړی دی:( تَمْلِيكٌ مُضَافٌ إِلَى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ بِطَرِيقِ التَّبَرُّعِ، سَوَاءٌ كَانَ ذَلِكَ فِي الْأَعْيَانِ أَوْ فِي الْمَنَافِعِ )([1]).

ژباړه: وصیت هغه تملیک ته ویل کیږي چې د احسان او نیکي په موخه یې نسبت له مرگ وروسته وخت ته شوی وی، برابره خبره ده چې دا عین وي او که منفعت.

**د مفسرینو تعریف:** دوکتور وهبه زحیلي([2]) وصیت داسې تعریفوي:

التوصية:( إرشاد غيرك إلى ما فيه خير وصلاح له من قول أو فعل في الدين أو الدنيا)([3]).

ژباړه: په خبرو یا کړنې سره بل چا ته د داسې څه لارښوونه کول چې په هغه کې دده دنیوي او یا اخروي گټه وي.

امام صابوني رحمه الله([4]) داسې تعریف کړی دي: (التوصية: إِرشاد الغير إِلى ما فيه صلاح وقربة)([5]).

---

1 -كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (ب.ت) فتح القدير، الناشر: دار الفكر، ج ١٠/ ص ٤١١.

2 - نوموړی په ۱۹۳۲میلادی کال کې په دمشق کې زېږېدلی دی په ۱۹۵۲میلادي کال کې له ثانوي دروې او بیا ۱۹۵۹م کال کې د قاهرې پوهنتون څخه مستري او ۱۹۶۳م کال کې یې دوکتورا ترلاسه کړې ده، چې بیا د دمشق په پوهنتون کې د استاد په حیث مقرر شوی دی. په معاصرې اسلامي نړۍ کې مشهور دی. ډېر تالیفات لري چې مشهور یې الفقه الاسلامي وادلته، التفسیر المنیر او نور دي، شنبې په ورځ ۸ د اگشت ۲۰۱۵ مکال چې د ۱۴۳۶هـ.ق کال د شوال میاشتې له ۲۳ نیټې سره سمون خوري د ۸۳ کلنو په عمر په دمشق کې وفات شو. ar.m.wikipedia.ovg

3 - دوکتور وهبة بن مصطفى الزحيلي(1418 هـ)، التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج ، الناشر: دار الفكر المعاصر - بيروت، دمشق، الطبعة: الثانية، ج ١/ ص ٣١٧.

4 - نوموړی عالم محمد علی الصابوني نومیږي، په ۱۹۳۰ م کال کې په حلب ښار کې زیږیدلی دی، پلار یې د حلب له سترو عالمانو څخه شمېرل کېده، لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار څخه کړي، په ۱۹۴۹ م، کال کې له ثانوي دورې او په ۱۹۵۴ م کال کې له تخصص څخه چې د دوکتوراه معادل وو، له ازهر پوهنتون څخه فارغ شوی، ډېرې لیکنې لري چې مشهور یې: صفوة التفاسیر، روائع البیان، النبوة والانبیاء او نور دي، د جمعې په ورځ ۲۱۲۱ میلادي کال د مارچ میاشتې په ۱۹ نیټه چې د ۱۴۴۲هـ.ق کال د شعبان میاشتې له ٦ نیټې سره سمون خوري تقریباً د ۹۱ کلونو په عمر په ترکې استنبول کې وفات او هملته دفن شو. ar.m.wikipedia.ovg

5 - محمد علي الصابوني(1417 هـ - 1997 م) صفوة التفاسير, الناشر: دار الصابوني للطباعة والنشر والتوزيع – القاهرة, الطبعة: الأولى،ج (1/ ص85).

ژباړه: د ثواب او د ښېګڼې په موخه بل چا لارښوونه کولو ته توصیه وایي.

په لنډه توګه ویلي شو چې د وصیت مفهوم دادی چې وصیت هغه هدایات او نصائح دي چې د یو چا د دنیوي یا اخروي ښیګڼو لپاره ویل کیږي، یا په بله معنی د ښه چلند، اخلاقي ارزښتونو، یا د ژوند د اصولو په اړه د یو کس څخه بل کس ته لارښوونې او هدایاتو ته وصیت وایي.وصیت غالباً د ښو اخلاقو، ارزښتونو او نیکو خویونو سره تړاو لري چې یو شخص یې باید په خپل ژوند کې تعقیب کړي.

پورته تعریفونو ته په کتنې ویلی شو چې له دیني اړخه وصیت هغه دیني لارښوونې دي چې د یو باور لرونکي شخص لخوا نورو ته د ښه چلند، تقوی او دیني ارزښتونو د پیروي کولو په اړه ورکولو کیږي او د فقهاو له نظره وصیت د یو کس له مړینې وروسته د شتمني یا میراث د ویش په اړه لارښوونو ته ویل کېدای شي.

په مجموع کې د وصیت مفهوم د یو شخص په ژوند کې د نیکمرغي، صداقت، بریالیتوب او نورو ښیګڼو ترلاسه کولو په موخه لارښوونو او هدایاتو ته ویل کیږي.

**دوهم مطلب: درسول الله صلی الله علیه وسلم د وصیتونو اهمیت**

الله جل جلاله د انسانانو د لارښوونې لپاره تر ټولو وروستی پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم رالیږلی دی، ترڅو په خپلو لارښوونو سره انسانان له تیارو څخه د رڼا پر لوري سوق کړي، په دنیا کې چې د دوی څو ورځې ژوندون دی ددې ژوند تېرولو لپاره اصول وټاکي.

په دې اساس رسول الله صلی الله علیه وسلم  چې څومره شرعي احکام او نورې لارښوونې راوړي هغه ټول ارزښتنمن او د انسانانو لپاره په کې د دنیا او اخرت ښېګڼې نغښتي دي.

بناءً د رسول الله صلی الله علیه وسلم وصیتونو اهمیت په لاندې عنوانو کې خلاصه کېدلی شي:

**۱- اسلامي ارزښتونو ته وده ورکول:** د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وصیتونه د اسلامي ارزښتونو په پیاوړي کولو کې مرسته کوي ترڅو خلك د رحم، عدالت، همکاري او تواضع باندې عمل کولو ته هڅوي.

**۲- هدایت او لارښوونه کول:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم هدایات د امت لپاره د لارښوونې مهمه سرچینه ګڼل کیږي، څکه چې خلك د نیکۍ او اصلاح لارې ته هڅوي.

**۳-د یووالي او پیوستون لاسته راوړل:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم احکام د ټولنې د غړو ترمنځ د یووالي او پیوستون د زیاتولو لپاره کار کوي، چې دوی د همکارۍ، یوبل ملاتړ او یو بیل سره مرستې ته تشویقوي.

**۴- د سولې او ثبات ترلاسه کول:** د عدالت او مساوات په وده او له بې عدالتۍ او فساد سره په مبارزه کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اوامر په ټولنه کې د سولې او ثبات په راوستلو کې مرسته کوي.

**۵- د فرد او ټولنې وده:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو هدف د فرد او ټولنې وده کول دي، چې خلك زده کړې او نیکو کارونو ته وهڅیږي.

په لنډه توګه باید ووایو چې امت ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونې، اوامر او احکام د هدایت او په ټولنه کې د اسلامي ارزښتونو په ترویج، د عدالت، پیوستون او د فردي او ټولنیز پرمختګ له لارې د مثبت پرمختګ لپاره یوه مهمه سرچینه ده([1]).

## دریم مطلب: درسول الله دوصیتونو اهداف

د نورو شرعي احکامو په څېر د رسول الله صلی الله علیه وسلم وصیتونو او لارښوونو کې هم ډېر اهداف او موخې پرتې دي چې مهم یې په لاندې ټکو کې خلاصه کېدلی شي:

**۱- د الله جل جلاله تعظیم او عبادت ته بلنه:** د نبي صلی الله علیه وسلم د لارښوونو لومړی هدف د الله جل جلاله توحید او عبادت ته د خلکو بلنه ده چې دا د هر پیغمبر لومړني دنده همدا وه. ده هڅه کوله چې د الله جل جلاله د وحدانیت او د نورو په وړاندې د شرک او تعصب پرته یواځې د هغه خالص عبادت ته خلك راوبولي.

---

1 -هاشم صائب محمد(۱۴۳۹هـ.ق) وصایا الرسول و اثرها فی بناء الفرد والمجتمع ،طبع جامعة تکریت العراق.ص۲۴-۲۶

د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله نبي صلی الله علیه وسلم معاذ بن جبل یمن ته ولیږه ورته یې وویل :( إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللَّهَ تَعَالَى )([1]).

ژباړه: ته د اهل کتابو قوم ته روان یې کله چې ورغلې لومړی کار به دې دا وي چې دوی به د الله توحید ته راوبولې.

**۲- عدالت او شفقت ته هڅونه:** ددې لارښوونو بل مقصد دا وو چې خلك عدالت او یو بل سره په صله رحمي کولو ته وهڅول شي. په دې هکله ګڼ روایتونه شته چې یو څو یې ذکر کوو :(عن أنس بن مالك- رضي اللّه عنه- قال: قال رسول اللّه صلّى اللّه عليه وسلّم: «إذا حكمتم فاعدلوا، وإذا قتلتم فأحسنوا، فإنّ اللّه- عزّ وجلّ- محسن يحبّ المحسنين »([2]).

ژباړه: له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې تاسې پریکړه کوئ نو عدالت کوئ، کله چې ذبح کوئ نو په ښه توګه یې کوئ ځکه چې الله تعالی احسان کوونکی دی او نیکي کوونکي خوښوي.

عن عبد اللّه بن عمرو بن العاص- رضي اللّه عنهما- قال: قال رسول اللّه صلّى اللّه عليه وسلّم: «إنّ المقسطين عند اللّه على منابر من نور عن يمين الرّحمن- عزّ وجلّ- وكلتا يديه يمين، الّذين يعدلون في حكمهم وأهليهم وما ولوا»([3]).

ژباړه: له عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: عدالت کوونکي خلك به د نور په منبرونو د رحمن ذات ښې لورې

---

[1]- محمد بن إسماعيل أبو عبد الله الجعفي، (1422هـ )، صحيح البخارى، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة، كتاب التوحيد، بَابُ مَا جَاءَ فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّتَهُ. ج9/ص 114).

[2]- الهيثمي، أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي (1414 هـ، 1994 م ). مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، تحقق: حسام الدين القدسي، خپرونکی: مكتبة القدسي، القاهرة :(5/ 197) داحديث طبراني په اوسط کې هم راوړی دی او رجال یې ثقه دي. شيخ الباني هم ورته صحيح ويلي دي: صحيح الجامع (1/ 194).

3- مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (-----)، المسند الصحيح مسلم، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت : شمېره(1827)، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي(1406 - 1986) سنن النسائي، الناشر: مكتب المطبوعات الإسلامية – حلب، (8/ 221، 222).

ته ناست وي دهغه دواړه لاسونه ښي دي، هغه خلك چې په خپلو پرېکړو، کورنۍ او لاس لاندې انسانانو په حق کې عدالت کوي.

د شفقت په اړه فرمايي: (عن النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَرَى المُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ، كَمَثَلِ الجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالحُمَّى» (1).

ژباړه : د نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل چې ته به ووينې مؤمنانو لره په رحم کولو د يو بل سره ، او په مينه کولو د يو بل سره او په شفقت او نرمي کولو د يو بل سره په شان د يو جسد ، کله چې د بدن يو غړی شکايت وکړي نو د هغې څخه ټول بدن په بې خوبۍ او تبې سره نارامه وي .

**٣- نېکو اخلاقو او چال چلند ته هڅونه:** نبي صلی الله عليه وسلم د وصيتونو بل هدف وګړي نېکو اخلاقو لکه صداقت، پاکوالي، احسان، نېکه معاملې کولو او چلند ته لکه نرمي، عاطفه او خلکو سره اساني کولو ته هڅونه ده چې په دې اړه يې هم ګڼ هدايات او لارښوونې کړي دي لکه:

عَن ابْنِ مَسْعُودٍ رضي اللَّه عنه عن النَّبيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم قَالَ: "إِنَّ الصَّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الجَنَّةِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لِيَصْدُقُ حَتَّى يُكتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقاً، وإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الفجُورِ وَإِنَّ الفجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّاباً" (2).

ژباړه: ابن مسعود له نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي واي فرمايي: صدق او رښتيني نيکي لوري ته لارښوونه کوي او نيکي انسان جنت ته بيايي، سړی چې تل رښتيا وايي تردې چې د الله جل جلاله سره هم د رښتيني په نوم ثبت شي. او درواغ د بدي لوري ته

(1) ابوعبدالله محمد بن اسماعيل البخاري(١٤٢٢هـ.ق) صحيح البخاري، دار الطوق النجاة،(ج8 ,ص10 رقم حديث (6011)، صحيح مسلم ، (ج4 , ص 1999 رقم حديث (2586) .

2 - بخاري، صحيح البخاري ج8 /ص ٢٥، صحيح مسلم ج٤ / ص ٢٠١٢.

لارښوونه کوي او بدي انسان دوزخ ته بيايي، سړی چې تل دروا‌غ وايي ترد‌ې چې الله سره هم دروا‌غجن ثبت شي.

د احسان په اړه وايي: عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ»([1]).

ژباړه: د شداد بن أوس رضي الله عنه څخه روايت دی ويلي يې دي: دوه څيزونه دي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې زده کړي دي ويلي يې دي: يقينا الله تعالى په هر شی احسان مقرر کړی دی، کله چې قتل کوئ په ښايسته طريقې سره قتل کوئ، او کله چې ذبح کوئ په ښايسته طريقې سره يې کوئ، او تيره دی کړی په تاسو کې يو تن خپله چاړه او راحت دی ورکړي خپلې ذبيحې ته.

د نرمي په اړه فرمايي: عن عائِشةَ رضيَ اللَّه عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: "إِنَّ اللَّه رفيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّه"([2]).

ژباړه: عايشه رضی الله عنها فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: الله جل جلاله نرم دی، په هر کار کې نرمي خوښوي.

خلکو سره اساني کولو په اړه وايي:عن أَنس رضي اللَّه عنه عن النبيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم قَالَ: "يسِّرُوا ولَا تُعَسِّروا. وَبَشِّرُوا ولَا تُنَفِّرُوا"([3]).

ژباړه: انس رضی الله عنه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي فرمايي: اساني کوئ او سختي مه کوئ، زېري ورکوئ خلکو ته او هغوی مه متنفر کوئ.

---

1 - مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم، بَابُ الْأَمْرِ بِإِحْسَانِ الذَّبْحِ وَالْقَتْلِ، وَتَحْدِيدِ الشَّفْرَةِ، ج٣، ص ١٥٤٨،حديث شميره 1955.

2 - بخاري، صحيح البخاري،كتاب الادب، بَابُ الرِّفْقِ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ ج9/ ص ١٦،حديث شميره ٦٠٢٤، مسلم، صحيح مسلم , بَابُ النَّهْيِ عَنِ ابْتِدَاءِ أَهْلِ الْكِتَابِ بِالسَّلَامِ وكَيْفَ يُرَدُّ عَلَيْهِمْ .ج ٤/ ص ٢٠٠٣.

3 - بخاري، صحيح البخاري، كتاب العلم، بَابُ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُهُمْ بِالْمَوْعِظَةِ وَالعِلْمِ كَيْ لاَ يَنْفِرُوا، ج1/ ص 25, حديث شميره 69، مسلم، صحيح مسلم بَابٌ فِي الْأَمْرِ بِالتَّيْسِيرِ، وَتَرْكِ التَّنْفِيرِ ,ج٣/ ص ١٣٥٩رقم 1734

**۴- زده کړه او نورو ته رسول:** په دې لارښوونو کې خلکو ته د علم کولو نورو ته د ښوولو او خپرولو ته خلک تشویق شوي.

د علم او علماو ارزښت بیان شوی او خلک هڅول شوي چې علم زده او نورو ته یې ورسوي.

عنْ أَبي هُريرةَ، رضي اللَّه عَنْهُ، أنَّ رسُول اللَّه صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم، قالَ: "ومَنْ سلَك طرِيقاً يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْماً، سهَّلَ اللَّه لَهُ بِهِ طَرِيقاً إِلىَ الجَنَّةِ "([1]).

ژباړه: ابوهریره رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د علم د زده کړې پر لاره روان شو، الله جل جلاله به د جنت ته تللو لاره ورته اسانه کړي.

**۵-د ټولنې سمون او اصلاح:** ددې لارښوونو بل هدف دادی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو لارښوونو او ارشاداتو سره ټولنه کې موجودې ناخوالې او غمیزې له مینځه وړي، ټولنه د جهالت، شرارت او بدي له مسیره راگرزوي او د علم، اصلاح او نیکي لوري ته یې بیایي. د ټولنې د اصلاح په موخه گڼ روایتونه شته.

لنډه دا چې په مجموع کې د نبي صلی الله علیه وسلم د لارښوونو اهداف د اسلامي او اساسي مفاهیمو ترویجول، خلک د خیر، عدل، عاطفې، زده کړې، تقوی او نیکي لور ته بلل دي.

## لومړی فصل

## ښځې ته د خپل ځان په اړه لارښوونې

په دې فصل کې به هغه لارښوونې بیان شي کومې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته کړې دي، او په لارښوونو کې یې دوی مخاطبې کړې.

په دې فصل کې دوه مبحثونو دي

### لومړی مبحث: ښځو ته ددوی د ځان په اړه امرونه کول

په دې کې پنځه مطلبونه دي

1 - مسلم، صحیح مسلم، بَابُ فَضْلِ الِاجْتِمَاعِ عَلَى تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وَعَلَى الذِّكْرِ، ج 4 / ص 274، حدیث شمیره۲۶۹۹.

## لومړی مطلب: صدقه کول

د صدقې او سخاوت په اړه زمونږ دین ډېرې لارښوونې لري،چې ځینې یې په ځانګړې ډول ښځو ته کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمنو ته توصیه کړې چې د خپلو مالونو څخه صدقه کوئ، د بېلګې په توګه:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحَى أَوْ فِطْرٍ إِلَى المُصَلَّى، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ العَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ»، قُلْنَ: وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «أَلَيْسَ شَهَادَةُ المَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا، أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا»(1).

ژباړه: له ابوسعید الخدري رضی الله عنه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د لوی یا کوچني اختر په ورځ عیدګاه ته راووت د ښځو په یوې ډلې تېر شو هغوی ته یې وفرمایل: ای د ښځو ډلې! خیراتونه کوئ، ما د تاسې اکثره په اور کې ولېدې، ښځو وویل: ولې یا رسول الله؟! هغه وویل: تاسې لعنتونه ډېر وایی، د مېړه ناشکري کوی، ما له تاسې پرته بل داسې ناقص العقل او کمزوري دین والا نور څوک نه دي لیدلي چې د هوښیار سړي عقل له مینځه وړي. هغو وویلې: یارسول الله!زمونږ په دین او عقل کې څه نقصان دی؟ هغه ورته وویل: ایا د ښځې ګواهي د نارینه د ګواهي په نیمایي نه ده؟ دوی وویل: هو ده. هغه وویل: دا یې د عقل نقصان دی. کله چې حائضه شي، نه لمونځ کوي او نه روژه نیسي؟ هغو وویل: هو همداسې ده. نبي صلی الله علیه وویل: دایې د دین نقصان دی.

په بل حدیث کې ابوسعید الخدري رضی الله عنه فرمایي:خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحًى أَوْ فِطْرٍ إِلَى المُصَلَّى، ثُمَّ انْصَرَفَ، فَوَعَظَ النَّاسَ، وَأَمَرَهُمْ بِالصَّدَقَةِ، فَقَالَ: «أَيُّهَا

1 - بخاري، صحیح البخاري، کتاب الحیض, بَابُ تَرْكِ الحَائِضِ الصَّوْمَ، ج1/ ص 68، مسلم، صحیح مسلم، كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ، ج۲/ ص۶۰۵، حدیث شمیره، ۸۸۹ شمیره

النَّاسُ، تَصَدَّقُوا»، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ، تَصَدَّقْنَ، فَإِنِّي رَأَيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ العَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ، أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الحَازِمِ، مِنْ إِحْدَاكُنَّ، يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ» ثُمَّ انْصَرَفَ، فَلَمَّا صَارَ إِلَى مَنْزِلِهِ، جَاءَتْ زَيْنَبُ، امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، تَسْتَأْذِنُ عَلَيْهِ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذِهِ زَيْنَبُ، فَقَالَ: «أَيُّ الزَّيَانِبِ؟» فَقِيلَ: امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: «نَعَمْ، ائْذَنُوا لَهَا» فَأُذِنَ لَهَا، قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّكَ أَمَرْتَ اليَوْمَ بِالصَّدَقَةِ، وكَانَ عِنْدِي حُلِيٌّ لِي، فَأَرَدْتُ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِهِ، فَزَعَمَ ابْنُ مَسْعُودٍ: أَنَّهُ وَوَلَدَهُ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَدَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ، زَوْجُكِ وَوَلَدُكِ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتِ بِهِ عَلَيْهِمْ» ([1]).

ژباړه: له ابو سعيد الخدري رضى الله عنه څخه روايت دى وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د لوى يا کوچني اختر په ورځ عيدگاه ته راووت د نارينه و خواته ورغى ورته يې وويل: اى خلکو! صدقې کوئ، بيا د ښځو په يوې ډلې تېر شو هغوى ته يې وفرمايل: اى د ښځو ډلې! خيراتونه کوئ، ما د تاسې اکثره په اور کې وليدې، ښځو وويل: ولې يا رسول الله؟! هغه وويل: تاسې لعنتونه ډېر وايى، د مېړه ناشکري کوى، ما له تاسې پرته بل داسې ناقص العقل او کمزوري دين والا نور څوک نه دي ليدلي چې د هوښيار سړي عقل له مينځه وړي. هغو وويلې: يارسول الله!زمونږ په دين او عقل کې څه نقصان دى؟ هغه ورته وويل: ايا د ښځې گواهي د نارينه د گواهي په نيمايي نه ده؟ دوى وويل: هو ده. هغه وويل: دا يې د عقل نقصان دى. کله چې حائضه شي، نه لمونځ کوي او نه روژه نيسي؟ هغو وويل: هو همداسې ده. نبي صلى الله عليه وويل: دايې د دين نقصان دى.

کله چې کورته لاړ د ابن مسعود ښځه زينب ورته راغله، اجازه يې د ورتللو وغوښته،چا وويل: يارسول الله! دا زينب ده، هغه وويل: کومه زينب؟ چا وويل: د ابن مسعود ښځه ده، هغه ورته وويل: اجازه غواړي، اجازه يې ورکړه، ويې ويل:يا رسول الله! تا نن ورځ په خيرات کولو امر وکړ، ما سره دا زما غوړوالى دي، غواړم چې خيرات يې کړم، ابن مسعود گمان درلود

1 - بخاري، صحيح البخاري، كتاب الزكاة، بَابُ الزَّكَاةِ عَلَى الأَقَارِبِ،ج 2/ص 120، حديث شميره۱۴۶۲.

چې دی او زوي يې ددې خيرات ډېر مستحق دي، نو نبي صلی الله عليه وسلم وويل: ابن مسعود رښتيا وايي، مېړه او زوی دې تر بل هرچا د خيرات کولو مستحق دي.

د صحيح مسلم دجابر بن عبدالله رضی الله عنه په روايت کې راځي هغه وايي: فَجَعَلْنَ يَتَصَدَّقْنَ مِنْ حُلِيِّهِنَّ، يُلْقِينَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ مِنْ أَقْرِطَتِهِنَّ وَخَوَاتِمِهِنَّ).([1])

يعنې: کله چې نبی صلی الله عليه وسلم دويته د صدقې خبره وکړه، راوي وايي: ښځو خپلې ګاڼې خيرات کړې، د بلال په څادر کې يې خپلې غوږوالۍ او ګوتمې ور اچولې.

**د حديث احکام او فوائد:**له دې څخه ښکاري چې:

۱- امام چې د اختر په ورځ عيدګاه ته ووزي نو په صدقه ورکولو به امر کوي.

۲- اختر لمونځونو ته د ښځو وتلو مشرعيت ترې ښکاري البته چې د لمونځ ځای به يې بېل وي.

۳- امام ته په کار دي چې ښځو ته بېل وعظ وکړي.

۴- د نعمتونو ناشکري، ډېر لعنتونه ويل حرام دي.

۵- صدقه ورکولو سره عذاب دفع کيږي.([2]).

دا چې ښځه خپل مېړه ته زکات ورکولی شي او کنه؟ په دې اړه فقهاو نظرونه په لنډ ډول رانقلوو:

امام ابوحنيفه رحمه الله وايي: جائز نه دی نه يې شي ورکولی.

امام مالک رحمه الله وايي: که چېرته مېړه اخستل شوی مال بيرته په ښځې باندې نفقه کاوه جائز نه دی او که په بل ځای کې يې خرچ کولو نور اولادونه يې وو يا بل ځای، بيا زکات ورکول جائز دي.

امام شافعي رحمه الله وايي: ښځه مېړه ته زکات ورکولی شي.

1 - مسلم، صحيح مسلم، كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ،ج2/ص 603)حديث شميره ۸۸۴

2 - أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي،(1379) فتح الباري شرح صحيح البخاري، الناشر: دار المعرفة – بيروت. (1/ 406)

له امام احمد څخه په دې اړه دوه روایته راغلي، جواز او عدم جواز، خو د عدم جواز روايت يې ښکاره دی، چې د حنبلي مذهب فقهاو ابوبکر او الخرقي هم غوره ګڼلی دی([1]).

**دوهم مطلب: په دين کی پوهاوی**

که په قران کريم کې په غوره سره وکتل شي ، قران کريم انسان تر ټولو مخکې دا هدايت او لارښوونه کړې ده چې (ولوله!) يعنې علم حاصل کړه، په اسلام کې د علم حاصلول په هر مسلمان نارينه او ښځينه باندې فرض دی د قران کريم لومړني پنځه ايتونه چې نازل شوي دي په هغو کې هم لوست يعنې د علم حاصلولو حکم ورکړی شوی دی بلکې الله جل جلاله چې په رسول الله صلي الله عليه وسلم باندې کومه لومړنۍ کلمه نازله کړې وه نو هغه (اقرأ) ده نو په دې کې د علم د حاصلولو حکم ورکړی شوی دی. الله جل جلاله فرمايي: اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ 1 خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ 2 اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ 3 الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ 4 عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ)(2).

ژباړه: ولوله ( اې پيغمبره !) د خپل رب په نوم چې هغه پيداکړ د کلکې شوې وينې له يوې ټوټې څخه يې انسان هست کړ ولوله ، اوستارب ډېر مهربان دي چې هغه د قلم په مرسته علم وښوده انسان ته يې هغه علم ورکړ چې هغه پرې نه پوهېده

له دې نه معلومېږي چې اسلام علم ته څومره اهميت ورکړی، د صحيح البخاري حديث دی چې صحابياتو رضی الله عنهن د علم د حاصلولو ډېر شوق درلود، يو ځل هغوی نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته عرض وکړو چې زموږ لپاره دې يوه ورځ مخصوصه کړای شي ترڅو موږ هم له تاسې څخه د ينې علم ترلاسه کړو، رسول الله صلي الله عليه وسلم د هغوی دغه غوښتنه ومنله روايت دی چې: (عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-

1 - أبو المظفر، عون الدين، يحيى بن محمد بن هبيرة الذهلي الشيباني (1423هـ - 2002م) اختلاف الأئمة العلماء،المحقق: السيد يوسف أحمد، الناشر: دار الكتب العلمية - لبنان / بيروت،الطبعة: الأولى.ج١/ ص ٣٢٣.

2 - د العلق سورت ١-٥ ايتونه.

فَقَالَـتْ يَـا رَسُـولَ اللَّـهِ ذَهَـبَ الرِّجَـالُ بِحَـدِيثِكَ فَاجْعَـلْ لَنَـا مِـنْ نَفْسِـكَ يَوْمًـا نَأْتِيـكَ فِيـهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللَّهُ)(1).

ژباړه: ابو سعید رضی الله عنه نـه روایـت دی وایـي یـوه ښـځه رسول الله صلی الله علیه وسلم تـه راغلـه او ویـې ویـل ای د اللـه جـل جلالـه رسوله! سړیو ستا حدیثونـه زده کړل موږ ته هم یـوه ورځ ځـانګړې کـړه چـې مـوږ هـم تاتـه راشـو او هغـه څـه پکـې لـه تـا زده کړو چې تا ته الله جل جلاله د ښودلي دي

همداراز رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو د ښځو ښه ستاینه کړې او وایي : (نِعْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الأَنْصَارِ لَمْ يَكُنْ يَمْنَعُهُنَّ الْحَيَاءُ أَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِي الدِّينِ). (2)

ژباړه: بهترینې ښځې د انصارو مېرمنې دي چې دوي به حیا او شرم له دې څخه نه منع کولې چې د الله په دین ځانونه پوه کړي.

پورته روایتونو کـې د ښـځو لپـاره توصـیه ده چـې پـه دیـن کـې پوهـه پیـدا کـړي، دیـن زده کړي او نورو ته یې ورسوي.

**دریم مطلب: په تکلیفونو او خپګانونو باندی صبر**

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ، فَقَالَ: «اتَّقِي اللَّهَ وَاصْبِرِي» قَالَتْ: إِلَيْكَ عَنِّي، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِي، وَلَمْ تَعْرِفْهُ، فَقِيلَ لَهَا: إِنَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ، فَقَالَتْ: لَمْ أَعْرِفْكَ، فَقَالَ: «إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى»(3).

ژباړه: له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم یوه ورځ د قبر سره تېرېده چې یوه ښځه په هغه قبر ژاړي، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: له الله ووېرېږه او صبر وکړه، هغې نبي صلی الله علیه وسلم ونه پېژانده ورته یې وویل: زما غوندې

---

1 - مسلم، صحيح مسلم، كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ، بَابُ فَضْلِ مَنْ يَمُوتُ لَهُ وَلَدٌ فَيَحْتَسِبَهُ، ج ۴ ص ۲۲۸. حديث شميره ۲۶۳۳

2 - مسلم، صحيح مسلم، كتاب الحيض، بَابُ اسْتِحْبَابِ اسْتِعْمَالِ الْمُغْتَسِلَةِ مِنَ الْحَيْضِ فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فِي مَوْضِعِ الدَّمِ، ج 1/ ص ۲۶۱ ، حديث شميره: ۳۳۲.

3 - بخاري، صحيح البخاري (2/ 79)

مصيبت تاته نه دی رسېدلی ځکه داسې وايي ،چا ورته وويل: دا نبي صلى الله عليه وسلم وو، بيا هغه ښځه د نبي صلى الله عليه وسلم دروازې ته راغله هلته يې څوکيدار ونه موند او ورغله ورته يې وويل: ماته ونه پېژندې. نبي صلى الله عليه وسلم ورته وويل: صبر د مصيبت راتللو په لومړيو شيبو کې وي.

**د حديث شرح:**

نبي صلى الله عليه وسلم د (اتقى الله) کلمه ورته ځکه وويله چې د ښځې ژړا ډېره زياته وه چې د نوح (انګولا) اندازې ته رسېده، نو ځکه له الله څخه په وېرې کولو امر يې ورته وکړ.

(الَيْكَ عَنِّي) دا اسم فعل دی د (لرې شه) (اخوا شه) په معنى سره راځي.

ښځې ځکه ونه پيژانده چې نبي صلى الله عليه وسلم به تنها ګرځېده د نورو پاچاهانو او اميرانو په څېر به خلك پسې روان نه وو، نو ځکه يې د عذر په ژبه وويل: چې ما ونه پېژندې.([1])

په دې حديث کې ښځو ته په دوه شيانو کولو لارښوونه شوې: تقوا او صبر کول او بې صبري نه کول.

**تقوى:** امام جرجاني رحمه الله(2) وايي: په طاعاتو کې له تقوى څخه مراد اخلاص دی او په معصياتو کې مراد پريخودل او ځان ساتنه ده، ځينې وايي چې: د الله تعالی په طاعت سره له عقوبت څخه ځان ساتل ،او له هغه څيزونو څخه د نفس ساتل چې په ترسره کولو يې نفس دعذاب وړ ګرځي که کول وي او که پريخودل وي، او ځينې وايي چې دشريعت په ادابو دوام او له هر هغه څه څخه ځان ساتل چې سړی له الله تعالی څخه ليرې کوي، او ځينې وايي چې دنفس او خواهش غوښتنو پريخودلو ته تقوى وايي.(3)

---

1 - فتح الباري لابن حجر (3/ 149)

2- پوره نوم يې: علي بن محمد بن علي، په شريف الجرجاني باندې شهرت لري، نوموړی لوی فيلسوف او دلويو علماء له ډلې څخه دی په کال ۷۴۰ هـ په تاکو يا تاجو کې زيږيدلی او په کال ۸۱۶هـ په شيراز کې وفات شوی دی، نوموړي څه دپاسه ۵۰ تصنيفات کړي دي: الاعلام للزرکلي: ۳۲۱/۲.

3- علي بن محمد بن علي الزين الشريف الجرجاني(1403هـ -1983م)التعريفات ،المحقق: ضبطه وصححه جماعة من العلماء بإشراف الناشر ،الناشر: دار الكتب العلمية بيروت -لبنان ،الطبعة: الأولى ،ص(65)

فیروز ابادي رحمه الله (1)وايي: له هرهغه څیز څخه ځان ساتل چې زیان پکې وي ،دا نافرماني او عبث کارونه دی؛ تقوی په دوه ډوله ده فرض او نفل، او ځینې وايي چې له هر هغه کار څخه ځان ساتل چې انسان پرې ګناهګاریږي که کول(امر) وي او که پرېښودل(نهی) وي، او ځینې وايي چې: د الله تعالی حکمونه پر ځای راوړل او له نواهیو څخه یې ځان ساتل، دتوان په اندازه دهغه کارونو کول چې امر پرې شوی دی او دهغه کارونو پریخودل چې منع ترې شوې ده([2]).

قران کریم کې د تقوی استعمال:

۱-ویره او ډار لکه الله تعالی فرمايي:﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ﴾([3]) ژباړه: ای خلکو! وویریږی دخپل رب نه بیشکه زلزله دقیامت یولوي شی دی.

۲-عبادت: لکه الله تعالی فرمايي:﴿ يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ أَنْ أَنْذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ﴾ ([4]) ژباړه: راکوزوي ملایک وحی د(الله تعالی) لخوا نه په هغه چا چې خوښه یې شي له بندګانو څنې(او دا ورته وايي چې) وویروی بیشکه شان دادی چې نشته حقدار دبندګۍ مګر زه یم نو له زما عبادت وکړئ.

۳- دګناه پریخودل: لکه چې فرمايي﴿وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ ([5]) ژباړه: او راشئ کورونو ته د دروازو(لخوا نه) او وویریږئ له الله تعالی(په پریخودلو دګناهونو) ددې لپاره چې بریالي شئ.

---

1- پوره نوم يې: أبو طاهر محمد بن يعقوب بن محمد بن إبراهيم بن عمر ، مجد الدين الشيرازي الفيروزآبادي، دلغة او ادب امامانو څخه دی ،په کال۷۲۹هـ په کارزین شیراز کې زیږیدلی او په کال ۸۱۷هـ په زبید کې وفات شوی دی، نوموړي ډیر علمي سفرونه کړي دي او د ډیرو کتابونو لیکوال دی: الاعلام للزركلي:ج۴ص۹۸.

2 -مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب الفيروزآبادى(1412 هـ - 1992 م) بصائر ذوي التمييز ،لمحقق: محمد علي النجار، الناشر: المجلس الأعلى للشئون الإسلامية - لجنة إحياء التراث الإسلامي، القاهرة (2/ 300)

3 - الحج سورت: ا ايت.

4 - النحل سورت: 2 ايت.

5 - البقرة سورت: 189 ايت.

۴- توحید: لکه چې فرمايي:﴿ أُولَئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَى ﴾[1] ژباړه: دا(صحابه کرام) هغه خلك دي چې الله تعالى خالص کړي دي زړونه ددوئ تقوى(توحيد) ته.

۵- اخلاص لکه چې فرمايي:﴿ ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ ﴾[2] ژباړه: او هغه څوك چې دالله تعالى(دنښو) ددين درناوى کوي، نو دا(درناوى کول) د تقوى(اخلاص) د زړونو څخه دى.

**دتقوى ګټې:**

1. دالله تعالى مرسته متقيانو سره وي.
2. متقيانو ته د درناوي زيرى دى.
3. دګناهونو له منځه تلل او د ثواب ډيروالى.
4. دښښې وعده او له نفسونو نه دويرې ليرې کيدل.
5. په چارو کې اساني او سهولت.
6. په تقوى سره ګناهونه له منځه ځي او دالله تعالى لخوا ثواب ډيروالى.
7. دمتقيانو سره دالله تعالى مرسته وي.
8. له ستونزو څخه امن او الله تعالى ته نږدې والى او دوصال لاس ته راوړل.
9. پر ټولو خلکو د اوچت والي عزت ترلاسه کول.
10. له ستونزو او غمونو څخه خلاصى او دپراخه رزق وعده ده.
11. له عذابونو او مشکلاتو څخه خلاصى دى.
12. دجنت په ترلاسه کولو بريالیتوب دى.
13. متقيانو ته دتوفيق او په ريښتينولى باندې ګواهي ورکړل شوې ده.

---

1 - الحجرات سورت: 3 ايت.

2 - الحج سورت: 32 ايت.

14. دالله تعالی مینه دمتقیانو سره ده.([1])

**بې صبري نه کول:** له بې صبري کولو څخه په اسلامي شریعت کې منع شوې ده، او صبر په اسلامي شریعت کې د غوره اخلاقو په ډله کې شمېرل شوی دی.

له همدې وجهې بې صبري ډېرې ناوړه زیانونه لري چې مهم یې دادي:

1. بې صبري او حوصله نه کول په الله تعالی بد گماني او نه باور دی.
2. په بې صبری سره د ایمان کمال زیانمنيږي.
3. بې صبري په تقدیر باندې خوښي نه ښودل او له هغه کار نه عاجز کېدل چې امر یې شوی.
4. آخرت کې په عذاب د اخته کېدو سبب دی.
5. د نفس تنگي او گډوډېدلو سبب دی.
6. په بې صبری سره ملگري خفه او خپلوان ستومانه کيږي.([2])

لنډه دا چې په دې حدیث کې ښځو ته دا لارښوونې دي څرنگه چې ښځې د مصیبت پر مهال ډېرې جزعې فزعې کوي، فلهذا نبي صلی الله علیه وسلم ورته لارښوونه وکړه چې د مصیبت له راتللو سره سم لومړنیو شیبو کې باید صبر وکړي ترڅو د اجر مستحقه شي.

**څلورم مطلب: دښځو عورت او حجاب**

ښځو ته یوه بله ډېره مهمه لارښوونه چې اسلامي شریعت ډېر تاکید پرې کړی هغه هم حجاب کول او ځان په پرده کې ساتل دي چې په دې اړه ډېر روایتونه راغلي چې ځینې دا دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا، قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ،

---

1 - یو څو متخصصین د صالح بن عبد الله بن حمید إمام وخطیب الحرم المکي په مشری(ب.ت) نضرة النعیم ، الناشر : دار الوسیلة للنشر والتوزیع، جدة ج4/ص ١١٢٠.

2 - نضرة النعیم ج 9/ ص4357.

رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ، لاَ يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ، وَلاَ يَجِدْنَ رِيحَهَا، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا» ([1]).

ژباړه: له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دوه ډلې دي چې ما تراوسه ليدلي نه دي او دواړه دوزخي دي: يوه هغه ډله ده چې د غواگانو د لکی پا شان قمچينې به ورسره وي او خلك به پرې وهي، بل هغه ښځې دي چې هم به پټې وي هم به لوڅې وي، نورو ته ميلان کونکې او په لاره به په ناز او نخرو تلونکې وي، سرونه به يې د اوښ د کو په څېر جوړ کړي وي، نه به جنت ته داخلې شي او نه به د جنت خوشبوی وگوري، حال دا چې د جنت خشبوي له ډېرې لرې ساحې محسوسيږي.

**د حديث شرح:**

(صنفان) دوه ډلې به وي، د نبي صلى الله عليه وسلم په زمانه کې داسې ډلې موجودې نه وې نه داسې څوك وو چې قمچينې دې ورسره وي او نه هم ښځو دغسې د سر ويښتان کوړول، بلکې وروسته زمانو کې دا ډلې راپيدا شوې  چې دا جمله د نبي صلى الله عليه وسلم معجزه ده، ځکه دا دواړې ډلې وروسته پيدا شوي حال دا چې نبي صلى الله عليه وسلم سوونه کاله مخکې ويلې وه([2]).

(کاسيات عاريات): ددې جملې مختلف تعبيرات شوي: ځينې وايي: معنى يې داده چې نيم بدن به يې لوڅ او نيم به يې پټ وي تر څو ښايسته ښکاره شي. ځينې وايي: معنى يې ده: نرۍ جامې به اغوندي ظاهراً به پټې وي خو حقيقت کې لوڅې وي([3]).

---

1 - صحيح مسلم، بَابُ النِّسَاءِ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ الْمَائِلاَتِ الْمُمِيلاَتِ،ج 3 /ص1680، شميره ٢١٢٨.

[2] - عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (1416 هـ - 1996 م).الديباج على صحيح مسلم بن الحجاج، محقق أصله، وعلق عليه: أبو اسحق الجويني الأثري، الناشر: دار ابن عفان للنشر والتوزيع - المملكة العربية السعودية – الخبر، الطبعة: الأولى ,ج5 ص 164.

[3] - الديباج على صحيح مسلم بن الحجاج ج5 ص 164.

(مميلات): يعنې: نورو ته به ميلان کوي يا معنی دا ده چې د اوږو ښورونکي او کږونکې به وي([1]).

(مائلات) يعنې: په ناز او نخرو سره به تگ کوي، يا دا چې د فاحشو ښځو په څېر به تگ کوي([2]).

(البخت): له دې څخه خراساني اوښان مراد دي چې لوړ کوونه لري.معنی يې ده: دوی خپل ويشتان د ټوټې په تړلو يا ټکري په تاوولو سره پورته لوړ دروي([3]).

په دې حديث کې ښځو ته دا پيغام دی چې د خپلو عورتونو خيال وساتي، هر هغه کړنه چې د فتنې سبب گرزي له هغو ځان وساتي، له نريو جامو او داسې جامو چې تنگ او نری وي ډډه وکړي.

**د ښځو شرعي حجاب**

په دې بحث کې به لومړی حجاب وپيژنو او بيابه د حجاب په اړه نورې لارښوونې کومې چې احاديثو کې راغلي بيان کړو:

**د حجاب پېژندنه**

حجاب ،ستر او عورت دري واړه عربي کليمې دي چې بيلابيل تعريفونه او معنا گاني لري :

عورت له عار او ننگ څخه اخيستل شوي او هغه شي ته ويل کيږي چي انسان يې د بل چا په کتلو سره شرميږي او غواړي چې بل څوک يې ونه گوري([4]).

د ستر معنا ده د يو شي پټ ساتل.

[1] - پورتنی مصدر.

[2] - پورتنی مصدر.

[3] -الديباج على صحيح مسلم بن الحجاج، ج5 ص 165.

4 - زين الدين أبو عبد الله محمد بن أبي بكر بن عبد القادر الحنفي الرازي(1420هـ/ 1999م)مختار الصحاح، المحقق: يوسف الشيخ محمد، الناشر: المكتبة العصرية - الدار النموذجية، بيروت – صيدا، ص 221.

او دحجاب لغوي معنى لکه چې راغب اصفهاني په مفرداتو کې ويلي دي.والحجاب المنع من الوصول (1).

ژباړه: حجاب يو شي ته له رسيدلو څخه منع کوونکې ته ويل کيږي.

او داسلامي شريعت په اصطلاح کې: ( الحجاب الشرعي حجب امراءة مايحرم عليها اظهاره(2)

ژباړه: شرعي حجاب د ښځې د هغو اندامونو پټولو ته ويل کيږي چې ښکاره کول يې پري حرام کړاي شوي وي .

**د حجاب او ستر ترمنځ توپيرونه**

د حجاب او ستر ترمنځ فرق په درې موضوعاتو کې راځي:

۱: د حکم په لحاظ

۲: د تاريخ له لحاظه

۳: د سبب له لحاظه:

لومړی: د حکم په لحاظ :

د ستر او حجاب ترمنځ د حکم په لحاظ توپير دادي چې ستر په هرچاباندي فرض دي نارينه وي او که ښځه، ځوان و ي او که زوړ کله چې د عمر لس کاله يې پوره شي نو د هغه څخه په بره پرې ستر فرض دي .

په داسي حال کې چې حجاب يوازې پر ښځو باندي فرض دي نه پرنارينه و باندي .

دويم: د تاريخ له لحاظه :

د تاريخ او وخت له لحاظه د حجاب او ستر فرق دادي چې ستر په ځمکه کې د انسان له سکونت او خلافت سره سم پيل شوي دي کله چې حضرت ادم عليه السلام او بي بي حوا

---

1 - أبو القاسم الحسين بن محمد بن المفضل الراغب اصفهاني.( 1412 هـ). المفردات في غريب القران،المحقق: صفوان عدنان الداوودي, الناشر: دار القلم، الدار الشامية - دمشق بيروت , ص 219.

[2] -شيخ محمد العثيمين ، فتوى المراءة المسلمة ، دارالفکر بيروت لبنان، ص ٧٩.

ځمکي ته را ښکته شو د لباس د اغوستلو او د عورت د پټولو امر ورته وشو او حجاب وروسته په مدينه منوره کې مشروع شو (1).

درېيم: د سبب له لحاظه :

د حجاب او ستر په منځ کې درېيم فرق دادي چې ستر په مطلق ډول فرض دي او په هر حالت کې فرض دي لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي :

(عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالتَّعَرِّيَ فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لاَ يُفَارِقُكُمْ إِلاَّ عِنْدَ الغَائِطِ وَحِينَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى أَهْلِهِ، فَاسْتَحْيُوهُمْ وَأَكْرِمُوهُمْ» (2).

ژباړه : خبردار د خپل جسم له بر بنډو لو څخه ځان وساتي ځکه چې تاسي سره هغه څوک مالکه دي چې له تاسي څخه نه جلا کيږي مګر په دوه حالاتو کې يو هغه مهال چې له تاسي بو لي کوئ دويم هغه مهال چې سړي له خپلي ښځې سره مباشرت يعني جماع کوي نو تاسي له هغوي (پرښتو ) څخه حيا وکړي او د هغوي درناوی وکړي .

## دشرعي حجاب څرنګوالی

الله جل جلاله مومنانو ښځو ته په حجاب سره امر وکړ، او ورته يې ويلي چې راخواره کړي په ځان باندې غټ څادر ددې لپاره چې ددوی پټې شي او دوی محفوظې شي د فتنې څخه؛ خو ددې حجاب په کيفيت کې د ځينو علماو اختلاف دی:

لومړی:-ابن جريرالطبري له ابن سيرين څخه روايت کړی دی،ابن سيرين وايي چې ما له عبيدة السلماني څخه پوښتنه وکړه،چې له لاندې ايات څخه هدف څه وو؟چې الله جل جلاله فرمايي((يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ))(3) ژباړه:-راخواره دې کړي دوی په ځانونوخپلوباندې هغه لوی ټکرې.

---

1 - تفسير ايات الاحكام.2 /377

2 - محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك الترمذي (1395 هـ - 1975 م)، سنن الترمذي،الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر، دويم چاپ. أَبْوَابُ الْأَدَبِ , بَابُ مَا جَاءَ فِي الِاسْتِتَارِ عِنْدَ الجِمَاعِ ج ٥ ص 112.حديث شميره 2800

3-داحزاب سورت ٥٩ايت.

هغه خپل څادر پورته کړ، او په سر باندې را واچولو تردې پورې چې ټول سر يې پټ شو او وروځو ته يې را ورسېدلو، مخ يې پټ کړو او چپه سترګه او د چپ طرف مخ څه حصه يې ښکاره کړه(1).

دويم:- ابن جرير او ابوحيان له ابن عباس رضی الله عنهماڅخه روايت کوي دا وايي چې دا جلباب به ترتندي پورې راکوز کړي او بيا به يې د پوزې باندې تاوکړي ترڅو دواړه سترګې ترېنه ښکاره شي ، نور ټول مخ او سينه به يې هم پټ وي.

دريم:- دحجاب د څرنګوالی په اړوند له اسدي څخه هم روايت شوي دي چې يوه سترګه به پټه کړي سره د تندي او دا بل طرف به هم مخ پټ کړي، مګرسترګه يواځې ښکاره کړي ابوحيان وايي چې همدغه عادت د اندلس د خلکو هم وه چې ښځو به يې يواځې يوه سترګه ښکاره وه او نورې به يې پټې وې(2)

څلورم:-عبدالرزاق او يوې ډلې د ام سلمې رضی الله عنها څخه روايت کړی دی، وايي چې کله دايت کريمه نازل شو،((يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلاَبِيبِهِنَّ))(3)

ژباړه:-راخواره دې کړي دوی په ځانونوخپلوباندې هغه لوی ټکری.

نوچې کله د انصارو ښځې را ووتې نو داسې وې لکه په سرونو باندې کارغان وي ددې وجې څخه چې نور نور څادرونه يې په سر کړي وو(4)

## دويم مبحث: ښځو ته د ځان په اړه نواهي کول

په دې مبحث کې به هغه نواهي ذکر شي چې هغو کې ښځو ته د ځان په اړه له ځينې کارونو کولو څخه منع راغلې ده په دې مبحث کې ۱۹ مطلبونه دي.

---

1-تفسيرايات الاحکام:ج ۲ ص ۲۷٤.

[2]-تفسيرايات الاحکام:ج ۲ ص ۲۷۳-۲۷٤.

[3]-داحزاب سورت ۵۹ايت.

[4]-تفسيرايات الاحکام:ج ۲ ص ۲۷٤.

**لومړی مطلب: دنارینه وو په شان ځان جوړول**

الله جل جلاله نارینه په خپل شکل او ښځینه په خپل شکل سره پیدا کړي دي، چې په دې هر شکل پیدا کولو کې د الله جل جلاله ځانګړي حکمتونه دي، له همدې امله په احادیثو کې په دې اړه ښځو ته ځینې لارښوونې کړي چې یو څو یې دا دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ، وَالمُتَرَجِّلاَتِ مِنَ النِّسَاءِ، وَقَالَ: «أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ»(1).

ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی وايي: نبی کریم صلی الله علیه وسلم په هغو نارینه و چې د ښځو په څېر ځان جوړوي او په هغو ښځو چې د نارینه و په څېر ځان جوړوي لعنت ویلی او ویل به یې: داسې خلک له کورو وباسئ.

**د حدیث شرح:**

(المخنثین): له خنثی څخه اخیستل شوی دی نرمي، ښځونک کېدلو ته ویل کیږي(2).

(المترجلات) له (رجل) اخیستل شوي، په النهایة کې راغلي:(يَعْنِي اللاَّتِي يَتَشَبَّهن بِالرِّجَالِ فِي زِيِّهم وهيأتِهِم ،وَيُقَالُ امِرأةٌ رَجُلَة؛ إِذَا تَشَبَّهت بالرِّجال(3).

یعنې: هغو ښځو ته ویل کیږي چې نارینه و سره په شکل او هیئت کې مشهابهت کوي.

(أخرجوهم): یعنې: کورو کې یې له ښځو سره مه پرېږدئ ځکه ددوی په داخلېدلو سره فتنې پیدا کېږي. ویل کیږي چې (ښځه نر ده) دا جمله هغه وخت ویل کېږي چې کله ښځه د نارینه و سره ځان مشابه کړي.

په حدیث کې ښځو ته لارښوونه شوې چې د نارینه و په څېر له ځان جوړولو څخهخ ډډه وکړي.

---

1 - بخاري، صحیح البخاري، کتاب اللباس، بَابُ إِخْرَاجِ المُتَشَبِّهِينَ بِالنِّسَاءِ مِنَ البُيُوتِ،ج 7 /ص159. شمیره ۵۸۸۶

2 - ابن الأثیر، مجد الدین أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد بن محمد ابن عبد الکریم الشیباني الجزري(1399هـ - 1979م) النهایة في غریب الحدیث والأثر، تحقیق: طاهر أحمد الزاوی - محمود محمد الطناحي >الناشر: المکتبة العلمیة – بیروت.،ج2/ ص 82

3 - مخکنی مرجع ،ج2/ ص ۲۰۳

بل حدیث: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ»([1]).

ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی وایي :رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغو نارینه و چې د ښځو سره ځان مشابه کوي او په هغو ښځو چې له نارینه و سره ځان مشابه کوي، لعنت ویلی دی.

**د حدیث شرح:** ابن حجر رحمه الله وایي: له دې حدیث څخه ښکاري چې د نارینه و سره په لباس کې کوم چې نارینه و پورې خاص دی، ځان مشابه کول حرام دی،همدرانګه بالعکس.

ابن حجر رحمه الله بیا په دې نظر دی چې په خبرو او تګ کې مشابهت هم حرام دی، البته د لباس کیفیت د هرځای رواج پورې تړلی دی، ځکه ځینې ځایونو عرف کې د ښځو او نارینه و جامې یو شان ګڼل کیږي، د ښځو او نارینه و توپیر په حجاب سره کیږي.

په تګ او خبرو کې مشابهت کې حراموالی قصد پورې تړلی دی، یعنې دا هلته حرام دي چې څوک قصداً مشابهت کوي خو که څوک خلقتي شکل سره پیدا شوی وي، هغه ته امر کیږي چې هڅه دې وکړي چې دا عادت پرېږدي.([2]).

همدارنګه بل حدیث دی چې کومه ښځه له نارینه سره په جامه کې مشابهت کوي د هغې څه حکم دی؟ فرمایي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ، وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ»([3]).

---

1 - بخاري، صحيح البخاري، كتاب اللباس، بَابٌ: المُتَشَبِّهُونَ بِالنِّسَاءِ، وَالمُتَشَبِّهَاتُ بِالرِّجَالِج7/ ص159، شمیره 5885.

2 - ابن حجر، فتح الباري شرح صحيح البخاري ج ١٠ / ص٣٣٢.

3 - أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (ب.ت)سنن أبي داود، الناشر: المكتبة العصرية، صيدا – بيروت. ج4/ص 60)، شیخ الباني وايي: پورتنی حدیث صحیح دی.صحیح وضعیف سنن ابی داود، للالباني، ج4/ ٦٠.

ژباړه: له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دي وايي :رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه نارینه لعنت ویلی چې د ښځو جامې اغوندي او په هغې ښځې يې لعنت ویلی چې د نارینه جامې اغوندي.

بل ځای فرمايي: عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: قِيلَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ، فَقَالَتْ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ»([1]).

ژباړه: ابن ابی ملیکة وايي: عایشې رضی الله عنها ته چا وویل: دلته یوه ښځه ده پڼې پښو کوي، هغې وویل: رسل الله صلی الله علیه وسلم په هغې ښځې چې د نارینه پیزار پښو کوي، لعنت ویلی دی.

**د حدیث شرح:** دې حدیث کې له پڼې څخه د نارینه پڼې مراد دي ځکه ښځو ته د ښځینه پڼې پښو کول څه ناروا نه دي.

شیخ عبدالمحسن العباد([2]) ددې احادیثو په شرح کې ډېر زیات فقهي مسائل ذکر کړي دي  چې د ټولو خلاصه داده وايي:( تبتعد المرأة عن لبس أي شيء يتعلق بالرجال أو من ألبسة الرجال)([3]).

ژباړه: ښځه باید له هر هغې جامې څخه چې د نارینه و پورې اړه لري ځان وساتي.

---

1 - سنن أبي داود، كتاب اللباس، بَابٌ فِي لِبَاسِ النِّسَاءِ، ج4/ ص60) شمیره ۴۰۹۹. شیخ البانی وايي: پورتنی حدیث صحیح دی.صحيح وضعيف سنن ابی داود، للالبانی، ج4/ ٦٠.

2 - دا د عربی نړۍ عالم دی چې د سنن ابی داود شرحه يې کړې ده پوره نوم يې: عبد المحسن بن حمد بن عبد المحسن بن عبد الله بن حمد بن عثمان آل بدر دی، لقب يې عباد دی، په 1353 هـ.ق کال د عربستان د زلفی په نوم ښار کې زیږېدلی ،همدلته يې زده کړې چې وروسته بیا ریاض ته تللی دی، ګڼ شمیر تالیفات لري، همدارنګه ډېر ریکاډ شوي درسونه لري چې اوس هم په راډیوګانو او نورو مطبوعاتو کې اوریدل کیږي، مشهور درسونه يې: 1-شرح مُختصر ألفية السيوطي. القيروانية, صحيح البخاري، سنن النسائي، سنن أبي داود، اللؤلؤ والمرجان او نور. دا معلومات له لاندې سایټ څخه نقل شوي www.islamway.com

3 - عبد المحسن العباد ،(1388هـ ، 1968م) شرح سنن أبي داود ـ دار النشر : المكتبة السلفية المدينة،ج23/ص 139)

### دوهم مطلب: د مړي له کبله زينت پرېښودل

کله چې مړی وشي که هغه د ښځې خاوند وي دهغه لپاره په اسلامي شريعت کې حکم دادی چې دا به څلور مياشتې او لس ورځې ماتم کوي خو که له ميړه څخه پرته بل څپل يې وفات شي، د هغه په اړه په نبوي احاديثو کې لاندې لارښوونې راغلي دي:

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا جَاءَ نَعْيُ أَبِي سُفْيَانَ مِنْ الشَّأْمِ دَعَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا بِصُفْرَةٍ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ فَمَسَحَتْ عَارِضَيْهَا وَذِرَاعَيْهَا وَقَالَتْ إِنِّي كُنْتُ عَنْ هَذَا لَغَنِيَّةً لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا(1).

ژباړه: زينب بنت ابی اسلمه وايي: کله چې له شام څخه د ابوسفيان د مرگ خبر راغی د مرگ په دريمه ورځ ام حبيبې رضی الله عنها زېړ رنگه خوشبويي راوغوښته د مخ دواړه طرفونه د زنې څخه تر غوړو لاندې ساحې پورې او بازوگانو باندې يې ووهله، او ويې ،يل: زه دې ته اړتيا هم نه لرم خو ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: کومه ښځه چې په الله او د اخرت په ورځ ايمان لري، هغې ته روا نه دي چې له مېړه پرته په بل مړي باندې له درې ورځو څخه ډېر سينگار او زينت پرېږدي خو په مېړه باندې به څلور مياشتې او لس ورځې سينگار پرېږدي.

ددې حديث په رڼا کې فقهاء وايي چې :(أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى وُجُوبِ الإِْحْدَادِ فِي عِدَّةِ الْوَفَاةِ مِنْ نِكَاحٍ صَحِيحٍ وَلَوْ مِنْ غَيْرِ دُخُولٍ بِالزَّوْجَةِ.

أَمَّا إِحْدَادُ الْمَرْأَةِ عَلَى قَرِيبٍ غَيْرِ زَوْجٍ فَإِنَّهُ جَائِزٌ لِمُدَّةِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ فَقَطْ، وَيَحْرُمُ الزِّيَادَةُ عَلَيْهَا. وَالدَّلِيل عَلَى ذَلِكَ وَلِلزَّوْجِ مَنْعُهَا مِنَ الإِْحْدَادِ عَلَى الْقَرِيبِ)(2).

ژباړه: علماو په دې اجماع کړې چې کله د نکاح عقد صحيح وي، اگر که دخول يې نه وي کړی بيا هم پر ښځه باندې احداد( د زينت پرېښودل) واجب دي، خو کله يې چې نږدې

---

1 - صحيح البخاري،کتاب الجنائز، بَابُ إِحْدَادِ المَرْأَةِ عَلَى غَيْرِ زَوْجِهَا، ج2/ص 78 ، شميره 1280.

2 -هيئة کبار علماء الاسلام.(۱۴۰۷ه.ق) الموسوعة الفقهية الکويتية،دارالسلاسل دولة الکويت. ج2/ص 105).

خپل مړ وي، پر هغه باندې له درې ورځو زیاتو زینت پرېښودل جائز نه دي، مېړه یې حق لري چې زینت پرېښودلو څخه یې منع کړي.

## دریم مطلب: ښځې لپاره دجنازې پسې تګ

کله چې مړی وشي ځینې ښځې د جنازې سره هدیرې ته ځي په دې اړه په احادیثو کې لاندې لارښوونې شوي چې فرمایي: عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «نُهِينَا عَنِ اتِّبَاعِ الجَنَائِزِ، وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا»([1]).

ژباړه: ام عطیه رضی الله عنها([2]) وایي: مونږ د جنازې پسې تګ کولو څخه منع شوي یو، خو ډېر ټینګار یې راباندې ونکړ.

## د حدیث شرح:

له ام عطیه څخه د حفصې په روایت کې (كُنَّا نُهِينَا عَنِ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ) ([3]) په الفاظو سره راغلی دی.د اسماعیلي په روایت کې د (نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)([4]) معلومې صیغې سره راغلی دی.

وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَيْنَا: ددې معنی داده چې لکه د نورو منهي عنه شیانو په څېر یې په دې خبره کې ډېر تاکید په مونږ ونکړ. یعنې مطلب یې دا وو چې جنازه کې وتل حرام نه بلکې مکروه دي. همدا نظر د جمهورو علماو هم دی. امام مالک په جواز قائل دی او دا د اهل مدینه و

1 - بخاری، صحیح البخاري،کتاب الجنائز، بَابُ اتِّبَاعِ النِّسَاءِ الجَنَائِزَ، (2/ 78) شمیره ۱۲۷۸.

2 -پوره نوم یې: نُسيبة، ځینې وایي: نَسيبة بنت كعب، یا بنت الحارث أم عطية الأَنْصارِيّة ده. صحابية ده. له النبي صلى اللَّهُ عَلَيْهِ وسَلَّم, عُمَر بْن الخطاب څخه روایت کوي له دې څخه: إسماعيل بن عبد الرحمن بن عطية، أنس ابن مالك، عبد الملك بن عُمَير، علي بن الأقمر، محمد ابن سيرين، او خور یې حفصة بنت سيرين او أم شراحيل روایتونه کړي. مشره ښځه وه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې په ډیرو غزاګانو کې برخه اخیستې. وګوره: ابن عبد البر, أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عاصم النمري ، القرطبي(1412 هـ - 1992 م)الاستيعاب في معرفة الاصحاب، المحقق: علي محمد البجاوي، الناشر: دار الجيل، بيروت. ج4 / 1947.

3 - بخاری، صحیح البخاري،کتاب الجنائز، بَابُ اتِّبَاعِ النِّسَاءِ الجَنَائِزَ، (2/ 78) شمیره ۱۲۷۸

4 - ابوادود، سنن ابي داود،کتاب تَفْرِيعِ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ خُرُوجِ النِّسَاءِ فِي الْعِيدِ ج1/ ص 296. شیخ الباني وایي: ضعیف دي.۲۹٦/1.

رایه هم ده.([1]) په جواز باندې هغه حدیث هم دلالت کوي کوم چې ابن ابی شیبه روایت کړی دی: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي جِنَازَةٍ فَرَأَى عُمَرُ امْرَأَةً فَصَاحَ بِهَا فَقَال دعها يَا عمر)([2]).

ژباړه: له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: نبي صلی الله علیه وسلم په یوه جنازه کې وو، عمر رضی الله عنه یوه ښځه ولیده او بیا یې په هغې ښځې غږ وکړ، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: عمره! پرېږده یې([3]).

## څلورم مطلب: دښځې لپاره یوازې سفر کول

کله چې ښځه له کور بیرون سفر کوي په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه لاندې لارښوونې رانقل شوي چې په ترتیب سره یې بیانوو:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تُسَافِرِ المَرْأَةُ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ، وَلاَ يَدْخُلُ عَلَيْهَا رَجُلٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ»، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَخْرُجَ فِي جَيْشِ كَذَا وكَذَا، وَامْرَأَتِي تُرِيدُ الحَجَّ، فَقَالَ: «اخْرُجْ مَعَهَا»([4]).

ژباړه : ښځه به له خپل محرم نه پرته سفر نه کوي او ښځې ته به هغه څوک داخلیږي چې ددې شرعي محرم وي، یو تن صحابي پوښتنه وکړه، چې ای د الله رسوله! زه خو له فلاني او فلاني لښکر سره ځم او ښځه مې غواړي، چې حج وکړي نو دا به څنگه شي؟رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، چې له خپلې ښځې سره حج ته لاړ شه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ: سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ، وَلاَ تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ»([5]).

---

1 - ابن حجر، فتح الباري شرح صحیح البخاري، ج۳/ص ۱۴۵

2 - احمد بن شعیب النسائي،سنن النسائي ج2/ ص394حدیث شمیره ۱۹۹۸، سنن ابن ماجه بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ, ج1/ ۵۰۵، شمیره ۱۵۸۷

3 - ابن حجر، فتح الباري شرح صحیح البخاري ج3/ ص ۱۴۵

4 - بخاري، صحیح البخاري، کتاب جزاء الصید، بَابُ حَجِّ النِّسَاءِ، ج3/ص 19.شمیره 1862 شمیره.

5 - بخاری، صحیح البخاري، کتاب الجهاد والسیر، بَابُ مَنِ اكْتُتِبَ فِي جَيْشٍ فَخَرَجَتِ امْرَأَتُهُ حَاجَّةً، ج4/ ص59) حدیث شمیره 3006.

ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی وایي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ویل یې: نارینه د له پردۍ ښځې سره بلکل ځانته ناسته نه کوي او ښځه به سفر نه کوي مګر هغه وخت چې محرم ورسره وي.

عن قَزَعَةَ، مَوْلَى زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الخُدْرِيَّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يُحَدِّثُ بِأَرْبَعٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَعْجَبْنَنِي وَآنَقْنَنِي قَالَ: «لاَ تُسَافِرِ المَرْأَةُ يَوْمَيْنِ إِلَّا مَعَهَا زَوْجُهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ، وَلاَ صَوْمَ فِي يَوْمَيْنِ الفِطْرِ وَالأَضْحَى، وَلاَ صَلاَةَ بَعْدَ صَلاَتَيْنِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَبَعْدَ العَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ وَلاَ تُشَدُّ الرِّحَالُ، إِلَّا إِلَى ثَلاَثَةِ مَسَاجِدَ مَسْجِدِ الحَرَامِ، وَمَسْجِدِ الأَقْصَى وَمَسْجِدِي»([1]).

ژباړه: قزعه ی زیاد ازاد کړی غلام وایي: ماله ابوسعید الخدري څخه اوریدلي چې هغه به څلور خبرې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې روایت کولې، چې زه به یې ډېر خوشاله کولم: یوه دا چې ښځه به دوه ورځې سفر بې له مېړه او یا محرمه نه کوي، بله دا چې د کوچني اختر او لوی اختر په ورځ روژه نیول نشته، دریم دا چې له دوه لمونځونو وروسته نفل نشته یو د سهار له لمانځه وروسته چې ترڅو لمر نه وي راختلی او بل د مازدیګر له لمانځه وروسته چې ترڅو لمر نه وي ډوب وشی، څلورم دا چې له دې درې مسجدونو پرته نورو مسجدونو ته د ثواب په نیت سفر کول نشته: مسجد حرام، مسجد اقصی او همدا مسجد(نبوي مسجد).

### د پورته احادیثو شرح:

ځینو روایتونو کې یوه ورځ ځینو روایتونو کې یوه شپه، ځینو کې درې ورځې راغلی ځینو کې درې شپې راغلی، ددوی دواړو تطبیق دادی چې د ورځو سره شپې او د شپو سره ورځې مراد دي.

دا هم احتمال لري چې دا عددونه یادول هسې یو تمثیل دی، هر روایت د کمو ورځو تمثیل کړی یوه ورځ اعدادو کې کم عدد دی، دوه د ډېرو لومړی عدد دی او درې د جمع

---

[1] - بخاری، صحیح البخاري،کتاب جزاء الصید، بَابُ حَجِّ النِّسَاءِ، ج2/ص 61، حدیث شمیره 1862.

لومړی عدد دی، ګواکې دېته اشساره ده چې په دومره کم سفر کې بې له محرمه سفر جائز نه ده نو په ډېرو کې خو بلکل اجازه نشته.([1]).

اکثره علماء په دې نظر دي چې ښځې ته له محرم پرته له کوره وتل جائز نه دي، برابره خبره ده چې سفر لنډ وي او که اوږد ځکه چې د ابن عباس روایت مطلق راغلی دی.([2]).

لنډه دا چې ښځې ته له محرم پرته سفر کول ناروا دي ، فقهاء په دې اتفاق دي چې پر ښځې حرام دي، چې یواځې او پرته له مېړه او محرم سفر وکړي؛ ځکه له پورته احادیثو څخه معلومېږي، چې له ښځې سره سفر کول د جهاد له سفر څخه هم مهم دي([3]).

## پنځم مطلب: ښکنځلې او پوچې خبرې کول

ښکنځلې او پوچې خبرې کول د ناوړه اخلاقو له جملې څخه شمېرل کیږي چې دا ي، مسلمان سره هم نه ښايي هغه که نارین هوي او که ښځينه، په دې اړه په نبوي احادیثو کې ګڼ روایتونه راغلي جې له دې ناوړه اخلاقو څخه یې منع کړې لومړی هغه روایت نقلوو چې عام دی نارینه او ښځینه دواړ ته شامل دی فرمايي: عَن ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّه عَنْهُ قَالَ: قَالَ رسُولُ اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: "لَيْس المُؤْمِنُ بالطَّعَّانِ، ولا اللَّعَّانِ، ولا الْفَاحِشِ، ولا الْبَذِيء "رواه الترمذي وقال: حديثٌ حسنٌ.(4).

ژباړه: له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: مومن پېغور ورکونکی، لعنت ویونکی، پوچې خبرې کونکی او بې حیا نه وي.

---

1 - علي بن(سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري(1422هـ - 2002م) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، الناشر: دار الفكر، بيروت – لبنان. ج5/ص 1744).

2 - أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفورى(ب.ت)تحفة الأحوذي،الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، ج4/ص 278).

3 - ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي(1412هـ - 1992م)حاشيه ابن عابدين, الناشر: دار الفكر-بيروت.ج ۱/س۱٤٦.

4 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي اللَّعْنَةِ، ج4/ ص350، حديث شميره 1977.شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: محمد ناصر الدين الألباني(ب.ت) صحيح وضعيف سنن الترمذي، مركز نور الإسلام لأبحاث القرآن والسنة ،بالإسكندرية، ج4/ ص ۴۷۷.

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وكَذَا، قَالَ غَيْرُ مُسَدَّدٍ: تَعْنِي قَصِيرَةً، فَقَالَ: «لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَتْ بِمَاءِ الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ»([1]).

ژباړه: له عائشې رضی الله عنها روایت دی فرمایي: ما نبي صلی الله علیه وسلم ته وویل: صفیه داسې او داسې ده یعنې: لنډۍ ده. هغه راته وویل: تاداسې خبره وکړه که دا خبره له بحر سره ګډه شي هغه به هم ګنده او بد بویه کړي.

لنډه دا چې په پورته حدیث کې ښځو ته لارښوونه شوې چې پوچې خبرې او له ښکنځلو ځان وساتي.

**شپږم مطلب: دښځې لپاره سر خریل**

ښځې ته په کار دي چې ټول وښتان پریږدي،ځکه وښتان ددې لپاره زینت او ددې او د نارینه ترمینځ د توپیر نښه ده، د حج په مناسکو کې د ښځې لپاره سر خریل نشته بلکې یواځې کمه اندازه قصر دی، په دې اړه حدیث دی:( أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ حَلْقٌ إِنَّمَا عَلَى النِّسَاءِ التَّقْصِيرُ) (2) .

ژباړه: ابن عباس رضي الله عنهما وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په ښځو باندې د سر ویښتانو خریل نشته بلکې لنډول یې دی.

مبارکفوري وایي: ټول اهل علم په دې نظر دي چې په حج کې په ښځه باندې د وښتانو خریل نشته بلکې لنډول یې دي او په همدې اجماع هم ده.(3).

عن أَبِي بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: وَجِعَ أَبُو مُوسَى وَجَعًا شَدِيدًا، فَغُشِيَ عَلَيْهِ وَرَأْسُهُ فِي حَجْرِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِهِ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهَا شَيْئًا، فَلَمَّا أَفَاقَ، قَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ

---

1 - سلیمان بن اشعث، سنن أبي داود، کتاب الادب، بَابٌ فِي الْغِيبَةِ، ج4/ص 269) حدیث شمیره ۴۸۷۵. شیخ الباني وایي: دا حدیث صحیح دی، وګوره: صحیح وضعیف سنن أبي داود، ۴۸۷۵ شمیره.

2 - سلیمان بن اشعث، سنن أبی داود، کتاب المناسک، بَابُ الْحَلْقِ وَالتَّقْصِيرِ، ج5/ص 345).شیخ الباني وایي: دا حدیث صحیح لغیره دی. وګوره: صحیح وضعیف سنن أبي داود، 1984شمیره.

3 - المبارکفوری، تحفة الاحوذي، ج 3 /ص 566.

بَرِئَ مِنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَرِئَ مِنَ الصَّالِقَةِ وَالحَالِقَةِ وَالشَّاقَّةِ»(1).

ژباړه: له ابوبرده بن موسی څخه روایت دی وايي: یوه ورځ په ابوموسی سخت درد راغی چې بې هوشه شو، سر يې د ښځې په غېږ کې ایښی وو، (ښځې يې سختې چيغې شروع کړې) خو ده ځواب نه شو ورکولی، کله چې په هوش راغی ويې ويل: زه له هغه کار بېزاره يم له کوم کار چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بېزاره وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغې ښځې چې د مصیبت پرمهال چيغې وهي، هغې ښځې چې سر خريوي او له هغې ښځې چې د مصیبت پرمهال جامې شلوي؛ بېزاره وو.

**د مفرداتو معناوې:**

الصَّالِقَةِ:من الصلق: هو الصوتُ الشَّدِيدُ، يُريد رَفْعُه فِي الْمَصَائِبِ وَعِنْدَ الفَجِيْعَة بالمَوْتِ.(2).

يعنې: (صلق) د مصیبت او فاجعې پرمهال چيغو او لوړ اواز ته وايي.

الحَالِقَةِ: وَالْحَالِقَةُ الَّتِي تَحْلِقُ رَأْسَهَا عِنْدَ الْمُصِيبَةِ.(3).

ژباړه: هغه ښځه چې د مصیبت پرمهال خپل سر خريي

الشَّاقَّة: الشَّاقَّةُ الَّتِي تَشُقُّ ثَوْبَهَا عِنْدَ الْمُصِيبَةِ. (4).

ژباړه: هغه ښځه چې د مصیبت پرمهال جامې شلوي.

عَنْ عَائِشَةَ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ تَحْلِقَ المَرْأَةُ رَأْسَهَا»(5).

---

1 - بخاري، صحيح البخاري،كتاب الجنائز، بَابُ مَا يُنْهَى مِنَ الحَلْقِ عِنْدَ المُصِيبَةِ، ج2/ص 82) حديث شميره١٢٩٦.

2 - ابن الأثير، النهاية في غريب الحديث والأثر، ج3/ص 48) مادة: صلق

3 - ابن حجر، فتح الباري لابن حجر (3/ 166)

4 - مخكنی مرجع

5 - ابوعيسى الترمذي، سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الحَلْقِ لِلنِّسَاءِ ،ج3/ص 248) حديث شميره ٩١٤.شيخ الباني وايي: حديث ضعيف دی. صحيح وضعيف الترمذی، ج٣/ص ٢٤٨.

ژباړه: له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی وايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم له دې څخه منع کړې چې ښځه دې خپل سر وخريي.

د همدې حديثو په رڼا کې فقهاو ويلي چې د ښځې لپاره له ضرورت پرته د وېښتانو خريل حرام او منع دي حتی تردې چې ځينې وايي: دا مُثله ده.

خو که د عذر يا دردر له امله يې وېښتان وخريل د احنافو او حنابله و له نظره باک نه کوي خو د شوافعو له نظره بيا هم مکروه دي. (1) .

## اووم مطلب: د ښځي لپاره سر تورول

د وېښتانو تورولو په هکله هم ځيني لارښوونې راغلي دا لارښوونې اګر که د نارينه و ته شوي خو ښځې هم په دې کې شاملې دي فرمايي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ، وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ»(2).

ژباړه: جابر بن عبدالله رضی الله عنه وايي: د مکې د فتحې په ورځ د ابوبکر رضی الله عنه پلار ابوقحافه راوستل شو، د سر او ږيرې ويښتان يې تک سپين شوي وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: دا سپين وېښتانو رنګ يې بدل کړئ خو له تورولو يې ځان وساتئ.

امام نووي ددې حديث په شرحه کې ليکي:د وېښتانو تورولو په هکله زمونږ د مذهب(شافعي مذهب) نظر دادی چې له مجاهد پرته نورو ته که نارينه وي او که ښځينه د وېښتانو تورول ا حرام او منع دي، ځکه په حديث کې تېر شول چې (وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ) يعنې: له تورولو يې ډډه وکړئ.([3])

[1] - ابن عابدين، رد المحتار، 2 / 182 و 5 / 261.

2 - مسلم، صحيح مسلم، بَابٌ فِي صَبْغِ الشَّعْرِ وَتَغْيِيرِ الشَّيْبِ،ج3/ ص1663) حديث شميره ۲۱۰۲.

3 - أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي(1412هـ / 1991م) شرح النوى على مسلم، الناشر: المكتب الإسلامي، بيروت- دمشق- عمان، الطبعة: الثالثة،ج14/ ص ۷۹.

همدارنگه د ابن عباس روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :( يَكُونُ قَوْمٌ يُخَضِّبُونَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ بِالسَّوَادِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ، لاَ يَرِيحُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ )(1)

ژباړه: په وروستۍ زمانه کې به داسې خلك راشي چې وېښتان به لکه ی تورو کوترو ی سینو په څېر توروي، دوی به د جنت خوشبوي حس نه کړي.

امام مبارکفوري وايي: ابن حجر ر حمه الله وایي: دوښتانو تورولو په هکله علماء درې نظره لري:

۱- ځینې په دې نظر دی چې دا حرام او یا مکروه تحریمي دي چې دا نظر د شوافعو دی او دلائل یې پورته تېر شول.

۲- ځینو علماو مطلق جواز ورکړی دی که نارینه وي او که ښځینه دوی ته‌ولو لپاره بې قید ا وشرطه جائز دی. د دوی دلیل هغه روایت دی کوم چې ابن ماجه په خپل سنن کې راوړې دي فرمايي:«إِنَّ أَحْسَنَ مَا اخْتَضَبْتُمْ بِهِ لَهَذَا السَّوَادُ، أَرْغَبُ لِنِسَائِكُمْ فِيكُمْ، وَأَهْيَبُ لَكُمْ فِي صُدُورِ عَدُوِّكُمْ» (2).

ژباړه: دا تور رنګ رنګول مو څنګه ښه ښکاري، په دې کې ستاسې د ښځو لپاره ترغیب او ستاسې د دښمنانو په زړونو کې رعب او دهشت دی.

(رُوِيَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ كَانَ يَأْمُرُ بِالْخِضَابِ بِالسَّوَادِ، وَيَقُول: هُوَ تَسْكِينٌ لِلزَّوْجَةِ، وَأَهْيَبُ لِلْعَدُوِّ)(3).

ژباړه: له عمر بن الخطاب څخه روایت دی چې هغه به په تور رنګ کولو امر کاوه او ویل به یې: دا دښځې لپاره ډاډ او د دښمن لپاره ډار دی.

---

1 - ابوداود، سنن ابی داود، کتاب الترجل، بَابُ مَا جَاءَ فِي خِضَابِ السَّوَادِ، ج۴/ ص ۸۷، شمیره 4212. شیخ البانی وایي: دا حدیث صحیح دی. وګوره: صحیح وضعیف ابي داود، 4212 شمیره.

2 - سنن ابن ماجه، بَابُ الْخِضَابِ بِالسَّوَادِ، ج2/ص 1197) حدیث شمیره 3625. محمد فؤاد عبدالباقی وایي:دا حدیث حسن دی. وګوره:المصباح الزجاجة فی زوائد ابن ماجه، ج۴/ ص ۹۳.

3 - أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (ب.ت)عمدة القاري، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، ج22 /ص 51

بل دليل يې دا دى چې ډېرو صحابه و لکه حسن، حسين،عثمان، عبدالله بن جعفر او نورو وښتان تورول(1).

3- دريم نظر دادى چې د نارينه و لپاره حرام او د ښځو لپاره جائز دي. (2).

امام نووي په دې نظر دى چې کومه ښځه مېره نلري د هغې لپاره تورول جائز نه دي او چې مېره والا وي او مېره اجازه ورکړي بيا جائز دي.(3).

**اتم مطلب: له خپل کور څخه بهر جامې ويستل**

ځينې وخت ښځه له کوره بيرون نورو ځايونو کې جامې بدلوي په دې اړه لادې روايتونه راغلي فرمايي:

عَنْ أَبِي المَلِيحِ الهُذَلِيِّ، أَنَّ نِسَاءً مِنْ أَهْلِ حِمْصٍ، أَوْ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ دَخَلْنَ عَلَى عَائِشَةَ، فَقَالَتْ: أَنْتُنَّ اللَّاتِي يَدْخُلْنَ نِسَاؤُكُنَّ الحَمَّامَاتِ؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنْ امْرَأَةٍ تَضَعُ ثِيَابَهَا فِي غَيْرِ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا هَتَكَتِ السِّتْرَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ رَبِّهَا»(4).

ژباړه: ابوالمليح الهذلي([5]) وايي: د حمص او شام سيمې ښځې عائشې ته راغلې هغې ورته وويل: تاسې د هغه ځای يې چې ښځې مو حمامونو ته ځي؟ ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: کومه ښځه چې د مېړه له کوره پرته بل ځای کې جامې وباسي، دډې او د رب ترمينځ به يې ستر مات شي.

---

1 - تحفة الأحوذي ج5 /ص 439

[2] - مخکېنی مرجع.

[3] - أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي(1412هـ / 1991م) روضة الطالبين وعمدة المفتين، تحقيق: زهير الشاويش، الناشر: المكتب الإسلامي، بيروت- دمشق- عمان، الطبعة: الثالثة،ج٣/ ص ٢٣٤.

4 - سنن الترمذي، أَبْوَابُ الْأَدَبِ, بَابُ مَا جَاءَ فِي دُخُولِ الحَمَّامِ،ج5/ص 114) حديث شميره: ٢٨٠٣.شيخ البانى وايي: دا حديث صحيح دى. وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذى ج6/ ص303.

5 - پوره نوم يې: أبو المليح بن أسامة الهذلى دى ځينې وايي: نوم يې: عامر وو. په ٩٨ ځينې وايي: په ١٠٨ او ځينې يې له دې وروسته کلونه ښي چې وفات شوی دی. له منځينيو تابيعينو څخه وو.روايتونه يې په صحيح البخاري – صحيح مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه کې شته. رتبه يې: ثقه دی. وګوره: يوسف بن عبد الرحمن بن يوسف، أبو الحجاج، جمال الدين ابن الزكي أبي محمد القضاعي الكلبي الْمِزِّيّ(1400 – 1980) تهذيب الكمال، المحقق: د. بشار عواد معروف، الناشر: مؤسسة الرسالة - بيروت ج٣٤/ ص ٣١٦.

له حدیث څخه مطلب دا دی چې د بې پروایي، فحاشي او یا بلې فتنې احتمال له وجهې جامې وېستل منع دي، خو که د کوم مصلحت یا ضرورت له امله د پلار، ورور او نورو ځایونو چې د فتنې وېره نه وي، جامې وباسي او نورې واغوندي پروا نلري.([1]) .

ابن الحاج المالكي([2]) دحمام لپاره له کوره دوتلو په باره کې د امام مالک رحمة الله علیه دمذهب څرګندونه داسي کړیده او ویلي یې دي چې:( ولا ينبغي له ان ياذن لزوجته في دخول الحمام لما اشتمل عليه فى هذا الزمان من المفاسد الدينيه والعوائد الرديه (3).

ژباړه: مېړه ته نه دي ښايي چې خپلي ښځې ته د حمام کولو لپاره له کور څخه دوتلو اجازه ورکړي ځکه چې په دي زمانه کې حمامونو ته د ښځو په وتلو ديني مفاسد، د اخلاقو سره منافي او کرکجن عادتو نه جاري دي چې د حيا ء، شرعي حجاب او ديني حميت خلاف دي ستر عورت پکي له پښو لاندي شوي دي

په داسي حال کې چې ښځو ته په خپل منځ کې هم يوه له بلي څخه دعورت پټول فرض دي او له شرعي عذر څخه پرته ښځو ته روانه دي چې په خپل منځ کې عورت سره بربنډ کړي او بيا په خاصه توګه د اجنبي ښځو په وړاندي خو يو له بلي څخه د عورت پټول داسي فرض دي لکه څرنګه چې له اجنبي سړي څخه فرض دي مګر که چېرې بيلا بيلي انفرادي غسل خاني ولري او دحجاب انتظام ولري او په کور کې دحمام کولو انتظام نه وي نو بيا يي حمام ته تلل پروا نلري .يعنې يواځې د سختې اړتيا پر مهال ورته تګ پروا نه کوي سره له دې هم بايد کومه بله لاره ولټوي، او تر وسې او توانه دې ورته نه ورځي.

---

1 - عبد العزيز بن عبد الله بن باز(ب.ت) فتاوى نور على الدرب، اعتنى به: أبو محمد عبد الله بن محمد بن أحمد الطيار، ج۲،ص ۱۱۳.

2 - پوره نوم يې: محمد بن محمد بن محمد ابن الحاج، أبو عبد الله العبدري المالكي الفاسي دی، په پلرني ښارونو کې زده کړه کړې، بيا له هغه ځايه مصر ته راغی، د عمر په وروستي مهال يې سترګې ړندې شوې چې بيا په قاهره کې په ۷۳۷ه.ق کال کې د ۸۰ کلنو په عمر مړ شو. الاعلام،ص۳۴۶.

3 - ابن الحاج أبو عبد الله محمد بن محمد بن محمد العبدري الفاسي المالكي الشهير بابن الحاج ، المدخل، الناشر: دار التراث, ج ۳ ص ۱۷۲.

## نهم مطلب: له کوره بهر خوشبوی لګول

اسلامي شریعت تل هڅه کوي چې د فتنې او فساد رامینځته کولو مخه ونیسي، بناءً هر هغه کړنه چې یاده فتنه ترې پیدا کیږي له هغې څخه یې منع کړې ده، په دې اړه ښځو ته هم په لاندې ډول لارښوونې لري:

عَنْ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ عَلَى قَوْمٍ لِيَجِدُوا مِنْ رِيحِهَا فَهِيَ زَانِيَةٌ»(1).

ژباړه:له ابوموسی اشعري رضی الله عنه روایت دی وایي:رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هره ښځه چې خوشبویي ولګوي او بیا خلك ددې خوشبویي بوی کړي، دا ښځه زانیه ده.

امام مناوي(2) وایي: مجازاً یې دېته د زنا خبره وکړه دا ځکه چې په دې خشبوي سره د زنا لپاره وړاندیز کیږي، د زنا له اسبابو څخه ده، په دې سره د خلکو په زړونو کې د ښځې محبت لوېږي چې بیا حقیقي زنا ته لاره هواریږي.(3).

عَنْ زَيْنَبَ، امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ، قَالَتْ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ فَلَا تَمَسَّ طِيبًا» (4).

ژباړه: د ابن مسعود ښځې زینب وایي: مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که تاسې کې څوك مسجد ته راتللی؛ نو خوشوبي مه وهئ.

---

1 - أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي (1406 - 1986)سنن النسائي، تحقيق: عبد الفتاح أبو غدة، الناشر: مكتب المطبوعات الإسلامية – حلب. كِتَابُ الزِّينَةِ،باب مَا يُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ مِنَ الطِّيبِ (ج8/ص 153).

2- محمدعبدالرؤف بن تاج العارفين ابن على بن زين العابدين الحدادي المناوي، نوموړی په کال٩٥٢هـ په قاهره کې زیږیدلی او په کال ١٠٣١هـ په قاهر کې وفات شوی دی، نوموړی په فنونو کې لوي عالم ؤ تقریباً اتیا تصنیفات یې کړي دي: الاعلام للزركلي: ج٤/٤٣٣ .

3 -عبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين المناوي القاهري(1356) فيض القدير، الناشر: المكتبة التجارية الكبرى – مصر، الطبعة: الأولى (ج١/ص ٣٥٥).

4 - صحيح مسلم،بَابُ خُروجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ إِذَا لَمْ يَتَرَتَّبْ عَلَيْهِ فِتْنَةٌ، وَأَنَّهَا لَا تَخْرُجْ مُطَيَّبَةً، (ج1/ص 328) حديث شميره:443.

ددې احاديثو په رڼاکې علماو ويلي چې د ښځې خوشبوي لګول بېلابېل حالات لري چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

**لومړی حالت: د خوشبوي لګولو روا والی:** دې حالت کې خوشبوي لګول مستحب عمل دی، ځکه په دې سره د دواړو ترمينځ مينه زياتېدلی شي. امام مناوي په فيض القدير کې ليکي: أما التطيب والتزين للزوج فمطلوب محبوب قال بعض الكبراء تزيين المرأة وتطيبها لزوجها من أقوى أسباب المحبة والألفة بينهما وعدم الكراهة والنفرة لأن العين رائد القلب فإذا استحسنت منظرا أوصلته إلى القلب فحصلت المحبة وإذا نظرت منظرا بشعا أو ما لا يعجبها من زي أو لباس تلقيه إلى القلب فتحصل الكراهة والنفرة ولهذا كان من وصايا نساء العرب لبعضهن إياك أن تقع عين زوجك على شيء لا يستملحه أو يشم منك ما يستقبحه)(1).

ژباړه: د مېړه لپاره د ښځې خوشبوي لګول او سينګار کول غوره کار دی، مشرانو ويلي د مېړه لپاره سينګار او خوشبوي لګول د مينې زياتېدلو ستر لامل دی، ځکه چې سترګې د زړه لپاره ګروپونه دي، کله چې سترګې ښايسته منظر ويني زړه ته يې رسوي، نو مينه لاسته راوړي او چې بد منظر يا بېکاره لباس ويني کرکه او نفرت زېږوي، همدا وجه وه چې پخوانيو عربانو به يو بل ته په توصيه کې ويلې: له دې ځان وساته چې د مېړه دې په داسې څه سترګې ولګېږي چې خوښې نه شي او يا له تا څخه بد بوی حس کړي.

**دويم حالت:** ددې لپاره خوشبوي لګول چې پردي سړي يې بوی کړي، دا حرام او ناروا دي، دليل هغه روايتونه دي کوم چې پورته تېر شول.

**دريم حالت:** خوشبوي لګول او بيا بېرون تلل او غالبه ګمان يې دا وي چې پردي نارينه به يې بوی حس کړي، دا هم حرام او ناروا دي، اګر که ددې په نيت کې نه وي دا ځکه چې د فتنې وېره شته.

پورته د زينب رضی الله عنها حديث کې ذکر شول چې مسجد ته د تللو پرمهال له خوشبوي لګولو منع شوې وو، که فکر وکړل شي کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم

---

1 - المناوي، فيض القدير، (ج3/ص 147).

مسجد ته د تللو پرمهال دوی له خوشبوی لګولو منع کړې وې چې هلته غالباً ګمان داوو چې دا بوی به نارینه حس کړي، یعني د فتنې وېره وه؛ نو بازارونو او یا د نورو غونډو ته د تللو پرمهال خو بیخي ناروا دي.

**ځلورم حالت:** خو که ښځې داسې ځای ته ځي چې د نارینه و سره هیڅ نه مخ کیږي او یا یواځې د ښځینه و غونډه وي، لکه خپل خاوند سره په یواځې په موټر کې تلل، یا د ښځینه غونډو ته له خاوند سره په شخصي موټر کې تلل او داسې نور حالات چې د نارینه و د بوی کولو یا فتنې وېره نه وي، خاص مشکل نه لري.

دلائل یې دادي:

۱- پورتینو دلائلو کې چې د تحریم کوم علت وو هغه دې کې نشته.

۲- د صحابه و له ښځو هم داسې حالت رانقل شوي عائشه رضی الله عنها وایي:«كُنَّا نَخْرُجُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَكَّةَ فَنُضَمِّدُ جِبَاهَنَا بِالمسُّكِّ الْمُطَيَّبِ عِنْدَ الْإِحْرَامِ، فَإِذَا عَرِقَتْ إِحْدَانَا سَالَ عَلَى وَجْهِهَا فَيَرَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلاَ يَنْهَاهَا»([1]).

ژباړه: مونږ نبی صلی الله علیه وسلم سره مکې ته تللو، تندې به مو په خوشبویه مشکو ککړې وې، کله به چې به زمونږ په مخ خوله راغله او نبي صلی الله علیه وسلم به ولیده نو مونږ به ې له خوشبوي نه منع کولو.

دا هغه وخت وو چې د ښځو قافلې به له نارینه و جدا تللې او یا دا چې ښځه به په خپلې ډولۍ کې وه د نارینه و سره یې اختلاط نه راتللو.([2]).

یعني له کور څخه د بهر وتلو په وخت د ښځې عطر وهل دومره سخته ګناه لري لکه چې زنا یې کړې و ي یا داچې بهر ته تللو په وخت کې عفیفي او پاکي ښځې خو شبو ي وهي خو د بد کارو سړو پا ملرنه ځان ته واړوي .

---

1 - سنن أبي داود،كتاب المناسك، بَابُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ، ج2/ص 166) حدیث شمیره:۱۸۳۰. شیخ البانی وایي: دا حدیث صحیح دی. وګوره: صحیح وضعیف سنن ابی داود، ۱۸۳۰ شمیره.

2 - شبكة الالوكة، ابوالبراء محمد بن عبدالمنعم ال علاوة،عنوان المقالة: حکم التعطر للنساء، ۱۴۲۳ه.ق.

نو له همدي كبله كله چې ښځه له كوره وځي داسي عطرونه بايد ونه لګوي چې خو شبوي لرونكي وي بلكي كه عطر لګوي هم بايد داسي عطر ولګوي چې خو شبوي خپريدونكي نه وي لكه چې په حديث كي راغلي دي .

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ، وَخَفِيَ لَوْنُهُ، وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ، وَخَفِيَ رِيحُهُ»(1).

ژباړه: له ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د ښځو لپاره ښه عطر هغه دي چې بوی يې ښكاري او رنګ يې نه وي او د ښځو لپاره ښه عطر هغه دي چې رنګ يې وي او بوی يې نه وي.

**لسم مطلب: عورت پټول**

وړاندې مو هم وويل چې اسلامي شريعت روح داسې دی چې له هرڅه څخه فتنه او فساد پېښېږي، له هغه څخه يې منع كړې ده، د فتنې او فساد له اسبابو څخه يو هم عورت لوڅول دي چې په دې اړه ښځو ته لاندې لارښوونې شوي:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ، دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ، فَأَعْرَضَ عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: «يَا أَسْمَاءُ، إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ تَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هَذَا وَهَذَا» وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وكَفَّيْهِ)(2).

ژباړه:عايشه رضى الله عنها وايي:اسماء بنت ابى بكر رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغله چې نرۍ جامې يې اغوستې وې، رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې مخ واړاوه او ويې ويل: ای اسماء! ښځه چې د بلوغ حالت ته ورسيږي له هغې سره نه ښايي چې دا او دا ځايونه يې وليدل شي، مخ او ورغويو ته يې اشاره وكړه.

---

1 - أحمد بن شعيب أبو عبد الرحمن النسائي.( 1411 – 1991م).سنن النسائي الكبرى،الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت،الطبعة الأولى،كتاب الزينة، بَابُ الْفَصْلِ بَيْنَ طِيبِ الرِّجَالِ، وَطِيبِ النِّسَاءِ، ج ٥ ص ٤٢٨. حديث شميره:5117.شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح ىي. وګوره: صحيح وضعيف سنن النسائي،ج١١/ص ١٨٩.

2 - سنن أبي داود، كتاب الزينة، بَابٌ فِيمَا تُبْدِي الْمَرْأَةُ مِنْ زِينَتِهَا،ج4/ص 62، حديث شميره:٤١٠٤.شيخ البانى وايى: دا حديث صحيح دى. وګوره: صحيح وضعيف سنن ابى داود، ٤١٠٤ شميره.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «المَرْأَةُ عَوْرَةٌ، فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ»([1]).

ژباړه: له عبدالله څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ښځه عورت ده، کله چې له کوره ووتله شیطان يې ځاري.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ، دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ، فَأَعْرَضَ عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: «يَا أَسْمَاءُ، إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ تَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هَذَا وَهَذَا» وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وكَفَّيْهِ »(2).

ژباړه: له عائشه رضی الله عنهاڅخه روایت دی چې اسماء بنت ابی بکر راغله چې نرۍ جامې يې اغوستې وې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای اسماء! جیلۍ چې کله حائضه(بالغه) شي، نه ښايي چې له دې او دې پرته نور ځایونه يې ولیدل شي، بیا يې مخ او ورغویو ته اشاره وکړه.

**فوائد او احکام**

ددې احادیثو څخه فقهاو لاندې مسائل استنباط کړي دي:

1- د پردي نارینه پروړاندې د مسلمانې ښځې عورت:

د پردي نارینه په وړاندې د ښځې ټول بدن عورت دی، یواځې مخ او ورغوي ترې مستثنی دي، چې دا نظر د احنافو دی، دلیل يې د عبدالله حدیث دی چې تیر شو.([3])

1 - سنن الترمذي،أَبْوَابُ الرَّضَاعِ، بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الدُّخُولِ عَلَى المُغِيبَاتِ، ج3/ص 468، حديث شميره:١١٧٣. شيخ البانی وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذي، ج3/ ص ١٧٣.

2 - سنن ابی داود، كتاب اللِّبَاسِ، بَابٌ فِيمَا تُبْدِي الْمَرْأَةُ مِنْ زِينَتِهَا ج4، ص ٦٢. حديث شميره:٤١٠٤. شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دی.وګوره: صحيح وضعيف سنن ابي داود، ٤١٠٤ شميره.

3 - علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني.(ب.ت) الهداية في شرح بداية المبتدي،المحقق: طلال يوسف، الناشر: دار احياء التراث العربي - بيروت – لبنان, ج1/ ص٤٥.

حنابله و نظر دادی چې ښځه ټوله عورت دی آن تردې چې نوك يې هم په عورت کې حسابيږي بايد پټ شي. تردې چې دوی وايي: ښځه بايد پردې سړي په وړاندې ډوډي هم ونه خوري ځکه چې ورغوي يې ښکاري.([1]).

۲- د مسلمانې ښځې د بلې مسلمانې ښځې پرووړاندې عورت:

د ښځې د بلې ښځې پرووړاندې عورت داسې ده لکه د نارينه چې د بل نارينه پرووړاندې عورت لري چې هغه د نامه څخه نېولې تر زنګنونو پورې ده يعنې دې ساحې څخه پرته نور ځايونه يې ليدلی شي، دا ځکه چې ددوی جنس يو دی او بل د شهوت او فتنې وېره نشته خو که د شهوت يا فتنې وېره وه بيا دا ټول عورت ده يو ځای يې هم نه شي ليدلي.([2])

3- د کافرې ښځې پرووړاندې د مسلمانې ښځې عورت:

کافره ښځه د مسلمانې ښځې پرووړاندې د نارينه حکم لري، مسلمانه ښځه به ټول بدن ترې پټوي، ځکه په ايت کې قيدونه ذکر کولو فايده همدا داده چې بايد تخصيص وشي. همدا وجه وه چې عمر رضی الله عنه به اهل کتابې له مسلمانانو سره يو ځای په حمام کې نه پرېښودلې.([3])

۴- د شرعي محرم پرووړاندې د ښځې عورت:

له شرعي محرم څخه مراد دلته هغه څوك دی چې د ښځې له هغه سره د مؤبد لپاره نکاح حرامه وي.

د احنافو له نظره د شرعي محرم په وړاندې د ښځې عورت له نامه لاندې تر زنګنونو، شاه او ګېډه ده. يعنې کولی شي له دې ځايونو پرته نور ځايونه يې وګوري په دې شرط چې له

1 - تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (1416هـ/1995م)، مجموع الفتاوي، المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية، ج 22 /ص 110.

2 - علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (1406هـ - 1986م)بدائع الصنائع، الناشر: دار الكتب العلمية. ج 6 /ص 2961، عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي (1313 هـ)تبيين الحقائق، الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة. ج 6 /ص 18.

3 - الموسوعة الفقهية الكويتية، ج ۳۱ / ص ۴۷.

شهوت او فتنې څخه به په امن وي. دليل يې ايت دی چې الله جل جلاله فرمايي:{وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ...}(1)

ژباړه: دوی دې د زينت ځايونه يواځې مېړونو او پلرونو ته ښکاره کوي...

ښکاره ده چې له زينت څخه مراد خپله زينت نه بلکې د زينت او سينګار ځايونه دي، څرنګه چې سر د تاج، مخ د رانجو، غاړه د هار، غوږونه د غوږوالی، مړوند د بنګړيو، لاس د ګوتې، پونډۍ د پای زېب او قدم د نکريزو ځای دي او ګېډه او شاه د هيڅ زينت ځای نه دی نو ځکه دا عورت او دا نور نه دي.

بل دليل يې دادی چې د محارمو سره اختلاط ډېر وي چې ساتنه ترې مشکله او ناممکنه ده. (2)

الْمُرَادُ بِمَحْرَمِ الْمَرْأَةِ مَنْ يَحْرُمُ عَلَيْهِ نِكَاحُهَا عَلَى وَجْهِ التَّأْبِيدِ لِنَسَبٍ أَوْ سَبَبٍ (مُصَاهَرَةٍ) أَوْ رَضَاعٍ.

مالکيان او حنابله په دې نظر دي چې د محرم په وړاندې د ښځې له مخ، سر، لاس او پښو پرته نور ټول بدن عورت دی.(3)

**يوولسم مطلب: نامناسبه جامه اغوستل**

اسلام هغه جامې حرامې کړي دي چې په هغې کښې بدن ښکاري دغه راز يې هغه جامې هم حرامې کړي دي چې په هغې کښې د ښځې د بدن هغه خاص ځايو نه او اندامونه ښکاري چې له هغې څخه د فتنو خطره پيدا کيږي . لکه کوناټې، سيني او داسې نور اندامونه چې کوم حساس و ي.

---

[1] - سورة النور / 31.

2 - الزيلعي، عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الحنفي(1313 ه)تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق, الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة،ج 6 ص/ 19.

3 - أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي(1388هـ - 1968م) المغني، الناشر: مكتبة القاهره,ج 7 /ص 98.

په صحيح حديث کې له ابو هريرة رضی الله عنه څخه نقل دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا، قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ، رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ، لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ، وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا»(1).

ژباړه : دوه ډوله خلك د اور والاو څخه دي چې هغه ما نه دي ليدلي يو قسم هغه خلك دي چې د هغوي سره د غوايانو دلکيو په شان کوړې(قمچيني) وي او خلك وربانديې وهي( يعنې ظالمان حکمرانان ) او بل قسم هغه ښځې دي چې ظاهري لباس يې کړی وي او په حقيققت کې هغه بربنډې وي، ويښتان يې يو ځای ته غونډ کړي وي .لکه داوښ دکوب د ويښتانو په شان،خلك ځانته مائل کوي او دوی هم خلکو ته مائله کيږي دوی به جنت ته داخلې نه شي او نه به دجنت هوا وومومي اگر که جنت د خوشبوي او يخې هوآگانې د لرې لرې( ۵۰۰ کاله ) ځاي پورې رسيږي.

(کاسيات ) يعني جامي اغوندي ليکن هغه دومره نازکه او شفافي جامي وي چې د ستر پو شي لپاره نه کافي کيږي بدن يې د جامو په داخل کې هم ښکاري په موجوده زمانه کښې هم دغه جامي ښځې اغوندي سر يې د اوښ دکوب په شان جوړ کړي وي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم د اوښ کوب سره ددي تشبيه ورکړه ځکه چې د اوښ کوب هم د هغه په مينځ کې وي غوټه کړي وي ( قره قل يې ترې جوړه کړي وي )او يا يې د څټ سر ه غوټه کړي وي نبي کريم صلی الله عليه وسلم د غيبو خبر ورکړ.

ځکه دې زمانه کښې چې څه ليدل کيږي هم هغه يې فرمايلي دي اوس ښځې سرونه په آرايشگاو کې جوړوي او دهغو مرکزونو نگراني سړي کوي او هغوی ډيري پيسي هم تري اخلي او په هغه ويښتو هم اکتفاء نه کوي چې کوم ورته الله تعالى ورکړي دي بلکي نور

---

1 - صحيح مسلم، بَابُ النِّسَاءِ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ الْمَائِلَاتِ الْمُمِيلَاتِ، ج٣/ ص ١٦٨٠.

ویښختان اخلي او خپلو سرونو کې يې ښخوي يو طرف څخه ښځې ځانته مايله کوي او بل طرف څخه کوښښ کوي چې نارينه ځانته رامائله کړي .

**د شرعي لباس شرطونه**

**لومړی شرط: جامې باندې به ټول بدن پټ وي:**

جامه بايد دومره وي چې عورت او هغه ځايونه د کومو چې لوڅول ممنوع وي، پټ کړي، ځکه چې د لباس څخه اصلي مقصد پټوالی او بيا زينت دی.

**دويم شرط: لباس به دومره تنګ نه وي چې اندامونه په کې ښکاره شي:**

وړاندې تېر شول چې د لباس اصلي مقصد د عورت پټول دي، خو داهلته کېدلی شي چې جامه پراخه او لويه وي، تنګ لباس اګر که ظاهري پوستکي پټوي؛ خو د بدن چوکاټ ښکاره کوي. چې دا د فتنې او فساد لامل کېږي.

له اسامه بن زيد رضی الله عنه څخه روايت دی وايي:(كَسَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبْطِيَّةً كَثِيفَةً كَانَتْ مِمَّا أَهْدَاهَا دِحْيَةُ الْكَلْبِيُّ، فَكَسَوْتُهَا امْرَأَتِي، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا لَكَ لَمْ تَلْبَسِ الْقُبْطِيَّةَ؟» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَسَوْتُهَا امْرَأَتِي. فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مُرْهَا فَلْتَجْعَلْ تَحْتَهَا غِلَالَةً، إِنِّي أَخَافُ أَنْ تَصِفَ حَجْمَ عِظَامِهَا»(1).

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم ماته قبطي پېړه چپن راکړه کومه چې ده ته دحية الکلبي ډالۍ کړې وه، ما مې خپلې ښځې ته ورکړه، ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: ولې دې قبطي چپن نه ده اغوستې؟ ما ورته وويل: هغه مې ښځې ته ورکړه. هغه راته وويل: هغې ته ووايه چې لاندې ترې زير پراني واغونده زه وېرېږم چې د هډوکو چوکاټ يې ښکاره نه شي.

---

1 - أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني ،( 1421 هـ - 2001 م)، مسند الإمام أحمد بن حنبل، المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون، الناشر: مؤسسة الرسالة ،بيروت ،لومړی چاپ.ج36/ص120). شعيب الارنووط وايي: دا حديث حسن دی. وګوره: مسند احمد بتحقيق شعيب الارنووط، ج٣٦/ص١٢٠.

رسول الله صلى الله عليه وسلم اسامه ته امر وکړ چې ښځې ته ووايه د پېړې چېنې لاندې بل څه واغونده، نو ښکاري چې لباس بايد تنګ نه وي.

دې روايت ته په کتلو ښکاري چې تنګ لباس اغوستل جائز نه دي،وړاندې روايت تير شو چې (وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلاَتٌ مَائِلاَتٌ، رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ.... (1).

ځينو علماو چې د هغو له جملې څخه ابن تيميه هم دی د (کاسيات) معني په تنګ لباس سره کړې يعنې: داسې لباس به وي چې ظاهراً به پټې وي خو حقيقت کې به لوڅې وي چې هغه په تنګ لباس کې کېدای شي.(2).

همدارنګه له دې شرط څخه ښکاري چې ښځو ته پتلون اغوستل هم جائز نه دي، ځکه چې پتلون هم تنګ وي هر اندام په کې بېل بېل ښکاري.(3).

**دريم شرط: د نارينه و له لباس سره به مشابه نه وي:**

په دې اړه وړاندې احاديث تېر شول لکه: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ، وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ»(4).

ژباړه: له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دي وايي:رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه نارينه لعنت ويلی چې د ښځو جامې اغوندي او په هغې ښځې يې لعنت ويلی چې د نارينه جامې اغوندي.

عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: قِيلَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ، فَقَالَتْ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ»(5).

---

1 - صحيح مسلم، بَابُ النِّسَاءِ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ الْمَائِلاَتِ الْمُمِيلاَتِ، ج٣/ ص ١٦٨٠.

[2] - مجموع الفتاوى، ج22/ص146).

[3] - عبد الله بن صالح الفوزان، زينة المرأة المسلمة، ج22/ص 25.

4 - سنن أبي داود،كتاب اللباس،بَابٌ فِي لِبَاسِ النِّسَاءِ،ج4/ص 60)، حيث شميره:4098، شيخ الباني وايي: پورتنی حديث صحيح دی.وګوره:صحيح وضعيف سنن ابی داود، ۴۰۹۸ شميره.

5 - سنن أبي داود، كتاب اللباس، بَابٌ فِي لِبَاسِ النِّسَاءِ، ج4/ ص60. شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن ابی داود، 4099 شميره.

ژباړه: ابن ابی ملیکة وایي: عایشې رضی الله عنها ته چا وویل: دلته یوه ښځه ده پڼې پښنو کوي، هغې وویل: رسل الله صلی الله علیه وسلم په هغې ښځې چې د نارینه پیزار پښنو کوي، لعنت ویلی دی.

د حدیث شرح: دې حدیث کې له پڼې څخه د نارینه پڼې مراد دي ځکه ښځو ته د ښځینه پڼې پښنو کول څه ناروا نه دي.

د سنن ابی داود شارح شیخ عبدالمحسن العباد ددې احادیثو په شرح کې ډېر زیات فقهي مسائل ذکر کړي دي  چې د ټولو خلاصه داده وایي:( تبتعد المرأة عن لبس أي شيء يتعلق بالرجال أو من ألبسة الرجال)(1).

ژباړه: ښځه باید له هر هغې جامې څخه چې د نارینه و پورې اړه لري ځان وساتي.

**څلورم شرط: لباس به د کافرو له لباس سره مشابه نه وي:**

عن عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ، فَقَالَ: «إِنَّ هَذِهِ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلَا تَلْبَسْهَا»(2).

ژباړه: عبدالله بن عمرو بن العاص وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم زه ولیدم چې دوه زېړ رنگه جامې مې اغوستې وې،راته یې وویل: دا د کفارو جامې دي دا مه اغونده.

له دې ښکاري چې د کفارو سره مشابه لرونکي جامې اغوستل منع دي.(3).

**دولسم مطلب: له اجنبی نارینه سره اختلاط او مجلس**

له بیگانه او پردي نارینه سره د اختلاط کولو له امله ډېرې ستونزې رامینځته کیږي چې ښځو ته په دې اړه لاندې لارښوونې شوي:

عن أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ،أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: وَهُوَ خَارِجٌ مِنَ الْمَسْجِدِ فَاخْتَلَطَ الرِّجَالُ مَعَ النِّسَاءِ فِي الطَّرِيقِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلنِّسَاءِ:

---

1 - شرح سنن أبي داود ـ عبد المحسن العباد (23/ 139).

2 - صحیح مسلم،کتاب اللِّبَاسِ وَالزِّينَةِ, بَابُ النَّهْيِ عَنْ لُبْسِ الرَّجُلِ الثَّوْبَ الْمُعَصْفَرَ، ج3/ ص1647، حدیث شمیره:۲۰۷۷.

3 - عبد الله بن صالح الفوزان، زينة المرأة المسلمة، ج۲۲/ ص۲۵.

«اسْتَأْخِرْنَ، فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكُنَّ أَنْ تَحْقُقْنَ الطَّرِيقَ عَلَيْكُنَّ بِحَافَّاتِ الطَّرِيقِ» فَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تَلْتَصِقُ بِالْجِدَارِ حَتَّى إِنَّ ثَوْبَهَا لَيَتَعَلَّقُ بِالْجِدَارِ مِنْ لُصُوقِهَا بِهِ)([1]).

ژباړه: له اسيد انصاری ([2])څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم له مسجد څخه بېرون ښځې او سړي وليدل چې سره ګډ ګرزېدل ما ترې واورېدل چې ښځو ته يې وويل: وروسته شئ، دا ستاسې لپاره نه دي چې د لارې په مينځ کې ځي، د لارې په څنګ کې ځئ، له دې وروسته به ښځې په دېوال پورې سريښې وې، آن تردې چې جامه به يې په دېوال پورې نښتې وه.

ابن حجر يې په دليل کې وايي: «وَفِيهِ اِجْتِنَاب مَوَاضِع التُّهَم، وكَرَاهَة مُخَالَطَة الرِّجَال لِلنِّسَاءِ فِي الطُّرُقَات فَضْلاً عَنْ الْبُيُوت»(3).

ژباړه: په دې کې د تهمت له ځايونو ځان ساتل دي، په لارو کې د نارينه و سره د ښځو اختلاط مکروه دی، دا چې په لارو کې منع دی نو په کورو کې خو په طريقه اولی بند دی.

همدارنګه که فکر وشي لاره چې سره له دې پراخه او ارته وي، هلته اختلاط منع شوي نو په مجلسونو او تعليم ځايونو کې خو په طريقه اولی منع دی.([4]).

صحابه کرامو له احاديثو څخه همدا حکم استنباط کړی وو او په خپل ژوند کې يې عملي کړی هم وو چې يو څو بېلګې يې ګورو:

---

1 - سنن أبي داود، أَبْوَابُ النَّوْمِ, بَابٌ فِي مَشْيِ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ فِي الطَّرِيقِ، ج4/ص 369) حديث شميره:٥٢٧٢. شيخ البانی وايي: دا حديث حسن دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن ابی داود، ٥٢٧٢ شميره.

2 - پوره نوم يې: مالك بن ربيعة بن البدن أبو أسيد الساعدى الأنصارى دی، بري صحابی دی.په 40 هجري کال مړ دی. وګوره: الاستيعاب فی معرفة الاصحاب: 3 / 1351.

3 - فتح الباري، 2/ 336.

[4] - دوکتورسعيد بن على بن وهف القحطاني(ب.ت) الاختلاط بين الرجال والنساء - مفهومه، وأنواعه، وأقسامه، وأحكامه، وأضراره في ضوء الكتاب والسنة وآثار الصحابة، الناشر: مطبعة سفير، الرياض, ص 38

١- روي أن دَخَلَتْ عَلَيَ عائشة مَوْلَاةٌ لَهَا فَقَالَتْ لَهَا: " يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، طُفْتُ بِالْبَيْتِ سَبْعًا، وَاسْتَلَمْتُ الرُّكْنَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، فَقَالَتْ لَهَا عَائِشَةُ: لَا آجَرَكِ اللَّهُ، لَا آجَرَكِ اللَّهُ، تُدَافِعِينَ الرِّجَالَ أَلَا كَبَّرْتِ وَمَرَرْتِ ")(1).

ژباړه: روايت شوی دی چې د عائشې رضی الله عنها یوه ازاده شوې وينځه ورته راغله ويې ويل: ای د مومنانو مورې! ما اوه گردشه طواف وکړ، دوه یا درې ځلې مې حجر اسود هم مسه کړ. عايشې ورته وويل: الله اجر نه درکوي، الله اجر نه درکوي، تا له نارينه و سره ډغرې وهلې؟!! ولې ته تکبير نه وايه، تګ دې نه کاوه.

2- کله چې د حجاب ايتونه رانازل شول(كان عمر رضي الله عنه يَنْهَى أَنْ يُدْخَلَ مِنْ بَابِ النِّسَاءِ)(2). يعنې: عمر رضی الله عنه به نارينه د ښځو په دروازه نه پرېښودل چې مسجد نبوي ته ننوزي.

٣- علي رضي الله عنه به هم د نارينه و او ښځينه و اختلاط بدګڼلو او ويل به يې:" «أَمَا تَغَارُونَ أَنْ تَخْرُجَ نِسَاؤُكُمْ؟» وَقَالَ هَنَّادٌ فِي حَدِيثِهِ: «أَلَا تَسْتَحْيُونَ أَوْ تَغَارُونَ؟ فَإِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ نِسَاءَكُمْ يَخْرُجْنَ فِي الْأَسْوَاقِ يُزَاحِمْنَ الْعُلُوجَ»)(3).

ژلاړه: تاسې شرمېږی نه، تاسې په خپلو ښځو غيرت نه کوی چې له کورو وځي، زه خبر شوی يم چې ستاسې ښځې بازارونو ته وځي او هلته د پېړو پېړو عجمي نارينه و سره ګڼه ګوڼه کې ټکرې کوي.

4- عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ تَرَكْنَا هَذَا الْبَابَ لِلنِّسَاءِ»، قَالَ نَافِعٌ: فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ ابْنُ عُمَرَ، حَتَّى مَاتَ) (4).

---

1 - محمد بن ادريس الشافعي(1400هـ-1980م) مسند الامام الشافعی، دار الکتب العلمية، بيروت - لبنان. ص 127

2 - سنن ابي داود، ج1/ ص 126، شميره ۴۶۴

3 - مسند احمد ج2/ ص ۳۴۳، حديث شميره:1118. احمد محمد شاکر وايي: سند يې صحيح دی. وګوره: مسند احمد بتحقيق احمد شاکر،ج ۲/ ص ۷۳.

4 - سنن أبي داود، کتاب الصلاة، بَابُ التَّشْدِيدِ فِي ذَلِكَ، ج1/ص 126). حديث شميره: 571. شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن ابی داود، 462 شميره.

ژباړه: ابن عمر وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: كه دا دروازه د ښځو لپاره ځانګړې کړو. نافع وايي: تر مرګه بيآ ابن عمر په هغې دروازې مسجد ته رانغی.

لنډه دا چې د نارينه سره د ښځې اختلاط په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونې دادی چې دا منع او ناجائز دی، ځکه كله چې د مسجد په دروازو کې اختلاط منع شوی؛ نو له مسجد پرته خو په طريقه اولی سره منع دی.

**ديارلسم مطلب: له اجنبی نارينه سره خلوت**

خلوت دېته وايي چې يوه ښځينه له پردي نارينه سره د خلكو له سترګو لرې تنها شي، دا ډول خلوت حرام او ممنوع عمل دی چې دلائل يې په لاندې توګه دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ: سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ، وَلاَ تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ»، فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وكَذَا، وَخَرَجَتِ امْرَأَتِي حَاجَّةً، قَالَ: «اذْهَبْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ»(1).

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی وايي: ما له نبي صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې ويل يې:هيڅ نارينه دې له ښځې سره تنها نه کيني، او نه دې ښځه له محرم پرته سفر کوي، يو تن پورته شو ويې ويل: يارسول الله! زه خو په يوې غزا کې ليکل شوی يم او ښځه مې حج ته ځي، هغه راته وويل: لاړشه له ښځې سره د حج وکړه.

بل حديث دی نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:(وَلا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ) (2).

ژباړه: نارينه دې له پردۍ ښځې سره خامخا تنها نه کيني، ځکه كه تنها شول؛ نو دريم ددوی به شيطان وي.

---

1 - صحيح البخاري، كتاب الجهاد والسير، بَابُ مَنِ اكْتُتِبَ فِي جَيْشٍ فَخَرَجَتِ امْرَأَتُهُ حَاجَّةً، أَوْكَانَ لَهُ عُذْرٌ، هَلْ يُؤْذَنُ لَهُ، ج4/ص 59). حديث شميره: 3006

2 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي لُزُومِ الجَمَاعَةِ، ج۴/ ص ۴۶۵ .شميره ۲۱۶۵. شيخ البانی وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذي ج5/ص ۱۶۵.

شیطان ددې لپاره له دوی سره شریک وي چې ښځه سړي او سړی ښځې ته ښایسته وښیي، ډېر ځلې به یو تن ښایسته، با اخلاقه، دینداره ښځه ولري؛ خو شیطان به یې په سترګو کې بله بدرنګه، بې لارې او بې دینه ښځه ښایسته وښیي له همدې امله حدیث کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «المَرْأَةُ عَوْرَةٌ، فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ»([1]).

ژباړه: له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ښځه عورت ده، کله چې له کوره ووتله شیطان یې څاري. یعنې: د نارینه و په سترګو کې یې ښایسته کوي او نارینه دېته ښایسته کوي.

همدا وجه ده چې ټول فقهاء په دې نظر دي چې له پردۍ ښځې سره خلوت (ځانته کېناستل او ګرزېدل) حرام دي.(2).

**څوارلسم مطلب: له خاوند څخه طلاق غوښتنه**

کله چې د ښځې او مېړه ترمینځ په ورځني ژوند کې څه ستونزې پیدا شي، او ددوی ترمینځ ژوند تېرول مشکل شي، اسلامي شریعت ددې ستونزې څخه د خلاصون لپاره طلاق حکم مشروع کړی دی، بیا دویته په کار دي چې په نیکه او معروفه توګه سره بېل شي الله جل جلاله فرمایي: {وَإِنْ يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللهُ كُلاًّ مِنْ سَعَتِهِ وكَانَ اللهُ وَاسِعًا حَكِيمًا} [النساء:130].

ژباړه: خو که (مېړه او ښځه) یو له بله( په طلاق سره) بیل هم شي؛ نو الله په خپل قدرت سره هر یو بل ته له محتاجي څخه بې دنیازه کړي، الله جل جلاله د پراخه حکمت خاوند دی.

له دې سره سره چې طلاق یو مشروع امر دی خو په خپل ذات کې ډېرې ستونزې له ځان سره لري، د کورنیو ړنګېدل، خپلوي له مینځه تلل، د ماشومانو ناسمه تربیه او نور له همدې وجهې نه ابغض الحلال بلل شوی دی، دا چې شریعت اجازه ورکړې، دا د ضرورت له امله ده.

---

1 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الدُّخُولِ عَلَى المُغِيبَاتِ،ج3/ص 468) شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دی.وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذی، ج٣/ ص ١٧٣.

[2] - الموسوعة الفقهية الكويتية (ج19/ص 267).

له دې سره سره شریعت هڅه کړې چې د طلاق مخنیوي وشي او ډېر نه شي، همدې وجهې نه په احادیثو کې ښځو ته لارښوونه شوې چې له کوم سبب پرته له مېړه طلاق ونه غواړي او که څوک داسې کار وکړي د هغې لپاره سخت وعید دی.

عَنْ ثَوْبَانَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا مِنْ غَيْرِ بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الجَنَّةِ»(1).

ژباړه: له ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هره ښځه چې له دلیل پرته له خپل مېړه څخه طلاق وغواړي، پر هغې باندې د جنت بوی حرام دی.

عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ، فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ: مَا صَنَعْتَ شَيْئًا، قَالَ ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ، قَالَ: فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ: نِعْمَ أَنْتَ»(2).

ژباړه: جابر رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابلیس خپل تخت په اوبو کېږدي، بیا خپلې لښکرې ولیږي، ده ته نږدې لښکرې هغه وي چې چا ډېرې فتنې پیدا کړې وي، یو راشي ورته ووايي: ما داسې او داسې کار وکړ. هغه ورته وايي: تا چندان کار نه دی کړی.بیا بل راشي ووايي: ما د ښځې او مېړه ترمینځ بېلتون راوست، شیطان یې ځانته نږدې کړي ورته وايي تا ښه کار کړی دی.

1 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي المُخْتَلِعَاتِ، ج3/ص 485 حدیث شمیره: 1187. شیخ الباني وايي: دا حدیث صحیح دی. وګوره: ج3/ ص ۱۸۷.

2 - صحیح مسلم، بَابُ تَحْرِيشِ الشَّيْطَانِ وَبَعْثِهِ سَرَايَاهُ لِفِتْنَةِ النَّاسِ وَأَنَّ مَعَ كُلِّ إِنْسَانٍ قَرِينًا (ج4/ص 2167) حدیث شمیره:2813.

د حديث په شرح کې علماء ليکي: (وإنما يحبُّ التفريق بينهما لأن النكاح شيءٌ عقده الشرع، فيحب هو حَلَّ ما عقده الشرع وإزالتَه؛ لمخالفة الشرع، ولحبه الزنا وحصول أولاد الزنا)(1).

ژباړه: شيطان ځکه د ښځې او مېړه ترمينځ بېلتون خوښوي چې نکاح يو شرعي امر دی، دی په دې خوشاليږي چې شريعت کوم عقد تړلی وي دی يې بېرته خلاص کړي، بله دا چې شيطان دا خوښوي چې زنا او ولد الزنا په ټولنه کې ډېر شي.

همدارنګه ليکي:(وفيه تعظيم أمر الطلاق، وكثرة ضرره، وعظيم فتنته، وعظيم الإثم في السعي فيه، لما فيه من قطع ما أمر الله به أن يوصل، وشتات ما جعل الله سبحانه فيه مودة ورحمة، وهدم بيت بُني في الإسلام، وتعريض المتخاصمين أن يقعا في الإثم والحرج ) (2).

يعنې: په دې کې دېته اشاره ده چې د طلاق کار ډېر ستر کار دی، ډېر اضرار لري، ستره فتنه ده، څوک چې په دې لاره کې خواري کوي ستره ګناه ده، ځکه په دې کې هغه رسۍ غوڅيږي د کومې په وصلولو چې الله امر کړی دی، مينه او محبت له مينځه وړي، په اسلامي ټولنه کې جوړ شوی کور له مينځه وړي، لانجې ا وشخړې جوړوي چې ګناه او تکليفونه ډېروي.

**پنځلسم مطلب: په تقدير ناراضتيا او پر مړی ژړا او انګولا**

کله چې د الله جل جلاله لوري د خپلوانو د مړ کېدلو له امله يو مصيبت پېښ شي، نو ښځو ته څه کول په کار دي په دې اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاندې لارښوونې راغلي دي:

---

1 - علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (1422هـ - 2002م)امرقاة لمفاتيح في شرح المصابيح، الناشر: دار الفكر، بيروت – لبنان، ج1/ص 163).

2 - محمد الأمين بن عبد الله الأُرَمي العَلَوي الهَرَري الشافعي(1430 هـ - 2009 م) الكوكب الوهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، الناشر: دار المنهاج - دار طوق النجاة، الطبعة: الأولى، ج(25/ 448).

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الخُدُودَ، وَشَقَّ الجُيُوبَ، وَدَعَا بِدَعْوَى الجَاهِلِيَّةِ»(1).

ژباړه: عبدالله رضی الله عنه وايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه څوک زمونږ له ډلې نه دی څوک چې(د غم پرمهال) مخ په څاپيړو وهي، ګريوانونه څيروي او په ژړا کې د جاهليت زمانې خبرې کوي.

عَنِ المُغِيرَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ،سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ»(2).

ژباړه: مغيره رضی الله عنه وايي: ما له نبي صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: (د خپلوانو) د ژړا له امله مړی په قبر کې په عذابيږي.

عن أَبي بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: وَجِعَ أَبُو مُوسَى وَجَعًا شَدِيدًا، فَغُشِيَ عَلَيْهِ وَرَأْسُهُ فِي حَجْرِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِهِ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهَا شَيْئًا، فَلَمَّا أَفَاقَ، قَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ بَرِئَ مِنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَرِئَ مِنَ الصَّالِقَةِ وَالحَالِقَةِ وَالشَّاقَّةِ»(3).

ژباړه: له ابی برده بن موسی څخه روايت دی وايي: يوه ورځ په ابوموسی سخت درد راغی چې بې هوشه شو، سر يې د ښځې په غيږ کې ايښی وو،(ښځې يې سختې چيغې شروع کړې) خو ده ځواب نه شو ورکولی، کله چې په هوش راغی ويې ويل: زه له هغه کار بېزاره يم له کوم کار چې رسول الله صلی الله عليه وسلم بېزاره وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغې ښځې چې د مصيبت پرمهال چيغې وهي، هغې ښځې چې سر خريوي او له هغې ښځې چې د مصيبت پرمهال جامې شلوي؛ بېزاره وو.

---

1 - صحيح البخاري، كتاب الجنائز، بَابٌ: لَيْسَ مِنَّا مَنْ شَقَّ الجُيُوبَ،ج2/ص 81) حديث شميره: 1294. و صحيح مسلم كتاباالإيمان باب تحريم ضرب الخدود وشق الجيوب. . شميره: 103.

2 - صحيح البخاري، كتاب الجنائز، بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ النِّيَاحَةِ عَلَى المَيِّتِ، ج2/ص 80). حديث شميره: 1291. و صحيح مسلم باب الميت يعذب ببكاء أهله عليه شميره: 933 . حديث متفق عليه دي.

3 - صحيح البخاري،كتاب الجنائز، بَابُ مَا يُنْهَى مِنَ الحَلْقِ عِنْدَ المُصِيبَةِ، ج2/ص 82) حديث شميره۱۲۹۶.

عَنْ أمِّ عَطِيَّةَ نُسيْبَةَ بِضَمِّ النُّونِ وَفَتحِهَا رضي اللَّه عَنْهَا قَالَتْ: أخَذَ عَلَينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم عِنْدَ البَيْعة أنْ لاَ نَنُوح .(1).

ژباړه: ام عطيه رضی الله عنها څخه روايت دی وايي: د بيعت پرمهال رسول الله صلی الله عليه وسلم له مونږ څخه د انګولا او کريغې نه وهلو لوظ واخيست.

عَنِ النُّعْمانِ بنِ بشيرٍ رضي اللَّه عنْهُمَا قَالَ: أُغْمِي علىَ عبْدِ اللَّه بنِ رَواحَةَ رضي اللَّه عنْهُ، فَجَعَلَتْ أُخْتُهُ تبْكِي، وتَقُولُ: واجبلاَهُ، واكذا، واكَذَا: تُعددُّ عليْهِ. فقَال حِينَ أفَاقَ: مَا قُلْتِ شيْئاً إلاَّ قِيل لِي: أنْتَ كَذَلِكَ؟(2).

له نعمان بن بشير څخه روايت دی وايي: عبدالله بن رواحه بې هوشه شو، خور يې پرې ژړل او ويل يې: ای زما غره! های زما دا، های زما هغه دده صفتونه يې ذکر کول، کله چې په هوش راغی ورته يې وويل: تا نور هيڅ هم نه دي ويلي فقط دا دې ويلي چې: ته داسې يې .

عَنْ أبي مالِكٍ الأشْعَريِّ رضي اللَّه عنْهُ قالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: "النَّائحَةُ إذاَ لَمْ تتُبْ قَبْل مَوْتِهَا تُقَامُ يوْمَ الْقِيامةِ وعَلَيْها سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ، ودَرْعٌ مِنْ جرَبٍ" (3).

ژباړه: مالک الاشعري وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: په مړي ژړا او انګولا کونکې که له مرګ څخه مخکې توبه ونباسي، د قيامت په ورځ به په داسې حال کې راپاڅېږي چې د اور زغره به يې اغوستي وي.

عنْ أُسيدِ بنِ أبي أُسِيدِ التَّابِعِيِّ عَنِ امْرَأَةٍ مِنَ المُبايعات قَالَتْ: كَانَ فِيمَا أخَذَ علَيْنَا رَسُولُ اللَّه صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم، فِي المعْرُوفِ الَّذِي أخذَ علَيْنَا أنْ لاَ نَعْصِيَهُ فِيهِ: أَنْ لا نَخْمِشَ وَجْهاً، ولاَ نَدْعُوَ ويْلاَ، ولاَ نَشُقَّ جيْباً، وأنْ لاَ نَنْشر شَعْراَ.(4).

---

1 - صحيح البخاري كتاب الجنائز، بَابُ مَا يُنْهَى مِنَ النَّوْحِ وَالبُكَاءِ وَالزَّجْرِ عَنْ ذَلِكَ، ج2/ص ۸۴، حديث شميره:1306، و صحيح مسلم في الجنائز باب التشديد في النياحة، شميره:936.

2 - صحيح البخاري، كتاب المغازى، بَابُ غَزْوَةِ مُؤْتَةَ مِنْ أَرْضِ الشَّأْمِ، ج5/ص۱۴۴، حديث شميره:4267.

3 - صحيح مسلم، بَابُ التَّشْدِيدِ فِي النِّيَاحَةِ، ج2/ص ٦۴۴، حديث شميره: ۹۳۴.

4 - سنن ابى داود، كتاب الجنائز، بَابٌ فِي النَّوْحِ ،ج3/ ص ۱۹۴ .حديث شميره:۳۱۳۱

اسید بن اسید التابعي له یوې ښځې څخه چې بیعت یې کړی وو، روایت کوي وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مونږ سره د نیکیو بیعت کاوه دایې راته ووېل چې په لاندې کارونو کې به زما نافرماني نه کوي: مخ به نه شوکارې کوی، واویلا او انګولا به نه کوئ، ګریوان به نه څیرې کوئ او د سروښتان به نه شلوئ.

لنډه دا چې پورته ټولو روایتونو څخه ښکاري او ښځو ته لارښوونه ده چې په مړي به ژړا، انګولا او کوکارې نه وهئ، بلکې صبر به کوئ.

امام نووي وايي په همدې خبره اجماع هم ده فرمایي: (فِيهِ دَلِيلٌ عَلَى تَحْرِيمِ النِّيَاحَةِ وَهُوَ مُجْمَعٌ عَلَيْهِ)(1).

په دې احادیثو کې دا دلیل دی چې په مړي چیغې بغارې وهل حرام او په همدې اجماع ده.

**شپاړسم مطلب: د پردی ښځې عورت ته نه کتنه**

د عورت پټول هغه که له نارینه څخه وي او ښځینه څخه وي ضروري دي، ښځې ته په دې اړه لاندې لارښوونې شوي:

أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلاَ الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، وَلاَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، وَلاَ تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ»(2).

ژباړه: ابوسعید الخدري له خپل پلار څخه روایت کوي وایي:رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل: نارینه دې د نارینه او ښځه دې د ښځینه عورت ته نه ګوري، نر دې له بل نرسره او ښځه دې له بلې ښځې سره په یوه جامه کې لوڅ نه څملي.

له دې حدیث څخه ښکاري چې ښځې ته د بلې ښځې عورت لیدل ناروا دي، د عورت اندازې په اړه فقهاو لاندې تفصیل کړی دی:

---

1 - شرح النووي على مسلم، ج6/ص 236)

2 - صحیح مسلم، بَابُ تَحْرِيمِ النَّظَرِ إِلَى الْعَوْرَاتِ، ج1/ص 266) حدیث شمیره 338.

د مسلمانې ښځې د بلې مسلمانې ښځې پروړاندې عورت

د ښځې د بلې ښځې پروړاندې عورت داسې ده لکه د نارینه چې د بل نارینه پروړاندې عورت لري چې هغه د نامه څخه نېولې تر زنګنونو پورې ده یعنې دې ساحې څخه پرته نور ځایونه یې لیدلی شي، دا ځکه چې ددوی جنس یو دی او بل د شهوت او فتنې وېره نشته خو که د شهوت یا فتنې وېره وه بیا دا ټول عورت ده یو ځای یې هم نه شي لیدلی[1].

**اوولسم مطلب: د پردی ښځې محاسن نه ستایل**

عن ابن مسعودٍ - رضي الله عنه - قال : قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم: « لا تُبَاشِرِ المَرْأَةُ المَرْأَةَ ، فَتَصِفَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إلَيْهَا »(2).

ژباړه: ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښځه دې له بلې ښځې سره مباشرت نه کوي، چې بیا مېړه ته د هغې د ښایست د ځایونو صفتونه کوي.

ابن حجر رحمه الله د حدیث په شرحه کې لیکي:( فان الْحِكْمَةَ فِي هَذَا النَّهْيِ خَشْيَةُ أَنْ يُعْجِبَ الزَّوْجَ الْوَصْفُ الْمَذْكُورُ فَيُفْضِي ذَلِكَ إِلَى تَطْلِيقِ الْوَاصِفَةِ أَوْ الِافْتِتَانِ بِالْمَوْصُوفَةِ )(3).

ژباړه: په دې نهی کې حکمت دادی چې دا منع ځکه شوې چې په دې کې دا وېره ده هسې نه چې مېړه ددې ښځې اوصاف خوښ شي، خپله ښځه طلاقه او ددې بلې په فتنه کې واقع شي.

**اتلسم مطلب: دالله په مخلوقاتو لعنت نه ویل**

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحَى أَوْ فِطْرٍ إِلَى المُصَلَّى، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ...»(4).

---

[1] -كاساني، بدائع الصنائع 6 / 2961، زيلعي، تبيين الحقائق 6 / 18

2 - صحيح البخاري، كتاب النكاح بَابُ مَا يَحِلُّ مِنَ الدُّخُولِ وَالنَّظَرِ إِلَى النِّسَاءِ فِي الرَّضَاعِ 9/ ص ۳۳۸.حديث شميره:5240

[3] - فتح الباري لابن حجر (9/ 338).

[4] - صحيح البخاري ج1/ ص 68, صحيح مسلم 79 شميره.

ژباړه: له ابوسعيد الخدري رضى الله عنه روايت دى وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د لوى يا کوچني اختر په ورځ راووت د ښځو په يوې ډلې تېر شو هغوى ته يې وفرمايل: اى د ښځو ډلې! خيراتونه کوئ، ما د تاسې اکثره په اور کې وليدې، ښځو وويل: ولې يا رسول الله؟! هغه وويل: تاسې لعنتونه ډېر وايى، ...

وعنْ عِمْرَانَ بنِ الحُصينِ رضي اللَّه عنْهُما قَالَ: بينَما رسُولُ اللَّه صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم في بعضِ أسْفَارِه، وامرأَةٌ مِنَ الأنصارِ عَلى نَاقَةٍ، فضجِرَتْ فَلَعَنَتْهَا، فَسمع ذلكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم فقالَ: "خُذوا مَا عَلَيْهَا ودعُوها، فإنَّها ملعُونَةٌ" قالَ عِمرَانُ: فكَأَنِّي أرَاهَا الآنَ تَمْشِي في النَّاسِ مَا يعرِضُ لهَا أحدٌ.(1).

ژباړه: عمران بن الحصين رضى الله عنهما څخه روايت دى وايي: په سفر کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو، يوه انصارى ښځه هم په اوښې سپره وه، اوښې چغې وهلې ښځې د الله لعنت پرې وويلې، نبى صلى الله عليه وسلم وويل: پر دې چې څه بار دي هغه ترې واخلئ او نوره يې وشړئ ځکه چې دا لعنتي ده. عمران وايي: ګواکې زه يې همدا اوس هم ګورم چې په خلکو کې ګرزي خو هيڅوک هم کار ورسره نلري.

امام نووي ددې حديث په شرح کې ليکي: (إِنَّمَا قَالَ هَذَا زَجْرًا لَهَا وَلِغَيْرِهَا وكَانَ قَدْ سَبَقَ نَهْيُهَا وَنَهْيُ غَيْرِهَا عَنِ اللَّعْنِ فَعُوقِبَتْ بِإِرْسَالِ النَّاقَةِ) (2) .

يعنې: نبى صلى الله عليه وسلم د اوښې د شړلو خبره د ښځې د رټنې لپاره وکړه، مخکې ورته د لعنت څخه د ځان ساتنې حکم شوى وو، نو ځکه د اوښې شړل يو ډول سزا ورکړه شوه.

عَن ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّه عَنْهُ قَالَ: قَالَ رسُولُ اللَّهِ صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: "لَيْس المُؤْمِنُ بالطَّعَّانِ، وَلا اللَّعَّانِ، وَلا الْفَاحِشِ، وَلا الْبَذِيءِ "رواه الترمذي وقال: حديثٌ حسنٌ (3).

---

1 - صحيح مسلم، كتاب البر والصلة والاداب، بَابُ النَّهْيِ عَنْ لَعْنِ الدَّوَابِّ وَغَيْرِهَا، ج۴/ ص ۲۰۴.حديث شميره:2595

2 - شرح النووي على مسلم (16/ 147)

3 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي اللَّعْنَةِ، ج4/ ص350، حديث شميره 1977.شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دى. وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذي،ج4/ ص ۴۷۷.

ژباړه: له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: مومن پېغور ورکونکی، لعنت ویونکی، پوچې خبرې کونکی او بې حیا نه وي.

بناءً څرنګه چې ښځې لعنتونه ډېر وايي، په دې ټولو احادیثو کې ښځو ته دا لارښوونه او توصیه ده چې باید له په انسانانو یا څارویو باندې له لعنت ویلو څخه ځان وساتي.

## دويم فصل

## ښځې ته دخپل خاوند په اړه لارښوونې

په دې فصل کې به د نبی صلی الله علیه وسلم هغه لارښوونې بیان شي کومې یې چې ښځو ته د هغوی د مېړونو اړوند کړي دي.

په دې فصل کې دوه مبحثونه دي: لومړی مبحث کې به د هغو اوامرو یادونه وشي کوم چې ښځو ته امر شوی چې د خپل خاوند سره داسې کړنې وکړي او په دویم مبحث کې به هغه نواهي یادې شي چې ښځې باید له هغو څخه ځان وساتي.

### لومړی مبحث: هغه امور چې ښځو ته پرې امر شوی دی

### لومړی مطلب: دخاوند پالنه او اطاعت

په ښځه فرض دي چې د خپل مېړه د ټولو روا امرونو او احکامو اطاعت وکړي له نشوز(سرغړونې) اولتې څخه پرته د هغه احترام وساتي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځې او خاوند ترمینځ د خواږه ژوند تېرولو لپاره ښځه تشویق کړې چې د خپل مېړه خبره ومني او مېړه یې هڅولی چې د ښځې سره ښه چلند وکړي.

په دغه اطاعت او فرمانبرداری کې د ښځې لپاره زیات اجرونه او ثوابونه دي رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځې دغه عمل د جهاد برابر ښودلی دی لکه حدیث کې چې راغلي دي: ابن عباس رضي الله عنه وایي درسول الله صلي الله علیه وسلم په حضورکې یوه ښځه حاضره شوه،او ویې ویل: زه د ښځو له لوري نماینده او د یوې ډلې د مشرې په توگه راغلې یم، او له تا څخه پوښتنه کوم،الله جل جلاله په سړیو جهاد فرض کړی دی،که په دې لار کې کوم تکلیف ورته رسېږي الله جل جلاله اجر ورکوي او که ووژل شي شهید شي؛ نو د الله جل جلاله په نزد ژوندي او رزق ورکول کېږي،ته خو زمونږ د ټولو لپاره پیغمبر یې مونږ خو په کورو کې ناستې یو، اولادونه روزو، د دوی نور خدمتونه کوو ایا موږ ته هم څه اجر شته او کنه؟

رسول الله ورته وويل: ورته وفرمايل:(انْصَرِفِي أَيَّتُهَا الْمَرْأَةُ، وَأَعْلِمِي مَنْ خَلْفَكِ مِنَ النِّسَاءِ أَنَّ حُسْنَ تَبَعُّلِ إِحْدَاكُنَّ لِزَوْجِهَا، وَطَلَبَهَا مَرْضَاتِهِ، وَاتِّبَاعَهَا مُوَافَقَتَهُ تَعْدِلُ ذَلِكَ كُلَّهُ "([1]).

يعنې ته چې له هرې ښځې سره مخامخ کېږي زما له لوري هغې ته دا پيغام ورسوه چې د مېړه اطاعت او د هغه حقونه منل د جهاد برابر دي.

همدا ډول رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:(عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الجَنَّةَ»([2]).

يعنې هره ښځه چې مړه شي او مېړه يې ورڅخه خوښ اوخوشاله وي جنت ته به داخلېږي.

اسلام د مېړه او ښځې لپاره هغه ځانګړې حدود ټاکلي چې د دوی د فطرت سره برابر او د دوی د طبيعت غوښتنه ده،نو په ښځه باندې اخلاقاً او ديانتاً لازم دي چې د کور چارې سمبال او د خپل مېړه خدمت وکړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوحديث کې فرمايلي دي((فَإِنِّي لَوْ كُنْتُ آمِراً أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِغَيْرِ اللَّهِ، لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَا تُؤَدِّي الْمَرْأَةُ حَقَّ رَبِّهَا حَتَّى تُؤَدِّيَ حَقَّ زَوْجِهَا»([3]).

ژباړه: که له الله څخه بغير بل چاته سجده کول روا وی؛ نو مابه ښځو ته حکم کړی وو چې خپلو مېړونو ته سجده وکړي، په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما روح يې په لاس کې دی،يوه ښځه تر هغې وخت پورې د خپل رب حق نه شي اداء کولای ترڅو چې د خپل خاوند حق اداء نه کړي.

[1] - شعب الإيمان،كتاب المناسک، باب حقوق الاولاد والاهلين، ج11/ص 178، حديث شميره: ۸۳۶۹.

2 - المستدرك علي الصحيحين، كِتَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ، ج3/ص 458)حديث شميره:7328. امام حاکم وايي: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ".ذهبي وايي: دا حديث صحيح دی.وګوره: المستدرک بتحقيق الذهبی،ج۳/ص ۴۵۸.

3 - سنن ابن ماجه،كتاب النكاح، بَابُ حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْأَةِ، ج1/ص 595. شميره: 1853. شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دی.وګوره: صحيح وضعيف سنن ابن ماجه، ج۴/ ص ۳۵۳.

امام مناوي د حديث په شرح کې ليکي: (ومقصود الحديث الحث على عدم عصيان العشير، والتحذير من مخالفته، ووجوب شكر نعمته)(1).

د حديث مقصد د مېړه له نافرماني څخه د ځان ساتنې او نه مخالفت کولو کولو او د نعمت شکرانه گي ته هڅونه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا صَلَّتِ الْمَرْأَةُ خُمُسَهَا، وَصَامَتْ شَهْرَهَا، وَحَصَّنَتْ فَرْجَهَا، وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا، دخلت من أي أبواب الجنة شاءت) (2).

ژباړه: له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ښځه چې کله پنځه وخته لمونځ وکړي، د روژې مياشت روژه ونيسي، خپل فرج وساتي، د مېړه خبره ومني، په کومه دروازه يې چې خوښه وي جنت ته د داخل شي.

همدارنگه نبی صلی الله عليه وسلم په ډېرو وصيتونو کې پر ښځو تاکيد کړی چې د مېړه حقوق وساتي، په گنا باندې له امر کولو پرته يې نافرماني ونه کړي، که احياناً داسې څوک وي چې له مېړه نافرمانه وي، د هغې لمونځ نه قبليږي لکه روايت دی چې: ( اثْنَانِ لاَ تُجَاوِزُ صَلاَتُهُمَا رُءُوسَهُمَا: عَبْدٌ آبِقٌ مِنْ مَوَالِيهِ حَتَّى يَرْجِعَ، وَامْرَأَةٌ عَصَتْ زَوْجَهَا حَتَّى تَرْجِعَ "(3).

ژباړه: د دوه نفرو لمونځ د دوی له سر څخه پورته نه تېرېږي: يو هغه غلام چې له خپل مالك څخه تښتېدلی وي ترڅو چې راغلی نه وي، به هغه ښځه چې د خپل مېړه نافرمانه وي تر څو چې بېرته رجوع ورته نه وي کړې.

لنډه دا چې د پورته او نور لارښونو څخه ښکاري چې د مېړه اطاعت کول پرښځه واجب دی تر څو يې چې په گناه کولو امر نه وي کړی.

---

[1] - عبدالرووف المناوي، فيض القدير ج5 ص۳۲۹

2 - صحيح ابن حبان، بَابُ مُعَاشَرَةِ الزَّوْجَيْنِ،ج9/ص 471) حديث شميره: ۴۱۶۳. شعيب الارنووط وايي:دا حديث صحيح دی. وگوره:صحيح ابن حبان بتحقيق شعيب الارنووط.ج۹/ ص ۴۷۱.

3 - المستدرك على الصحيحين للحاكم، كِتَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ، ج4/ص 191.حديث شميره:۷۳۳۰. د حديث د حکم په هکله امام ذهبی سکوت کړی دی. وگوره: المستدرک بتحقيق الذهبی،ج4/ ص ۱۹۱.

دا د علماو ترمينځ اتفاقي خبره ده امام قرطبي وايي:( قِيَامُ الرِّجَال عَلَى النِّسَاءِ هُوَ أَنْ يَقُومَ بِتَدْبِيرِهَا وَتَأْدِيبِهَا، وَإِمْسَاكِهَا فِي بَيْتِهَا وَمَنْعِهَا مِنَ الْبُرُوزِ (أَيِ الْخُرُوجِ) ، وَأَنَّ عَلَيْهَا طَاعَتَهُ وَقبُول أَمْرِهِ مَا لَمْ تَكُنْ مَعْصِيَةً) (1).

يعنې: د سړي قيام په ښځو معنی داده چې د ښځې د تدبير او تاديب چارو سرپرستي به کوي، بېرون ته له وتلو څخه به يې منع کوي او په ښځه باندې دده د خبرې منل لازمي دي ترڅو چې گناه نه وي.

ابن قدامه وايي: له امام ابن احمد وويل:که د ښځې مېړه او مور مريضان وي پر دې لازمه ده چې د مېړه خبره ومني،مگر که ميړه اجازه ورکړي بيا يې کولی شي(2).

البته د اطاعت د حدودو په هکله علماو ويلي چې د اطاعت معيار به الله او رسول وي، که د ميړه خبره د دوی دواړو له خبرې سره برابره وه ښځه به يې مني او کنه پر گناه يې امر کاوه بيا پرې منلو وجوب نشته، ځکه ( لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ )(3).

يعنې:د الله په ناراضتيا کې د مخلوق خبره منل نشته.

همدې وجهې نه ابن حجر وايي:( لَوْ دعَاهَا الزَّوْجُ إِلَى مَعْصِيَةٍ فَعَلَيْهَا أَنْ تَمْتَنِعَ، فَإِنْ أَدَّبَهَا عَلَى ذَلِكَ كَانَ الإِثْمُ عَلَيْهِ (4).

ژباړه: که مېړه يې گناه کولو ته را وبولي، ښځه دې نه مني، که په دې سره يې ووهله گناه يې د ميړه په غاړه ده.

---

1 - الجامع لأحكام القرآن،ج 5 /ص 169

2 - المغني لابن قدامة،ج 7 /ص 20.

3 - أحكام القرآن للجصاص 3 /ص ٢٣٠

4 - فتح الباري،ج 9 /ص 304.

## دویم مطلب: دخاوند د امانتونو ساتنه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ؟ فَقَالَ: «خَيْرُ النِّسَاءِ مَنْ تَسُرُّ إِذَا نَظَرَ، وَتُطِيعُ إِذَا أَمَرَ، وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهَا» (1).

ژباړه: له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه غوره ښځه کومه ده؟ هغه وفرمایل: په ښځو کې غوره ښځه هغه ده چې کله ته ورته وګورې خوشاله دې کړي، چې خبره ورته وکړې، ویې مني، کله چې ترې مسافر شې، ستا په نفس او مال کې مخالفت نه کوي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ «أَلَا أُخْبِرُكَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ؟ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ، إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ، وَإِذَا أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ، وَإِذَا غَابَ عَنْهَا حَفِظَتْهُ»(2).

ژباړه: د ابن عباس په روایت کې راغلي وایي چې نبی صلی الله علیه وسلم عمر رضی الله عنه ته وویل: ایا تاته خبر درنکړم چې د سړي ښه سرمایه کومه ده؟ نېکه ښځه (غوره سرمایه) ده، کله چې ورته وګوري په لیدو یې خوشاله شي او چې خبره ورته وکړي ویې مني، چې ترې غایب شي، د مال ساتنه یې کوي

ابن القیم رحمه الله ددې حدیث په شرح کې لیکي:( فِيهِ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ هَذِهِ الْمَرْأَةَ أَنْفَعُ مِنَ الْكَنْزِ الْمَعْرُوفِ فَإِنَّهَا خَيْرُ مَا يَدَّخِرُهَا الرَّجُلُ لِأَنَّ النَّفْعَ فِيهَا أَكْثَرُ)([3]).

یعنې: دې کې اشاره ده دیته چې نېکه ښځه د نغدو روپیو له سرمایې غوره ده، سړی چې ځان لپاره څه ذخیره کوي په هغو ټولو کې دا غوره ذخیره ده.

ملاعلي قاري یې د غوره والي دلیل ویلي دا ځکه: (الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ الْجَمِيلَةُ فَإِنَّ الذَّهَبَ لَا يَنْفَعُكَ إِلَّا بَعْدَ الذَّهَابِ عَنْكَ، وَهِيَ مَا دَامَتْ مَعَكَ تَكُونُ رَفِيقَكَ، تَنْظُرُ إِلَيْهَا فَتَسُرُّكَ، وَتَقْضِي

[1] - المستدرک علی الصحیحین،کتاب النکاح ج2/ ص ۱۷۵، حدیث شمیره:۲۶۸۲. امام ذهبی وایي: دا حدیث د مسلم په شرطونو برابر دی. وګوره: المستدرک بتحقیق الذهبی، ج۲/ص ۱۷۵.

2 - سنن أبي داود،کتاب الزکاة ، بَابٌ فِي حُقُوقِ الْمَالِ،ج2/ص 126) حدیث شمیره 1664.

[3] - حاشیة ابن القیم، ج5/ص 56)

عِنْدَ الْحَاجَةِ إِلَيْهَا وَطَرَكَ، وَتُشَاوِرُهَا فِيمَا يَعِنُّ لَكَ فَتَحْفَظُ عَلَيْكَ سِرَّكَ، وَتَسْتَمِدُّ مِنْهَا فِي حَوَائِجِكَ، فَتُطِيعُ أَمْرَكَ، وَإِذَا غِبْتَ عَنْهَا تُحَامِي مَالَكَ وَتُرَاعِي عِيَالَكَ )([1]).

يعنې :نېکه ښځه چې کله درسره وي، ملگرې دې وي، چې ورته گورې خوشالېږې، خپلې اړتياوې ترې پوره کوې، ځينې امورو کې وروسره مشورې کوې چې راز دې ساتي، د ورځينو چارو کې ترې مرسته غواړې هغه دې خبره مني، کله چې ترې مسافر شې ستا د مال او عيال مدافع وکيله وي.

په پورته ارشاداتو کې ښځو ته امر شوی چې د مېړه د نشتاون پرمهال بايد د هغه امانتونو خيال وساتل شي او د ضائع کېدو مخه يې ونيسي.

**دريم مطلب: دخاوند له کوره صدقه کول**

عن عَائِشَةُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَال رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ، كَانَ لَهَا أَجْرُهَا وَلَهُ مِثْلُهُ بِمَا اكْتَسَبَ، وَلَهَا بِمَا أَنْفَقَتْ، وَلِلْخَازِنِ مِثْل ذَلِكَ، مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْتَقِصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا (2).

ژباړه: عائشه رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې ښځه د خپل مېړه له کور څخه په دې شرط چې فساد کونکې نه وي، صدقه وکړي، دښځې او سړي دواړو لپاره يې اجر شتت د سړي لپاره ځکه اجر دی چې مال يې گټلی او دښځې لپاره ځکه اجر دی چې خيرات يې کړی. د ساتونکي لپاره هم ددوی په څېر اجر شته بې له دې چې د هاغه نورو په اجر کې څه کمبود راشي.

مبارکفوري رحمه الله د حديث په شرحه کې ليکي: (وَالْحَدِيثُ الدَّالُّ عَلَى الْجَوَازِ أُخْرِجَ عَلَى عَادَةِ أَهْلِ الْحِجَازِ يُطْلِقُونَ الْأَمْرَ لِلأَهْلِ وَالْخَادِمِ فِي التَّصَدُّقِ وَالإِنْفَاقِ عِنْدَ حُضُورِ السَّائِلِ وَنُزُولِ الضَّيْفِ) (3).

---

[1] - مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ،ج4/ص 1272)

2 - صحيح البخاري، بَابُ مَنْ أَمَرَ خَادِمَهُ بِالصَّدَقَةِ وَلَمْ يُنَاوِلْ بِنَفْسِهِ ،ج2/ ص١٢٢.حديث شميره: ١۴٢۵ صحيح مسلم،كتاب الزكاة، بَابُ أَجْرِ الْخَازِنِ الْأَمِينِ، وَالْمَرْأَةِ إِذَا تَصَدَّقَتْ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ، ج2 /ص 710، حديث شميره: 1024.

3 - مبارکفوري، تحفة الأحوذي، ج3/ص 277)

يعنې: دا حديث په دې دلالت کوي چې د حجاز اوسيدونکو دا عادت وو چې کور والا او خادمانو ته يې مطلق امر کولو چې د سوالگر او مېلمه راتللو پرمهال مصرف کولی شي.

عَنْ أَسْمَاءَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّهَا جَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، لَيْسَ لِي شَيْءٌ إِلاَّ مَا أَدْخَل عَلَيَّ الزُّبَيْرُ فَهَل عَلَيَّ جُنَاحٌ أَنْ أَرْضَخَ مِمَّا يُدْخِل عَلَيَّ؟ فَقَال: ارْضَخِي مَا اسْتَطَعْتِ، وَلاَ تُوعِي فَيُوعِيَ اللَّهُ عَلَيْكَ) (1).

ژباړه: له اسماء رضی الله عنها څخه روايت دی وايي: دا نبي صلی الله عليه وسلم ته راغله ورته يې وويل: ای د الله رسوله! ما سره خپل شخصي هيڅ مال نشته مگر د (خاوند)زبير مال دی ايا په ما څه گناه شته چې لږ کم مال ترې خيرات کوم؟ هغه راته وويل: څومره دې چې توان وي هومره صدقه کوه. لاس مه نيسه، الله به لاس درباندې ونيسي.

په همدې اساس مرغيناني رحمه الله ويلي: ښځې ته په کار دي چې کم شی لکه ډوډۍ د مېړه له اجازې پرته سوالگر ته ورکړي، ځکه عادتاً څوک په دې کې اجازه نه غواړي.(2)

عن أَبِى أُمَامَةَ الْبَاهِلِيُّ قَال: سَمِعْتُ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُول: لاَ تُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلاَّ بِإِذْنِ زَوْجِهَا، قِيل: يَا رَسُول اللَّهِ: وَلاَ الطَّعَامَ؟ قَال: ذَاكَ أَفْضَل أَمْوَالِنَا (3).

ژباړه: له امامه باهلي رضی الله عنه څخه روايت دی وايي ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: ښځه دې د خپل مېړه له کور څخه د مېړه له اجازې پرته څه شی نه خيراتوي، چا ورته وويل: آن خوراک هم؟ هغه وويل: خوراک خو زمونږ د مالونو غوره مال دی.

له دې روايت څخه ښکاري چې ښځه به د مېړه له مال څخه صدقه د مېړه په اجازه کوي په دې اړه فقهاء لاندې نظرونه لري:

---

1 - صحيح البخاري، بَابُ هِبَةِ المَرْأَةِ لِغَيْرِ زَوْجِهَا وَعِتْقِهَا، ج٣/ص١٥٨، حديث شميره: ٢٥٩٠. صحيح مسلم، كتاب الزكاة، بَابُ الْحَثِّ عَلَى الْإِنْفَاقِ وكَرَاهَةِ الْإِحْصَاءِ ج2/ ص ٧١۴، حديث شميره: ١٠٢٩.

2 - الهداية مع فتح القدير ،ج 7 /ص 341.

3 - سنن الترمذي, ابواب الزكاة، بَابٌ فِي نَفَقَةِ المَرْأَةِ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا، ج3 /ص 48 - 49 .حديث شميره: 670.شيخ الباني وايي: دا حديث حسن دی.ج2/ ص ٢٧٠.

۱- ټول فقهاء په دې متفق دي چې کله مېره ښځې ته د صدقې کولو اجازه وکړي کولی شي چې د میړه له مال څخه څه خیرات کړي.

همدارنګه په دې متفق دي چې ښځې ته اجازه شته چې د مېړه له اجازې پرته د مېړه له مال څخه ډېر کم شی چې عادتاً د هغې ممانعت نه وي، خیرات ورکړي.(1)

دوی په پورته د عائشې او ام سلمه په روایتونو استدلال کړی دی.

امام نووی د حدیث په شرح کې لیکي: د میړه اجازه دوه ډوله ده: لومړی: په صدقه او خیرات سره ښکاره اجازه کول. دویم: د عرف او عادت څخه فهم شوی اجازه. لکه سوالګر ته ډوډی لږ اوړه یا بل څه ورکول، په عرف او عادت کې رواج داسې دی چې مېړه او یا مالک اجازې ته ضرورت نلري، ګواکې دلته اجازه شوې اګر که په خوله یې پرې خبرې نه دي کړي.(2)

ابن قدامه لیکي: ( دې کې عرفي اجازه د حقیقي اجازې ځای نیسي، دا داسې ده لکه چې ورته ویلي یې وي: ددې کار درته اجازه ده(3).

مګر که د میړه اجازه نه وه او عرف او عادت کې هم د دومره مال اجازت نه وو، یا مېړه بخیل وو، یا یې په خوښه کې شک وو، بیا ښځه نشي کولی چې د مېړه له اجازې پرته دده مال صدقه کړي(4) .

په دې روایتونو کې ښځو ته لارښوونه ده چې غوره خبره داده چې که د مېړه له مال څخه خیرات کول غواړي له میړه د اجازه واخلي، خو که کم شی چې په عادت کې اجازه شرط نه وي، کولی شي د ثواب په نیت یې صدقه کړي، الله جل جلاله به یې مېړه او هم دې ته ثواب ورکړي.

---

[1] - الهداية مع فتح القدير 7 / 341. الدر المختار بهامش ابن عابدين 5 / 103.

[2] - صحيح مسلم بشرح النووي 7 / 112.

[3] - المغني لابن قدامة 4 / 516.

[4] - شرح صحيح مسلم للنووي 7 / 112، وشرح الترمذي لابن العربي 7 / 178.

## څلورم مطلب: خاوند باندې صدقه کول

قرآن کريم او احاديثو کې د صدقې په اړه ډېر ترغيب راغلی چې انسان وخت ناوخت د معمول مطابق او د خپل وس او توان مطابق له خلکو سره بايد مرسته وکړي ـ که هغه په مال سره وي يا د خوراکي توکو لوښي وي يا د يوې ښې خبرې په کولو سره وي ـ لدې کبله يوه ښه خبره کول هم صدقه ده ـ د صدقې په ذريعه غمونه او مصيبتونه لمنځه ځي او همدارنګه راتلونکې بلاګانې، ناروغۍ او ستونزې هم نه پېښيږي ـ همدا وجه ده چې له ناروغۍ او درملنې مخکې بايد صدقه ورکړل شي چې د هغې له برکته شفا لاسته راځي ـ د صدقې له برکته انسان خوښ او خُرم پاتې کيږي او د خلکو په منځکې ور ته د عزت او احترام په سترګو کتل کيږي

سنن الترمذي کې له حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلى الله عنه وفرمايل: « إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ »(1)

ژباړه: صدقه د الله تعالی غصه مړه کوي او د بدې مړينې څخه د نجات سبب ګرځي.

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ) (2).

ژباړه: دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي چه هربنده ته د الله تعالی دا پيغام دی چه ای د آدم زويه ! ته زما په ضرورتمندو بنده ګانو خپله ګټه خرچ کوه - زه به له خپلو خزانو پر تا خرچه کووم.

خو په خپلوانو باندې بيا صدقه کول دوه چنده اجر لري،له ابومسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وفرمايل: (إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُل عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ) (3).

---

1 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّدَقَةِ ،ج3/ص 43)، حديث شميره:٦٦٤. شيخ الباني وايي:دا حديث ضعيف دی. صحيح وضعيف سنن الترمذی، ج2/ ص ١٦٤.

2 - صحيح البخاري،كتاب تفسير القران، بَابُ قَوْلِهِ: {وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى المَاءِ} ج6/ص 73)، حديث شميره:4684

3 - صحيح البخاري،كتاب الايمان، بَابٌ: مَا جَاءَ إِنَّ الأَعْمَالَ بِالنِّيَّةِ وَالحِسْبَةِ، وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى ،ج1 /ص 136،حديث شميره:55، صحيح مسلم في الزكاة باب فضل النفقة والصدقة على الأقربين شميره. 1002

يعنې: کله چې سړی په خپل اهل او کورنۍ د ثواب په نيت مصرف کوي، دا هم دده لپاره صدقه ده.

بل روايت دی چې هغه صلی الله عليه وسلم وويل: الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ، وَعَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ: صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ (1) .

ژباړه: صدقه په مسکين باندې يواځې صدقه ده خو په خپل باندې دوه شيان دي: يو صدقه ده بله خپلوي پالنه ده.

(عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ، دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ» (2).

ژباړه : ثوبان رضی الله عنه وايي جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : د يو چا د انفاق او خرچ کولو غوره دينار هغه دی چې پخپل عيال يې خرچ کړي، بيا هغه دينار (غوره دی ) چې د الله تعالی په لار کې د جهاد لپاره ساتل شوي څاروي باندې خرچ شي او بيا هغه دينار چې پخپلو مجاهدو ملګرو خرچ شي .

له همدې امله فقهاو ويلي دي چې ښځې لخوا په مېړه باندې صدقه کول هم دوه چنده اجر لري، په دې کې ټول علماء متفق دي بلکې په دې کې ځينو په دې تصريح کړې چې دا کار سنت دی، دلايل په لاندې ډول دي:

---

1 - مسند احمد،ج(٢٦ /ص ١٧٠، حديث شميره:١٦٢٣٢، شعيب الارنووط وايي: حديث صحيح دی. وګوره: مسند احمد، بتحقيق شعيب الارنووط.ج٢٦/ص ١٧٠.

2 - صحيح مسلم، کتاب الزکاة، بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَى الْعِيَالِ وَالْمَمْلُوكِ، وَإِثْمِ مَنْ ضَيَّعَهُمْ أَوْ حَبَسَ نَفَقَتَهُمْ عَنْهُمْ, ج2/ص 691)، حديث شميره:994.

( أَنَّ امْرَأَتَينِ أَتَيَتَا رَسُول اللَّهِ صَلىَّ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتَا لِبلاَلٍ: سَل لَنَا رَسُول اللَّهِ صَلىَّ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَل يُجْزِئُ أَنْ نَتَصَدَّقَ عَلَى أَزْوَاجِنَا وَيَتَامَى فِي حُجُورِنَا؟ فَقَال: نَعَمْ لَهُمَا أَجْرَانِ: أَجْرُ الْقَرَابَةِ، وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ ) (1).

ژباړه: دوه ښځې رسول الله ته دوه ښځې راغلې بلال ته يې وويل: ته له رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتنه وکړه چې ايا مونږ کولی شو چې په خپلو مېړو او زمونږ سره چې کوم يتيمان دي په هغو صدقه کولی شو؟ هغه وويل: هو. د دوی لپاره دوه اجرونه دي: يو د خپلوۍ اجر بل د صدقې اجر.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحًى أَوْ فِطْرٍ إِلَى المُصَلَّى، ثُمَّ انْصَرَفَ، فَوَعَظَ النَّاسَ، وَأَمَرَهُمْ بِالصَّدَقَةِ، ...ثُمَّ انْصَرَفَ، فَلَمَّا صَارَ إِلَى مَنْزِلِه، جَاءَتْ زَيْنَبُ، امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، تَسْتَأْذِنُ عَلَيْهِ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذِهِ زَيْنَبُ، فَقَالَ: «أَيُّ الزَّيَانِبِ؟» فَقِيلَ: امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: «نَعَمْ، ائْذَنُوا لَهَا» فَأُذِنَ لَهَا، قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّكَ أَمَرْتَ اليَوْمَ بِالصَّدَقَةِ، وكَانَ عِنْدِي حُلِيٌّ لِي، فَأَرَدْتُ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِهِ، فَزَعَمَ ابْنُ مَسْعُودٍ: أَنَّهُ وَوَلَدَهُ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَدَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ، زَوْجُكِ وَوَلَدُكِ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتِ بِهِ عَلَيْهِمْ» (2).

ژباړه: له ابو سعيد الخدري څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د لوی يا کوچني اختر په ورځ راووت د نارينه و خواته ورغی ورته يې وويل: ای خلکو! صدقې کوئ، بيا د ښځو په يوې ډلې تېر شو هغوی ته يې وفرمايل: ای د ښځو ډلې! خيراتونه کوئ، ....کله چې کورته لاړ د ابن مسعود ښځه زينب ورته راغله، اجازه يې د ورتللو وغوښته،چا وويل: يارسول الله! دا زينب ده، هغه وويل: کومه زينب؟ چا وويل: د ابن مسعود ښځه ده، هغه ورته وويل: اجازه غواړي، اجازه يې ورکړه، ويې ويل:يا رسول الله! تا نن ورځ په خيرات کولو امر وکړ، ما سره دا زما غوړوالی دي، غواړم چې خيرات يې کړم، ابن مسعود گمان درلود

---

1 -" صحيح البخاري، كتاب الزكاة، بَابُ الزَّكَاةِ عَلَى الزَّوْجِ وَالأَيْتَامِ فِي الحَجْرِ، ج٢/ ص١٢١، حديث شميره:١۴٦٦. و صحيح مسلم، في الزكاة باب فضل النفقة والصدقة على الأقربين والزوج والأولاد. . شميره: 1000.

2 - صحيح البخاري، كتاب الزكاة، بَابُ الزَّكَاةِ عَلَى الأَقَارِبِ، ج 2/ص 120) حديث شميره:1462.

چې دی او زوي يې ددې خيرات ډېر مستحق دي، نو نبي صلی الله علیه وسلم وویل: ابن مسعود رښتيا وايي، مېړه او زوی دې تر بل هرچا د خيرات کولو مستحق دي.

په دې توصيه کې دا لارښوونې دي چې ښځه کولی شي چې په خپل مېړه صدقې او خيراتونه وکړي او د دوه اجرونو مستحقه شي.

## دويم مبحث: نواهي

### لومړی مطلب: خاوند ته زيان او اذيت نه رسول

عن مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لاَ تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا، إِلاَّ قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الحُورِ العِينِ: لاَ تُؤْذِيهِ، قَاتَلَكِ اللَّهُ، فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكَ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا " (1).

ژباړه: له معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: نبي صلی الله علیه وسلم وويل: په دنيا کې دې ښځه خپل ميړه ته زيان او ضرر نه رسوي،که رسوي يې دده حوره ښځه ورته وايي: خدی دې مړه کړه دا څو ورځې تاسره مېلمه ده ژر ده چې له تا څخه به جدا او مونږ ته به راشي.

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةٌ مَعَهَا صَبِيَّانِ لَهَا، قَدْ حَمَلَتْ أَحَدَهُمَا وَهِيَ تَقُودُ الْآخَرَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَامِلَاتٌ، وَالِدَاتٌ، رَحِيمَاتٌ، لَوْلَا مَا يَأْتِينَ إِلَى أَزْوَاجِهِنَّ، دَخَلَ مُصَلِّيَاتُهُنَّ الْجَنَّةَ»([2]).

ژباړه: ابو امامه وايي: يوه ښځه نبي صلی الله علیه وسلم ته يوه ښځه راغله دوه ماشومان ورسره وو، يو يې په غېږ کې وو او بل يې راکشاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: (ښځې) ماشوم په ګېډه ګرزونکې دي، مور ګانې دي، مهربانه دي، که دوی مېړونو ته ضررونه ونه رسوي، لمونځ کونکې به يې جنت ته داخل شي.

---

1 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الدُّخُولِ عَلَى المُغِيبَاتِ، ج3/ص 469، حدیث شمیره:۱۱۷۴، شيخ البانی وایي: دا حدیث صحیح دی.صحيح وضعيف سنن الترمذي، ج۳/ ص۱۷۴.

2 - سنن ابن ماجه، كتاب النكاح. بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ تُؤْذِي زَوْجَهَا،ج1/ص 648، حدیث شمیره: 2013

امام سیوطي د حدیث په شرح کې لیکي: ( لَوْلاَ مَا يَأْتِين أَي لَوْلاَ صنيعهن بأنهن يبذون بِاللِّسَانِ ويؤذين ازواجهن ويحملنهم الى مَا طَاقَة لَهُم دخلن الْجنَّة بِشَرْط أَدَاء الصَّلَاة أَي مُجَرّد أَدَاء الصَّلَاة يَكْفِي فِي نجاتهن لَو أحسن الى ازواجهن فَكَانَ هَذِه المتاعب والمشاق كَانَ لاسقاط اوزارهن ) ([1]).

(لَوْلاَ مَا يَأْتِين ) معنی داده یعنې: که ددوی دا کړنه نه وای، چې زبان بازي کوي او میړونو ته یې ضرر نه رسولی، دوی به جنت ته داخلې شي خو په دې شرط چې لمونځ به کوي، یعنې: یواځې لمونځ کول ددې لپاره کفایت کوي چې له اوره یې وساتي، ځکه د دوی دا تکلیفونه زغمل د ګناهونو په تویدو کې مرسته کوي. یواځې لمونځ چې وکړي او مېړونو سره ښه ګذاره وکړي دوی به جنت ته داخلې شي.

په دې احادیثو کې ښځو ته لارښوونه شوې چې خپلو مېړنو ته په ژبې، لاس ، وینا او بل څه سره ضرر مه رسوئ.

## دویم مطلب: دخاوند له اجازې پرته له کوره بهر نه وتل

د ښځو عزت او د هغو د حقیقي احترام د ساتلو لپاره شریعت د ستر بنستیز حکم کړی دی چې هغه یواځې په لباسي پټوالي باندي بسنه نه ده کړې بلکې ویلي یې دي چې ښځه باید د حورې په څېر په کور کې مستوره وي، البته په ځانګړو حالاتو او اړتیاوو کې ښځه هم بنده نه ده، لکه دحج سفر، د مور او پلار لیدل او د خپلوانو د روغ او رنځور لیدنه او پوښتنه کول، دمړو غمرازي او په خوشحالیو کې شریک کیدل ښځه کولاي شي چې د کوره ووځي دغه حالات به په اسلامي شریعت دمصادرو په بنیاد بیان کړم تر څو ثابته کړم چې اسلام په مطلق ډول د کور په څلورو دیوالونو کې د ننه ښځه بنده او ایساره کړې نه ده لکه چې شیطاني منابع د مومنو ښځو د بېلارې کولو په خاطر دغه زهرجن تبلیغات کوي او د اسلام د بد نامولو ناکامه کوششونه کوي ځکه چې اسلام یواځې هغه جامع دین دی چې لومړني جاهلیت څخه تاو

1 - عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي، (ب.ت) المصباح الزجاجة شرح سنن ابن ماجه، الناشر: قديمي كتب خانة -كراتشي ص: 145).

کړي ظالمانه پنجرې ماتې کړي ښځو ته يې د ازادۍ په شمول ټول حقوق ورکړل او ښځې ته يې د مور خطاب ورکړی او جنت يې د هغې د پښو لاندې وګاڼه  د لور نوم يې ورکړی، د مېرمن نوم يې ورکړی، د خور نوم يې ورکړی او په دغه نومونو ورکولو سربېره يې  د ښځې ورک شوی وقار او عزت اعاده کړی دی .

له کوره د ښځو وتل په لاندې څو عنوانونو کې د احاديثو په رڼا کې خلاصه کېدلی شي:

**لومړی حالت: د مېړه له خوښې پرته وتل**

که چېرې  ښځه دمېړه له امر څخه  پرته دکور څخه ووځي؛ نو د الله جل جلاله له امر سره سم دې وعظ ورته وشي وعظ او نصيحت ورته په ډېره نرمه لهجه په کار دی او هغه حقوق دې ورته بيان کړي چې الله جل جلاله د مېړونو لپاره پر ښځو لازم کړي  دي.

دا دې هم ورته بيان کړي چې په اسلام کې دمېړه پر ښځه باندې ډېر شرعي حقوق دي او منل يې پر ښځه فرض دي چې په غير ضروري توګه د کور څخه د ښځې بهر ته تلل اخلاقي، ديني ، کورني او اجتماعي نقصانونه او ستونزې را ولاړوي  او په خپل کور کې دښځې ناسته د هغې د حياء، عفت، عصمت او دمېړه په وړاندې ددې دعزت او درناوي ضامن دي .

د الله رضا او ډاډمن ژوند کول په کور کې د ښځې په وجود کې دي په داسې حال کې ښځه په خپل سر د کور څخه ووځي نو په کور کې اختلاف او خفګان پيداکيږي آن تر دې چې د قتل او قتال سبب هم ګرځي (1).

د بې اجازې وتلو په باره کې د نبي صلی الله عليه وسلم حديث په لاندې ډول دي:( عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا خَرَجَتْ مِنْ بَيْتِهَا، وَزَوْجُهَا كَارِهٌ لِذَلِكَ، لَعَنَهَا كُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ، وكُلُّ شَيْءٍ تَمُرُّ عَلَيْهِ، غَيْرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ، حَتَّى تَرْجِعَ» (2).

[1] - مولانا محمود الحسن ديو بندي، تفسير موضح الفرقان ،مکتبه دارالعلوم ديوبند، ج ١ ص ١٦٨ .

2 - سليمان بن أحمد بن أيوب الطبراني ،(1415هـ ق) المعجم الأوسط، الناشر : دار الحرمين - القاهرة ، ، ج ١ ص 164.

ژباړه : حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمان واورېده چې کله ښځه د خاوند له کور ه د خاوند په ناراضتيا کې ووځي نو د اسمان ټولې فرښتي او په کوم ځای چې تيريږي ټول ځيزونه له انسانانو او پيريانوپرته پرې لعنت کوي تردې چې هغه راستنه شي.

فقهاو ددې او نورو روايتونو پر اساس وايي چې ی مْدّه له اجازې او محرم پرته وتل منع دي، الله جل جلاله فرمايي:{أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ }.([1]).

ژباړه: هغو ته ( د عدت په وخت کې) په هماغه ځای کې استوګنه ورکړئ، چېرته چې تاسې اوسېږی.

بل ځای فرمايي:{وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ}(2) .

ژباړه: په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ.

بل ځای وايي:{لاَ تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلاَ يَخْرُجْنَ} (3) .

ژباړه: مه تاسې هغوی له کورونو څخه وباسئ او نه دې دوی له کوره وځي.

عقلی دليل يې دادی چې که له وتلو او باندې تللو څخه منع نشي، بيا به سکونت او نسب دواړه مختل شي، مېړه به شکمن شي بيا به له نسب څخه انکار کوي.(4).

البته د ضرورت په خاطر لکه د مور او پلارليدل او خپلوانو ليدنه، د تعزيت او نورو اړتياو لپاره وتل جائز دي.(5) البته فقهاو د هغې وتلو لپاره په مجموع کې لاندې شرطونه ذکر کړي چې مهم يې دادي:

1 – د فتنې وېره به نه وي که د فتنې وېره وي، بيا ورته وتل بلکل جائز نه دي.

---

1 -[الطلاق: 6]

2 - الاحزاب: 33

3 - الطلاق:1

4 -علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي.( 1406هـ - 1986م) ,بدائع الصنائع, الناشر: دار الكتب العلمية, ج 2 /ص 331.

5 - أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد الحنفى بدر الدين العينى,(ب.ت)عمدة القاري, الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، ج 20 /ص 218.

2 – لاره به په امن وي که لاره کې امنيت نه وي ،بيا هم ورته وتل جائز نه دي .

3 – د نارينه و سره به د اختلاط ويره نه وي او نه به د اختلاط خطره وي. (1)

4 – وتلو پرمهال بايد حجاب او ستر پوره موجود وي.(2)

5- وتل به يې د مېړه له اجازې سره وي که د مېړه اجازه نه وي، بيا يې وتل جائز نه وي.(3).

ابن حجر رحمه الله ددې حديث: ( إِذَا اسْتَأْذَنَكُمْ نِسَاؤُكُمْ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسْجِدِ فَأْذَنُوا لَهُنَّ (4). يعنې: که د شپې لخوا له تاسې ښځو اجازه غوښته چې مسجد ته لاړې شي؛ نو اجازه ورکړئ. له دې ښکاري چې ښځه به د مېړه په اجازه وځي ځکه حديث کې له مېړو څخه د اجازې غوښتلو امر شوی دی.(5)

**دويم حالت: د حج د سفر لپاره وتل**

که چېرې په ښځې حج فرض شوی وي بايد حج ته د تلو په صورت کې د محرم سره لاړه شي چې ترڅو دا مقدسه فريضه ادا کړي لکه ورور، پلار، ځوي ، مېړه او د غه شان ابدي محارم ورسره وي نو بيا د حج سفر کول ورته روا دي، او که چيرته دا اشخاص نه وي بيا ورته سفر کول نا روا دي. رسول الله صل الله عليه وسلم له دې څخه منع کړې ده احاديث دادي:

١: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ ثَلَاثًا، إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ»(6).

---

1 - جواهر الإكليل 1 / 81

2 - تفسير القرطبي 14 / 180

3 -أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي(1388هـ - 1968م), المغني، الناشر: مكتبة القاهرة،ج 7 /ص 2.0

4 - صحيح البخاري،كتاب الاذان، بَابُ خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى المَسَاجِدِ بِاللَّيْلِ وَالغَلَسِ، ج2 /ص 347. حديث شميره:865. و صحيح مسلم في الصلاة باب خروج النساء إلى المساجد إذا لم يترتب عليه فتنه, شميره: 442

5 - فتح الباري 2 / 347 - 348

6 - صحيح البخاري، بَابٌ: فِي كَمْ يَقْصُرُ الصَّلاَةَ، ج٢/ص ٤٣، صحيح مسلم،كتاب الحج، بَابُ سَفَرِ الْمَرْأَةِ مَعَ مَحْرَمٍ إِلَى حَجٍّ وَغَيْرِهِ.ج ٢ ص ٩٧٥ .حديث شميره: 1338.

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې ارشاد کړی : ښځه د د درې ورځو په اندازه سفر نکوي مګر دا چې ددې ښځې سره به محرم وي.

۲: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ سَفَرًا فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا، إِلَّا وَمَعَهَا أَبُوهَا أَوْ أَخُوهَا أَوْ زَوْجُهَا أَوِ ابْنُهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا»(1).

ژباړه: ابي سعيد رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کومه ښځه چې په الله او اخرت ورځې ايمان لري هغې ته روا نه دي چې له درې يا هغو څخه زيات له پلار، ورور، مېړه، زوی او يا بل خپل پرته سفر وکړي.

۳: أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ تُسَافِرُ مَسِيرَةَ لَيْلَةٍ، إِلَّا وَمَعَهَا رَجُلٌ ذُو حُرْمَةٍ مِنْهَا»(2).

ژباړه: حضرت ابي هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دمسلمانې ښځې لپاره نه دي روا په اندازه د يوې شپې سفر وکړي مګر دا چې د هغه سره به محرم سړی وي.

**دريم حالت : د والدينو د پوښتنې په موخه له کوره وتل**

د والدينو د پو ښتنې لپاره دکوره وتلی شي چې په هره اونۍ کې يو ځل د پوښتنې لپاره ورشي همدارنګه که چېرې د ښځې مور او پلار مريضان شي که څوک يې د خدمت نه وي نو مېړه بايد اجازه ورکړي او که چيرته يو له دې دواړو نه وفات شي دمړي د تعزيت او په مراسمو کې ګډون کولای شي. (3).

---

1 -صحيح مسلم، بَابُ سَفَرِ الْمَرْأَةِ مَعَ مَحْرَمٍ إِلَى حَجٍّ وَغَيْرِهِ ج2، ص ۹۷۷، حديث شميره: ۱۳۴۰، سنن أبي داود، ج 2 ص 140 .

2 - سنن أبي داود،كتاب المناسك، بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ تَحُجُّ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ، ج ۱ ص ٦٩٧ .حديث شميره:۱۷۲۳. شيخ البانی وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن ابی داود، 1723 شميره.

3 - ابن القدامة المقدسي، المغني 207، المهذب 2 / 67، ابن عابدين 2 / 664.

أَنَّ الْمُفْتَى بِهِ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ أَنَّهَا تَخْرُجُ لِلْوَالِدَيْنِ فِي كُل جُمُعَةٍ بِإِذْنِ الزَّوْجِ وَبِدُونِهِ، وَلِلْمَحَارِمِ فِي كُل سَنَةٍ مَرَّةً بِإِذْنِهِ وَبِدُونِهِ) (1)

يعنې: په حنفي مذهب کې مفتی به قول دادی چې: ښځه د والدينو ليدلو لپاره هره جمعه د مېړه په اجازه او بې له اجازې تللی شي، همدارنګه د نورو محارمو ليدلو لپاره په کال کې يو ځل تللی شي، ځکه په نه پرېښودلو کې د صله رحمی قطعه کول دي حال دا چې مېړه ته د ښځو سره په ښايسته ژوند تېرولو امر شوی او د خپلوي غوځول ښايسته ژوندل تېرولو کې نه راځي.

**څلورم حالت :د کسب لپاره د ښځې وتل**

که چيرته ښځه غسله ( يعنې غسل ورکوونکې )وي او د ښځو د غسل د مسنونو طريقو په ورکولو کې ماهره وي نو په اسلامي شريعت کې دغه ښځه دکور څخه دوتلو اجازه لري، مېړه ته حکم کوي چې ښځه منع نه کړي ځکه چې دا يو اجتماعي خدمت دی ، هره ښځه نشي کولای چې په مسنونه طريقه غسل ورکړي لکه څنګه چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په پاک ژوند کې يوه پوهه ښځه چې د ام عطيه په نامه يوه جليل القدره صحابيه وه او مسلمانانو ښځوته به ئې غسل ورکاوه حديث له همدې صحابی څخه روايت دی وايي:

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَتِ ابْنَتُهُ، فَقَالَ: «اغْسِلْنَهَا ثَلاَثًا، أَوْ خَمْسًا، أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذَلِكَ، بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَاجْعَلْنَ فِي الآخِرَةِ كَافُورًا، أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ، فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي» فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ فَأَعْطَانَا حَقْوَهُ، فَقَالَ: «أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ» (2).

ژباړه: له ام عطيه رضي الله عنها څخه روايت دی:( په اتم د هجرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم لور بي بي زينب وفات شوه نو موږ غسل ورکاوه) پيغمبر عليه السلام رانوت او ويې فرمايل: درې ځلې ومينځئ او يايې پنځه ځلې او يا يې ددې نه هم زيات که تا سې يې

---

[1] - ابن عابدين، ردالمحتار 2 / 664، والفتاوى الهندية 1 / 557

2 - صحيح البخاري، بَابٌ: كَيْفَ الإِشْعَارُ لِلْمَيِّتِ؟ ج۲، ص۷۵،شميره: 1261 .

ضروري ګڼي ووينځئ د بيرو د پاڼو په مخلوطو او بو غسل ورکړئ او په وروستي ځل يې په کافورو ووينځئ. کله مو چې غسل خلاص کړ ماته خبر راکړئ کله مو چې خبر ورکړ، خپل د لنګ څادر يې راکړ او راته يې وفرمايل: په دي کې را ونغاړئ.

**پنځم حالت : د علم په لټه کې د ښځې دوتلو حکم**

که چېرې هغه علم چې ښځه يې زده کول غواړي پر دې باندې شرعا فرض کړل شوی وي نو پر مېړه يې لازم دي چې هغه ورزده کړي په دې شرط چې د هغه په زده کولو قادر وي او که مېړه داسې ونه کړي پر ښځه باندې فرض دي چې چيرته عالمان وي او علمي مراکز وي ورته دې ولاړه شي او د خپل دين احکام دې ترې زده کړي که څه هم دغه وتل د مېړه له اجازي څخه پرته وي مګر که چېرې ښځه پر هغو ديني احکامو عالمه وي چې الله تعالی پرې فرض کړي دي يا يې مېړه عالم وي اودېته يې ور زده کوي نو بيا ښځه حق نه لري چې د مېړه له اجازي پرته ووځي(1).

اسلام په نړی کې لومړی نظام او لومړی دين دی چې په نر او ښځه يې علم فرض کړی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ)(2).

ژباړه : له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : د علم زده کړه پر هر مسلمان باندې فرض ده.

ښځه هم دنارينه په څير ده ...تر څو يې چې دخپل دين او دنيا امور او چاري نه وي زده کړي په ټولنه کې خپل رول نشي تر سره کولاي ځکه چې هم اسلام د جينی په تربيه او روزنه باندي ډېر ټينګار کوي.

(أَبُو بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلاَثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ: رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ، آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالعَبْدُ المَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللَّهِ

---

[1] - سيد سابق مصري، فقه السنة،دارالقلم دمشق، ج ٢ ص ٢٠٧.

2 - سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم الطبراني،(1388هـ)، المعجم الكبير،الناشر : مكتبة العلوم والحكم –الموصل،الطبعة الثانية ، ج ١٠ ص 195.

وَحَقَّ مَوَالِيهِ، وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا، وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا، ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ ")(1).

ژباړه ابي برده دخپل پلار نه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي درې تنه دي چې د هغوی لپاره دوه اجرونه دي: ...او کوم سړي سره چې يوه ماشومه وينځه وي او بيا يې هغه ته ښه زده کړه ورکړه او بيا يې ازاده او په نکاح يې کړي نو د ده لپاره دوه اجرونه لري.

(عَنْ أَبِي سَعِيدٍ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ، فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْمًا نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللَّهُ فَقَالَ: «اجْتَمِعْنَ فِي يَوْمِ كَذَا وكَذَا فِي مَكَانِ كَذَا وكَذَا»، فَاجْتَمَعْنَ، فَأَتَاهُنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللَّهُ) (2).

ژباړه : له ابي سعيد نه روايت دی وايې يوه ښځه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله او ويې ويل: ای دالله رسوله! سړو ستا څخه حديث زده کړل ، موږ ته هم يوه ورځ وټاکه ترڅو تاته راشو او هغه څه راوښايې کوم چې تاته الله جل جلاله درښودلي دي ، بيا يې وويل: په فلانی ورځ فلاني ځای کې راټولې شئ، بيا ښځې راټولې شوې هغه راغی او هغه څه يې موږ ته وښودل کوم چې الله ورښوولي وو.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو د ښځو ښه ستاينه کوي او وايي : (نِعْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الْأَنْصَارِ لَمْ يَكُنْ يمْنَعُهُنَّ الْحَيَاءُ أَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِي الدِّينِ)(3).

---

1 - صحيح البخارى،كتاب العلم، بَابُ تَعْلِيمِ الرَّجُلِ أَمَتَهُ وَأَهْلَهُ، ج 1/ ص ٣١، حديث شميره: ٩٧، و صحيح مسلم باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم إلى جميع الناس، شميره:154.

2 - صحيح البخاري، بَابٌ: هَلْ يُجْعَلُ لِلنِّسَاءِ يَوْمٌ عَلَى حِدَةٍ فِي العِلْمِ؟ ، ج ١/ ص ٣٢، حديث شميره: ١٠١.صحيح مسلم،كتاب البر والصلة، بَابُ فَضْلِ مَنْ يَمُوتُ لَهُ وَلَدٌ فَيَحْتَسِبَهُ ،ج ٤ ص 2028. حديث شميره.

3 -صحيح مسلم، بَابُ اسْتِحْبَابِ اسْتِعْمَالِ الْمُغْتَسِلَةِ مِنَ الْحَيْضِ فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فِي مَوْضِعِ الدَّمِ، ج 1/ ص ٢٦١ ، حديث شميره:٣٣٢.

ژباړه: بهترينې ښځې د انصارو مېرمنې دي چې دوي به حيا او شرم له دې څخه نه منع کولې چې د الله په دين ځانونه پوه کړي.

**شپږم حالت : د ضرورت پرمهال له اجازې پرته وتل**

ښځه کولی شي چې د مېړه له احازې پرته په لاندې حالتو کې له کوره ووځي لکه: د خوراك لپاره، محکمې ته د خپل حق غوښتنې پخاطر، کله يې چې مېړه ددې د نفقې توان نلري د نفقې گټلو لپاره، د فتوا غوښتنې لپاره په دې شرط چې مېړه يې فقيه نه وي، کوم کور کې چې اوسيږي، د هغه کور د احتمالي ړنگېدو پرمهال هم ښځه کولی شي چې د مېړه له احازې پرته له کوره ووځي.

وَيَجُوزُ لِلزَّوْجَةِ الْخُرُوجُ بِغَيْرِ إِذْنِ الزَّوْجِ لِمَا لاَ غَنَاءَ لَهَا عَنْهُ، كَإِتْيَانٍ بِنَحْوِ مَأْكَلٍ وَالذَّهَابِ إِلَى الْقَاضِي لِطَلَبِ الْحَقِّ، وَاكْتِسَابِ النَّفَقَةِ إِذَا أَعْسَرَ بِهَا الزَّوْجُ، وَالاِسْتِفْتَاءُ إِذَا لَمْ يَكُنْ زَوْجُهَا فَقِيهًا . وكَذَلِكَ لَهَا أَنْ تَخْرُجَ إِذَا كَانَ الْمَنْزِل الَّذِي تَسْكُنُهُ مُشْرِفًا عَلَى انْهِدَامٍ.(1).

که چېرې داسې موضوع پيښه شي چې په هغې کې د ښځې شهادت ته اړتياوي نو قا ضي د شهادت لپاره ښځه کولای شي چې قضا ته ولاړه شي يا ددي پر چا باند ي حق وي او هغه يې نه ورکوي او يا پرې د چا حق او دعوی وي او قاضي يې محکمې ته وغواړي که مېړه ورته اجازه وکړي او که ونه کړي بايد ولاړه شي .

**دريم مطلب: د خاوند له مباشرت څخه ډډه نه کول**

عَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ، وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ» (2).

ژباړه: له طلق بن على رضى الله عنه څخه روايت دی وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې مېړه خپله ښځه د حاجت پوره کولو لپاره راوغواړي، نو رادشي اگر که په تنور هم ناسته وي.

---

1 - الموسوعة الفقهية الكويتية ج١٩/ ص ١١٠

2 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى المَرْأَةِ، ج3/ ص457، حديث شميره:١١٦٠

ملاعلي قاري په شرح کې ليکي: ( بشرط أَنْ يَكُونَ الْخُبْزُ لِلزَّوْجِ لِأَنَّهُ دَعَاهَا فِي هَذِهِ الْحَالَةِ فَقَدْ رَضِيَ بِإِتْلَافِ مَالِ نَفْسِهِ، وَتَلَفُ الْمَالِ أَسْهَلُ مِنْ وُقُوعِ الزَّوْجِ فِي الزِّنَا ) ([1]).

په دې شرط چې په تناره کې ډوډۍ د مېړه وي، د بل چا نه وي، ځکه کله چې ډوډۍ د مېړه وي دده مال دی، هغه د خپل مال په هلاک کېدولو خوښ دی، بله دا چې د مال هلاکېدل کم ضرر دی په نسبت دېته چې مېړه په زنا کې ولويږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا لَعَنَتْهَا المَلاَئِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ» (2).

ژباړه: له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې سړی خپله ښځه خپلې بسترې ته راوغواړي، خو هغه انکار وکړي، مېړه ټوله شپه په غصه تېره کړي، تر سهاره به ملايکې پر دې ښځې لعنت وايي.

ددې روايتونو په رڼا کې فقهاو ويلي چې کله ښځه له مېړه سره له جماع کولو څخه انکار کوي، دا ښځه ناشزه ګڼل کيږي، په مېړه باندې د نفقې حق نلري، ځکه دا د هغه فرمان مخالفت کوي کوم چې نبي صلی الله عليه وسلم د ښځو لپاره کړی دی([3]).

لنډه دا چې په دې احاديثو کې ښځو ته دا لارښوونه شوې چې د مېړه خبره ومني، د مېړه د جماع يا بل څه غوښتنه ومني.

## څلورم مطلب: دخاوند له اجازې پرته نفلی روژه نيول

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَصُومُ المَرْأَةُ وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ» (4).

---

[1] - مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (5/ 2126)

2 - صحيح البخاري، کتاب بدء الخلق، بَابُ إِذَا قَالَ أَحَدُكُمْ: آمِينَ وَالمَلاَئِكَةُ فِي السَّمَاءِ، ج4/ص 116)، حديث شميره: 3237. و صحيح مسلم في النكاح باب تحريم امتناعها من فراش زوجها رقم 1436.

3- اجبار الزوج زوجته على الجماع، الاستفتاء سوال وجواب، الاسلام نيت، ۲۰۰۳ م

4 - صحيح البخاري،کتاب النکاح، بَابُ صَوْمِ المَرْأَةِ بِإِذْنِ زَوْجِهَا تَطَوُّعًا، ج7/ص 30) شميره:5192. و صحيح مسلم في الزكاة باب ما أنفق العبد من مال مولاه ، شميره: 1026

ژباړه: ابوهريره رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي وايي: کله چې د ښځې مېړه په کور کې وي، د هغه له اجازې پرته به نفلي روژه نه نيسي.

امام عيني يې په شرح کې وايي: (يَعْنِي مُقيم فِي الْبَلَد إِذْ لَو كَانَ مُسَافِراً فلهَا الصَّوْم لِأَنَّهُ لَا يتأتي مِنْهُ الِاسْتِمْتَاع بهَا) (1).

يعنې: مېړه يې په ښار کې مقيم وي، که مسافر وو، بيا کولی شي چې دده له اجازې پرته نفلي روژه ونيسي.

عَنِ ابن عباس رَضِيَ الله عَنْهما قال أَنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمٍ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقالت يا سول اللَّهِ إِنِيِّ امْرَأَةٌ أَيِّمٌ فَأَخْبِرْنِي مَا حَقُّ الزَّوْجِ عَلَى زَوْجَتِهِ فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ حَقَّ الزَّوْجِ عَلَى زوجته إن سألها نفسها وهي على ظَهْرِ بَعِيرٍ أَنْ لَا تمْنَعَهُ وَمِنْ حَقِّ الزَّوْجِ على زَوْجَتِهِ أَنْ لَا تَصُومَ يَوْمًا تَطَوُّعًا إِلاَّ بِإِذْنِه فَإِنْ فَعَلَتْ جَاعَتْ وَعَطِشَتْ وَلَمْ يُقْبَلْ مِنْهَا) (2).

ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی وايي:د ختعم قبيلې يوه ښځه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله ويې ويل: زه يوه ښځه يم ما پوه کړه چې په ښځه باندې د مېړه کوم حقوق دي؟ هغه ورته وويل: د مېړه پر ښځه يو حق دادی چې که مېړه ترې څه غوښتنه وکړه او دا د اوښ په شاه هم وه، د مېړه خبره د ومني او بل حق يې دادی چې د مېړه له احازې پرته به نفلي روژه نه نيسي، که ويې نيوله هسې به وږې او تږې شي خو قبليږي نه.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَنَحْنُ عِنْدَهُ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ زَوْجِي صَفْوَانَ بْنَ الْمُعَطَّلِ، يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ، وَيُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ، وَلَا يُصَلِّي صَلَاةَ الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، قَالَ وَصَفْوَانُ عِنْدَهُ، قَالَ: فَسَأَلَهُ عَمَّا قَالَتْ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ،

---

1 - عمدة القاري شرح صحيح البخاري (20/ 184)

2 - أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني.( 1419هـ).المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية ،تنسيق: د. سعد بن ناصر بن عبد العزيز الشثري، الناشر: دار العاصمة، دار الغيث – السعودية، ج8/ص 334.د حديث حکم په هکله د المطالب العاليه محقق وايي:ددې حديث مدار په حسين بن قيس دی چې متروک دی، خو په دې موضوع کې نور صحيح احاديث شته. وګوره: المطالب العاليه بتحقيق مجموعة من الباحثين في 17 رسالة جامعية(1419 هـ - 1998 م) الناشر: دار العاصمة للنشر والتوزيع - دار الغيث للنشر والتوزيع.

أَمَّا قَوْلُهَا يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ، فَإِنَّهَا تَقْرَأُ بِسُورَتَيْنِ وَقَدْ نَهَيْتُهَا، قَالَ: فَقَالَ: «لَوْ كَانَتْ سُورَةً وَاحِدَةً لَكَفَتِ النَّاسَ»، وَأَمَّا قَوْلُهَا: يُفَطِّرُنِي، فَإِنَّهَا تَنْطَلِقُ فَتَصُومُ، وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ، فَلَا أَصْبِرُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ: «لَا تَصُومُ امْرَأَةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا» (1).

ژباړه: ابوسعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: د صفوان بن معطل ښځه نبی صلی الله عليه وسلم ته راغله ويې ويل: کله چې لمونځ کوم ميړه مې وهي، چې نفلي روژه نيسم راباندې ماتوي يې او سهار لمونځ هم ناوخته کوي. صفوان هم هلته حاضر وو ورته يې وويل: دا ښځه څه وايي؟ هغه وويل: دا لمونځ کې اوږده سورتونه وايي، نبی صلی الله عليه وسلم ورته وويل: يو سورت درته کفايت کوي. او روژه ځکه پرې ماتوم زه يو ځوان يم صبر نشم کولی او دا نفلي روژه نيسي، نبی صلی الله عليه وسلم ورته وويل: د مېړه له اجازې پرته نفلي روژه مه نيسه.

د ميړه په اجازه کې حکمت دادی چې دده اجازه ځکه ضرور ده چې دده حقوق لکه وطی، يا د وطي رابلونکي کارونه فوت نشي. بله دا چې د ميړه حق واجب دی؛ په نفلو بايد پرې نښودل شي.(2)

خو که بيا هم د ميړه له اجازې پرته ښځې روژه ونيوله د جمهور فقهاو له نظره روژه يې سره له حرمته درسته ده، د احنافو له نظره دا کراهت تحريمي دي.(3)

1 - سنن أبي داود،كتاب الصوم, بَابُ الْمَرْأَةِ تَصُومُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا، ج2/ ص330) حديث شميره: ۲۴۵۹. شيخ البانی وايي:دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن ابی داود، ۲۴۵۹ شميره.

2 - الموسوعة الفقهية الكويتية ،ج3/ ص157.

3 - مخکنی مرجع، ج28/ص 99

## دريم فصل

## نارينه ته د ښځو په اړه لارښوونې

په دې فصل کې هغه لارښوونې رانقل شوي کومې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپلو مباركو احاديثو كې د نارينه و لپاره كړي او د احاديثو په كتابونو كې موجودې دي.

په دې فصل کې شپږ مطلبونه دي:

### لومړی مطلب: ښځی سره ښه چلند

قرآن کریم کې له ښځو او مېرمنو سره په ښه چلند تأکيد او ټينګار شوی دی، فرمايلي يې دي:{وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ} [النساء: 19]

ژباړه: له مېرمنو سره مو ښه او غوره چلند او ژوند وکړئ.

بل ځای کې فرمايي: {وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ} [البقرة: 228].

ژباړه: دوی په مېړونو هومره حق لري لکه چې مېړونه يې پر دوی لري، او سړيو ته پر هغو باندې درجه شته.

دلته د درجې نه مراد د مسئوليتونو د زياتوالي په نتيجه کې د کور په چارو کې د برلاسي، واکدارۍ او اختيار زياتولو درجه ده، نه د جنس پر اساس د تفاضل او لوړوالي درجه، چې ګواکې نر پر ښځه بهتره او غوره ده.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ويناوو او کړنو کې مونږ ته له ښځو سره د چلند اصول او ضوابط موجود دي چې بايد په پام کې ونيول شي، هغه مبارک په ګڼو حديثونو کې تأکيد کړی دی چې له مېرمنو سره ښه چلند ولرئ، له هغوی سره نرمي وکړئ، سختي مه ورسره کوئ، بې ځايه غوسې مه پرې کوئ، په وړو وړو خبرو يې مه ښکنځئ او مه يې رټئ. لکه : فرمايي: عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا حَقُّ زَوْجَةِ

أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟، قَالَ: «أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، أَوِ اكْتَسَبْتَ، وَلاَ تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلاَ تُقَبِّحْ، وَلاَ تَهْجُرْ إِلاَّ فِي الْبَيْتِ»([1])

ژباړه: حكيم بن معاوية القشيري له خپل پلار څخه روايت كوي وايي:ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: مونږ باندې د ښځو څه حقوق دي؟ هغه راته وويل: كله يې چې خوراك ته ضرورت وو، خوراك وركوه، كه جامې ته يې ضرورت وو، جامه وركړه، په مخ يې وهه او مه يې سپكوه، له كور پرته يې بل چېرته يې يواځې مه پرېږده.

حضرت اسود رضى الله عنه وايي چې ما له حضرت عائشې رضى الله عنها نه پوښتنه وكړه، چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم به كور كې څه كول؟ نو هغې وويل: د كور په كارونو كې به يې را سره مرسته كوله او چې كله به د لمانځه وخت شو، نو بيا به لمانځه ته پاڅيده.

په بل روايت كې راځي چې حضرت عائشې (رضي الله عنها) وفرمايل: پيغمبر صلى الله عليه وسلم به په كور كې پيزار په خپله جوړوه، جامې به يې په خپله پيوندولې او ګنډلې.

بل ځاى فرمايي:(عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي)(2)

ژباړه: عائشه رضى الله عنه روايت كوي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ويلي: هغه څوك غوره او ښه دى چې د كور له خلكو ( مېرمنې او ماشومانو) سره ښه چلند لري او زه د خپلې كورنۍ لپاره ښك چلند كوم.

كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د حجة الوداع په مراسمو كې خپله وروستۍ خطبه اوروله، نو امت ته يې مهمې توصيې او لارښوونې وكړې او په هغو كې يې له مېرمنو سره په ښه چلند او تعامل ټينګار وكړ او ويې ويل:( أَلاَ وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا). (3)

1 - ابوداود، سنن أبي داود، بَابٌ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَ ج2/ص 244). شيخ الباني وايي: حسن او صحيح دى.-٢٤٤/٢.

2 - سنن الترمذي، ابواب المناقب، بَابٌ فِي فَضْلِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ج5 / ص709، شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دى.وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذى، ج٨/ص ٣٩٥

3 - سنن الترمذي،ابواب الرضاع، بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ المَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا، ج3 /ص459, شميره: 1163.شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دى. وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذى، ج٣/ ص١٦٣.

(د مېرمنو سره د تعامل او چلند په اړه زما د نېکۍ وصيت واورئ) معنا دا چې هغوی سره ښه کوئ.

خاوند به د خپلې مېرمنې سره تر خپله وسه نيک سلوک کوي او د هغوې پر وړاندې به مهربانه چلند کوي قرآنکريم د ميرمنې سره د ښه سلوک کولو امر کړی دی: وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا)(1).

ژباړه: او له هغی سره په ښه طريقه ژوند تير کړی ، بيا که هغه ستاسی (په څه وجه ) خوښی نه وي نو کيدای شي چې يو شی ستا خوښ نه وي خو الله جل جلا له په هغه کی (ستاسو) لپاره ډيره څه ښيګڼه ايښی وي.

نو يو انسان خو به خامخا يوه خاليګاه يا څه نيګړتيا لري مثلاً که کومه ښځه په رنګ کې کمزورې وي نو شايد بل اړخ ته يوه ډيره ديندراه او نيک خويه وي چه د خپل خاوند د دنيا او آخرت د نيکبختۍ سبب وګرځي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِنِسَائِهِمْ»(2).

ژباړه : د ايمان په اعتبار سره ستاسو کښې کامل ايمان والا هغه څوک دی چه د هغه اخلاق اوخوی ښه وي او تاسی کې بهترين اوغوره هغه دی چه د خپلی ښځی سره يی سلوک ښه وي .

وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ الله عَنْهَا قَالَتْ: بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مُضْطَجِعَةٌ فِي خَمِيصَةٍ، إِذْ حِضْتُ، فَانْسَلَلْتُ، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي، قَالَ: «أَنُفِسْتِ»؟ قُلْتُ: نَعَمْ، فَدَعَانِي، فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ(3).

---

[1] - النساء: 19 ايت

2 - سنن الترمذي،ابواب الرضاع، بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ المَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا، ج3 /ص458, شميره: 1163.شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذی، ج٣/ ص١٦٢.

3 -صحيح البخاری،کتاب الحيض، بَابُ مَنْ سَمَّى النِّفَاسَ حَيْضًا، وَالحَيْضَ نِفَاسًا،ج1/ ص 67، حديث شميره:٢٩٨.

ژباړه: د مؤمنانو مور ام سلمه رضی الله عنها وايي : د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په یوه څادر کې ویده وم چې حایضه شوم په کراره مې ځان بیرون کړ او د حیض جامې مې واغوستلې . رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه ؟ ایا حایضه شوې ؟ ومي ویل : هو بیا یې زه ور وغوښتم او له هغه سره په هماغه څادر ویده شومه .

مطلب دا چې د ښځې سره د حیض او نفاس په موده کې خوړل ، څملاستل نور ټول روا دي یوازې جماع کول حرام دی د جاهیلت په دور کې به چې کله ښځې حایضې یا نفاسې شوي له څخه به لرې کیدل او کرکه به یې ورڅخه کوله .

## دویم مطلب: دښځې سپکاوی نه کول

په ځینو ټولنو کې متأسفانه ځینې خلك د ښځو سره د دښمني له امله له دوی سره ډېره بده معامله کوي،دوی وهي د اولاد او نورو په مخ کې یې سپکوي، ښکنځلې ورته کوي او په ډېرو سپکو الفاظو سره یې یادوي، په دې هکله د اسلام دریځ څه شی دی؟

د اسلام په څېربل داسې دین نشته چې د ښځو عزت او درناوی په کې شوی وي، له بېلابېلو اړخونو یې درناوی شوی په یوه اعتبار دا چې دا د چا مېرمن ده، بل دا چې دا یو مور ده، خور ده لور ده او نور. د جاهلیت په زمانه کې چې د ښځې سره کومه ناوړه کړنې کېدې هغه یې په سختو الفاظو سره رد کړي.

قران کریم دا په ډاګه کړې چې د ښځې او مېړه ترمینځ ژوند باید د مینې او محبت په ټینګو ستنو ولاړ وي، په دې هکله فرمایي: {وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ } [الروم: 21]

ژباړه: او د هغه له نښانو څخه ( بله ) دا ده چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه یې میرمنې پیدا کړې ترڅوچې تاسې له هغو سره ارام ترلاسه کړئ او ستاسې ( ښځې او خاوند ) په مینځ کښې یې مینه او خواخوږي پیداکړه. په باوری ډول پدې کښې دهغو خلکو لپاره ډیرې نښانې دي چې غور او فکر کوي .

په ځينو اياتونو کې د دوی دواړو څخه د يو بل په لباس تعبير شوی دی فرمايي: {هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ} [البقرة: 187]

ژباړه: هغوی ستاسې جامه او تاسې د هغو جامه یاست

د ښځې او مېړه په اړه د اسلام نظر دادی چې دوی د يو بل خصم او دښمن نه بلکې د يو او بل داسې دوستان دي چې له يو پرته د بل ژوند سخت او ستونزمن وي.

په دې اساس اسلام د ښځې سپکاوی نه مني او نه ورسره بدکول مني، که هغه په قول سره وي او که په فعل سره.

ښځه خو په ځای پريږده آن د حيواناتو اهانت او سپکاوی نه مني، نو څنګه به د انسان سپکاوی ومني؟ بيا د هغې ښځې چې دده د کور پالونکې ده، د ژوند شريکه ده، د اولادونو مور يې ده، په ټولو خلکو کې ده ته نږدې ده.

په يوه حديث کې راځي چې يوې ښځې په يوې اوښې لعنت ووايه نبی صلی الله عليه وسلم هغې ته سخت الفاظ وويلې. وعنْ عِمْرَانَ بنِ الحُصينِ رضي اللَّه عنْهُما قَالَ: بينَما رسُولُ اللَّه صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم في بعضِ أسْفَارِهِ، وامرأَةٌ مِنَ الأنصارِ عَلى نَاقَةٍ، فضجِرتْ فَلَعَنَتْهَا، فَسمع ذلكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم فقالَ: "خُذوا مَا عَلَيْهَا ودعُوها، فإنَّها ملعُونَةٌ"(1).

ژباړه: عمران بن الحصين رضی الله عنهما څخه روايت دی وايي: په سفر کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وو، يوه انصارۍ ښځه هم په اوښې سپره وه، اوښې چغې وهلې ښځې د الله لعنت پرې وويلې، نبی صلی الله عليه وسلم وويل: پر دې چې څه بار دي هغه ترې واخلئ او نوره يې وشړئ ځکه چې دا لعنتي ده.

د احاديثو شارحين وايي: چې له دې څخه مراد يې ښځې ته يو ډول رټنه او تهديد وو.

اسلام له ضرورت پرته د ښځې وهل او سپکاوي اجازه نه ورکوي. کوم ايت کې چې د وهلو اجازه شوې د هغه په پای کې وايي: { فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيراً } [النساء: 34]

1 - صحيح مسلم ،کتاب البر والصلة، بَابُ النَّهْيِ عَنْ لَعْنِ الدَّوَابِّ وَغَيْرِهَا، ج۴/ ص ۲۰۰۴، حديث شميره:2595.

ژباړه: نو كه هغوى ستاسې فرمان برداري شي؛ نو هغو ته د لاس غځونې له پاره بيځايه پلمې مه جوړوئ ، باور ولرئ چې له پاسه الله شته دى چې لوى او لوړ دى.

ددې ايت په تفسير کې امام قرطبي وايي:(فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ) أَيْ تَرَكُوا النُّشُوزَ. (فَلا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً) أَيْ لاَ تَجْنُوا عَلَيْهِنَّ بِقَوْلٍ أَوْ فِعْلٍ. وَهَذَا نَهْيٌ عَنْ ظُلْمِهِنَّ بَعْدَ تَقْرِيرِ الْفَضْلِ عَلَيْهِنَّ وَالتَّمْكِينِ مِنْ أَدَبِهِنَّ(1).

ژباړه: كه دې ښځو بد ګذراني پرېښوده بيا پردې باندې نه په خبره او نه هم په كومه كړنې سره تجاوز مه كوئ. په دې كې له دوى سره له ظلم كولو څخه منع شوې كله چې دوى ښې او مؤدبې شي.

امام رازي ليكي:(فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ أَيْ إِذَا رَجَعْنَ عَنِ النُّشُوزِ إِلَى الطَّاعَةِ عِنْدَ هَذَا التَّأْدِيبِ فَلا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً أَيْ لاَ تَطْلُبُوا عَلَيْهِنَّ الضَّرْبَ وَالْهِجْرَانَ طَرِيقًا عَلَى سَبِيلِ التَّعَنُّتِ وَالْإِيذَاءِ)(2).

يعنې: كه په تاديب سره له بدګزراني څخه د اطاعت په لور راوګرزېدې، بيا دويته د ضرر رسولو په موخه مه دوى وهى او مه ترې بستره بېلوي.

د ضرورت پرمهال چې د كومو وهلو اجازه وركړل شوې هغه كې رخصت دى، يعنې لازمي نه ده چې مېړه به ښځه وهي، نو ځكه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:(لَنْ يَضْرِبَ خِيَارُكُمْ )(3) تاسو كې غوره شخص وهل نه كوي.

يعنې: وهل كوم كمال نه دى بلكې د نارينه اصلي كمال دادى چې ښځو سره په نرمي، نيكو اخلاقو سره معامله كوي.

---

1 - تفسير القرطبي، ج5/ص 173)

2 - أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين.( 1420 هـ ) تفسير الرازي = مفاتيح الغيب, الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، ج10/ص 73)

3 - أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي(1409). مصنف ابن أبي شيبة , المحقق: كمال يوسف الحوت ، الناشر: مكتبة الرشد - الرياض ج8/ص 368)

همدې وجهې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: (عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي) (1).

ژباړه: عائشه رضى الله عنه روايت كوي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ويلي: هغه څوك غوره او ښه دى چې د كور له خلكو (مېرمنې او ماشومانو) سره ښه چلند لري او زه د خپلې كورنۍ لپاره نېك چلند كوم.

له بي بي عائشې رضى الله عنه څخه روايت دى وايي: مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَادِمًا وَلاَ امْرَأَةً قَطُّ) ([2]).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم هيڅكله هم كوم خادم يا ښځه نه ده وهلې.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيغور په توګه ښځې وهونكي ته ويلي چې عجيبه سړى دى چې د ورځې په پيل كې ښځه د غلام په څېر ووهي:(فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ» او كېداى شي بيګاه ته ورسره څملي.

لنډه دا چې په دې روايتونو كې نارينه و ته دا پيغام دى چې د خپلو ښځو سپكاوى د نه كوي، هغوى د نه وهي، په اسلامي شريعت كې چې د ښځو د وهلو كومه اجازه شوې هغه د ضرورت په خاطر ده.

**دريم مطلب: دښځو ترمنځ دتعدد پرمهال عدالت**

كه يوسړى له يوې ښځې څخه زياتې ښځې په نكاح كړي وي نوپرې لازم دى چې په خوراك لباس اومسكن كې ددوى ترمنځ عدل اوبرابرى مراعات كړي كه چېرته يوې ته پربلې كوم امتياز وركړي او دده په وس كې وي نو زيات ګناهګار دى(3).

1 - سنن الترمذي، ابواب المناقب، بَابٌ فِي فَضْلِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ج5 / ص709، شيخ الباني وايي: دا حديث صحيح دى.وګوره: صحيح وضعيف سنن الترمذى، ج۸/ص ۳۹۵

2 - سنن أبي داود،كتاب الادب، بَابٌ فِي التَّجَاوُزِ فِي الْأَمْرِ، ج4/ص 250) حديث شميره: ۴۷۸۶. شيخ البانى وايي: دا حديث صحيح دى. وګوره: صحيح وضعيف سنن لابى داود، ۴۷۸۶ شميره.

[3] -دوكتور احمد غندر، الاحوال الشخصية فى التشريع الاسلامى، ۲۶۳ مخ.

پروردګار دغه مقصد ته د اشارې په ترځ کې فرمايي:((وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُواْ فِي الْيَتَامَى فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ ))(1).

ژباړه:که تاسې ويريږئ چې له پلار مړيو (نجونو) سره به عدالت ونه شی کړای؛ نو کومې (نورې) ښځې چې ستاسې خوښيږي د هغو له دوو دوو، دريو دريو، څلورو څلورو سره نکاح وکړئ.

په همدې توګه پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي:((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ»(2).

ژباړه: څوک چې د دوه ښځوخاوند وي او يوې ته يې پر بلې ميلان زيات وي نو د قيامت په ورځ به په داسې حالت کې راشي چې يو اړخ به يې ځړېدلی(شل)وي.

د حديث په شرح کې راځي: وَالْحَدِيثُ دَلِيلٌ عَلَى أَنَّهُ يَجِبُ عَلَى الزَّوْجِ التَّسْوِيَةُ بَيْنَ الزَّوْجَاتِ وَيَحْرُمُ عَلَيْهِ الْمَيْلُ إِلَى إِحْدَاهُنَّ، وَقَدْ قَالَ تعالى فلا تميلوا كل الميل وَالْمُرَادُ الْمَيْلُ فِي الْقَسْمِ وَالْإِنْفَاقِ لَا فِي الْمَحَبَّةِ لِأَنَّهَا مِمَّا لَا يَمْلِكُهُ الْعَبْدُ ) (3).

يعنې: دا حديث په دې دليل دی چې پر مېړه واجب دي چې د دوه ښځو ترمينځ عدالت وکړي، په دې دواړو کې يوې ته ميلان کول حرام دي. الله جل جلاله چې ويلي:( تاسې ټول ميلان هغې خواته مه کوئ) يعنې: په نفقې او شپې تيرولو کې ميلان مه کوئ. محبت ترې مراد نه دی ځکه چې محبت خو د انسان په واک کې نه وي.

پر مېړه دا هم لازم دي چې د ښځو ترمنځ د شپو په تېرولو کې عدل مراعات کړي او له هرې يوې سره برابره ملاسته وکړي، البته په دې هکله د شريعت له خوا ټاکلې اندازه نشته چې څو شپې به له هرې يوې سره تېروي؟ بلکې دغه اندازه به د دوی په خوښه ټاکل کېږي،خو

---

[1] النساء: ٣ ايت.

2 - سنن أبي داود،كتاب النكاح، بَابٌ فِي الْقَسْمِ بَيْنَ النِّسَاءِ ج2/ص 242). . شيخ البانى وايي: دا حديث صحيح دی. وګوره: صحيح وضعيف سنن لابى داود، شميره.2133.

3 - عون المعبود وحاشية ابن القيم،ج6/ ص121)

غوره داده چې له اوو شپو څخه زياتې له کومې يوې سره ځانته توګه تېرې نه کړي ترڅو بلې ته زيان ونه رسېږي(1).

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْسِمُ بَيْنَ نِسَائِهِ، فَيَعْدِلُ، وَيَقُولُ: «اللَّهُمَّ هَذِهِ قِسْمَتِي فِيمَا أَمْلِكُ، فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ»(2).

ژباړه: عايشه رضی الله عنها فرمايي: نبي صلی الله عليه وسلم به د ښځو ترمينځ نوبت کاوه او په نوبت کې به يې هم عدالت کاوه، له دې سره سره به يې بيا هم ويل: يا الله! څه چې زما په لاس کې دي دا د هغو تقسيم دی، ته په هغه څه ما مه نيسي کوم چې ستا په لاس کې دي او زما په لاس کې نه دي.

علماء ليکي: چې (فيما لا املك) څخه مراد د زړه مينه او ميلان دی(3).

د پورته د لائلو په رڼا کې فقهاو ويلي چې د ښځو ترمينځ په شپه تيرولو او نفقې ورکولو کې عدالت کول واجب دي([4]).

همدارنګه فقهاو ويلي، مېړه که له هرې يوې سره سفرکول وغواړي کولای شي خو د دوی ترمنځ قرعه اچول غوره دي،نورې ښځې به ددې موده په نوبت کې نه حسابوي د ښځوترمنځ عدل دهرې يوې حق دی که مېړه د ښځو عدل ونه کړي ښځې کولای شي دغه موضوع محکمې ته وړاندې کړي محکمه بايدمېړه په عدل کولو ملتزم کړي که چېرې يې له دې کاره سرغړونه وکړه په تعزيربه يې محکوموي البته د عدم عدل له کبله ښځه دبېلتون غوښتنه نه شي کولای([5]).

---

1 عبد الرحمن بن محمد عوض الجزيري (1424 هـ - 2003 م). الفقه على المذاهب الأربعة، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان. ج ۴/ ص ۲۱۳.

2 - سنن الترمذي، بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّسْوِيَةِ بَيْنَ الضَّرَائِرِ، ج3/ ص438) حديث شميره: 1140.

3 - تحفة الاحوذى (۴/ ۲۴۷).

4 - الموسوعة الفقهية الكويتية، ج۳۳/ ص ۱۸۴.

5 - مخکنی مرجع.

دایې هم ویلي: د ښځو ترمنځ مساوات په مادي چاروکې لازم دی،په قلبي محبت څوك نه نیول کیږي،ځکه چې قلبي مینه د سړي په واك کې نه وي الله جل جلاله فرمایلي دي((وَلَن تَسْتَطِيعُواْ أَن تَعْدِلُواْ بَيْنَ النِّسَاء وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلاَ تَمِيلُواْ كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ))(1).

ژباړه: د ښځو په مینځ کې په ټوله معنا عدالت ستاسې په وس کې نشته. که تاسې وغواړۍ هم نه یې شی کولای. له دې امله( د الهي قانون د هدف تر سره کولو له پاره دا کافي ده چې) دیوې ښځې لوري ته دومره میلان مه کوئ چې هاخوا هغه بله بې برخلیکه پریږدئ.

**څلورم مطلب: دښځو دعواطفو او احساساتو رعایت**

اسلامی شریعت خصوصاً نبوي احادیث نارینه و ته لارښوونه کوي چې د ښځو عاطفو او احساساتو ته پام وکړي، داسې کړنه یا خبره ونکړي چې د ښځې عاطفې یا احساس ته زیان رسیږي، چې په لاندې توګه یې څو روایتونه ګورو:

څرنګه چې اصل کې د ښځې احساس او عواطف له حیاء او شرم څخه ډك دي، د جماع یا نورو پټو رازونو په ښکاره کولو خجالتیږي او بده یې ګڼې نو ځکه مېړه ته په کار دي چې ښځې اسرار پټ وساتي،او هېڅا ته یې څرګند نه کړي ښځه باید د مېړه هغه اسرار چې په ښکاره کولو یې خفه کیږي افشاء نه کړي دغه اسرار د حیاء منافي وي که  هغه ته پرې جسماني اقتصادي اوسیاسي زیان ورسیږي یا د هغه حیثیت خرابیږي اوکه عزت النفس یې مجروح کیږي.

په دې توګه سړی هم  باید د خپلې ښځې رازونه افشاء نه کړي که هغه د جماع خبرې وې او یا نور رازونه وي ځکه الله جل جلاله فرمایلي دي:((هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ))(2).

ژباړه: هغوی ستاسې جامه او تاسې د هغو جامه یاست

---

1 النساء سورت ۱۲۹ ایت.

[2] -د البقرې سورت ۱۸۷ ایت.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: إِنَّ شَرَّ اَلنَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اَللَّهِ يَوْمَ اَلْقِيَامَةِ ;اَلرَّجُلُ يُفْضِي إِلَى اِمْرَأَتِهِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ , ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا) (1).

ژباړه: د قيامت په ورځ د مرتبې له پلوه تر ټولوشرناک خلک هغه څوک دي چې ښځه خپل خاوند او خاوندخپلې ښځې ته نږدې کېږي يعنې کورواله ورسره کوي او بيا د کوروالي دکيفيت کېسې نورو خلکو ته کوي.

امام نووي د حديث په شرحه کې ليکي:(فِي هَذَا الْحَدِيثِ تَحْرِيمُ إِفْشَاءِ الرَّجُلِ مَا يَجْرِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ مِنْ أُمُورِ الِاسْتِمْتَاعِ وَوَصْفِ تَفَاصِيلِ ذَلِكَ وَمَا يَجْرِي مِنَ الْمَرْأَةِ فِيهِ مِنْ قَوْلٍ أَوْ فِعْلٍ وَنَحْوِهِ فَأَمَّا مُجَرَّدُ ذِكْرِ الْجِمَاعِ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ فِيهِ فَائِدَةٌ وَلَا إِلَيْهِ حَاجَةٌ فَمَكْرُوهٌ لِأَنَّهُ خِلَافُ الْمُرُوءَةِ وَقَدْ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ وَإِنْ كَانَ إِلَيْهِ حَاجَةٌ أَوْ تَرَتَّبَ عَلَيْهِ فَائِدَةٌ بِأَنْ يُنْكِرَ عَلَيْهِ إِعْرَاضُهُ عَنْهَا أَوْ تَدَّعِي عَلَيْهِ الْعَجْزَ عَنِ الْجِمَاعِ أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ فَلَا كَرَاهَةَ فِي ذِكْرِهِ كَمَا قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَفْعَلُهُ أَنَا وَهَذِهِ وَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي طَلْحَةَ أَعْرَسْتُمُ اللَّيْلَةَ)(2).

يعنې:دا حديث په دې دليل دی چې سرې ته حرام دي چې هغه څه افشاء کړي کوم چې دده او دده د ښې‌ځې ترمينځ د جماع په حالت کې تېر شوي دي، که هغه دښځې خبرې وي، يا کړنې وي يا نور وي.

البته يواځې د جماع يادونه چې کومه فائده هم په کې نوي مکروه ده، ځکه دا د مردانگي خلاف کار دی، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي، څوک چې په الله او د اخرت په ورځ ايمان لري، يا د دخير خبرې کوي او کنه چپ دې کيني.خو که د يواځې جماع يادونې ته کومه اړتيا وه، ياکومه خبره ورپورې تړلې وه،مثلاً:خلکو ويلې چې دې سړي له ښځې انکار کړی، يا په جماع قادر نه دی، بيا د جماع يادونه کوم باک نه کوي. د رسول الله صلى الله عليه وسلم

1 -صحيح مسلم،كتاب النكاح، بَابُ تَحْرِيمِ إِفْشَاءِ سِرِّ الْمَرْأَةِ، ج2/ ص ١٠٦٠، حديث شميره: ١٤٣٧.

2 - شرح النووي على مسلم (10/ 8)

ځخه هم داسې کلمات نقل شوي لکه چې ویل یې(ما او دې داسې کار وکړ) یا یې ابوطلحه ته وویل:(تاسې د واده خواږه وڅکل) او نور.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ: أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَزْوَاجِهِ كُلَّ غَدَاةٍ فَيُسَلِّمُ عَلَيْهِنَّ فَكَانَتْ مِنْهُنَّ امْرَأَةٌ عِنْدَهَا عَسَلٌ فَكَانَ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهَا أَحْضَرَتْ لَهُ مِنْهُ شَيْئًا فَيَمْكُثُ عِنْدَهَا.(1).

ژباړه: له ام سلمه رضی الله عنها ځخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم به خپلو ښځو ته هر سهار ورتللو، دوی کې داسې ښځه وه چې هغې سره به شات وو، کله به چې ورغی، هغه ته به له دې شاتو څه راوخستل، نو دی به ورسره لږ ځنډ شو.

دې روایت ځخه ښکاري ځرنګه چې د ښځې طبیعت او خوی داسې دی چې د خاوند په ناسته پاسته او غږ کولو خوشالیږي، نو ځکه به رسول الله صلی الله علیه وسلم پر دوی سلام کاوه او که کومې ښځې به څه خوراکي توکي ورته راوخیستل ددې لپاره چې خوشاله شي، لږ به ورسره ځنډ شو.

طبیعي خبره ده چې کله ښځه میړه ته څه خوراک را واخلي او هغه یې ونه خوري نو د ښځې پرز احساساتو ناوړه اغیزه کوي، نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې د احساس ته درناوی درلود.

